د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې ګڼه کې:

- د بایزید روښان په «نصیحت نامه» چاپي اثر کې راغلو آیتونو ته کتنه
- د مفهومي استعارې او مفهومي ګډون توپیر
- په تاریخي ژبپوهنه کې قیاسي بدلون
- د ځینو پښتو متلونو د اخلاقي او ښوونیزو پیغامونو څېړنه
- د مومن خان او شیرینی تکل حماسي ځانګړنې
- د ژبې او توکمیز هویت ترمنځ تړاو

او نور...




- دري میاشتنی
- دریيمه دوره
- کال: ۱۴۰۴ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل ـ افغانستان

۱

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۴ لمریز کال، ۱ ګڼه


# Kabul

## Quarterly Journal


**Establishment: 1931**
**Research and Scientific Publication of**
**Afghanistan Science Academy**



Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

د ۱۴۰۳ ل کال درېیمه ـ څلورمه گڼه

**یادونه**

✓ مقا له دې له یوې رســـمي پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شویو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پو ښتل شوې پو ښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقا له با ید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښـــتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ ســایز ۱۳، د کرښــو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافټ او هارډ کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شویو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شویو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوال ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
**مسئول مدیر:** څېړندوی خالد تکل
**کتنپلاوی:**
څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي
څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکیب
څېړنوال دوکتور رفیع الله نیازی
څېړنپوه محمد آصف احمدزی
**چاپ ځای:** ستاره همت مطبعه. کابل ـ افغانستان
**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، توره باس خان واټ،
کابل، شهرنو، د شاه بوبو جان کوڅه
**د اړیکو شمېرې:**
۰۷۸۱٦٦٦٦٦۲- ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹
**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af
**د کلني ګډون بیې:**
په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ
په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ
په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر
په کابل کې د یوې ګڼې بیه:
- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | د بایزید روښان په «نصیحت‌نامه» چاپي اثر … | څېړنپوه محمد آصف احمدزی | ۱ |
| ۲ | د ((رحمان بابا فرهنګ)) د اثر کره کتنه | څېړنوال دوکتور محمد داود عربزی | ۱۰ |
| ۳ | د مفهومي استعارې او مفهومي ګډون توپير | پوهنوال اسدالله وحيدي | ۴۳ |
| ۴ | په تاريخي ژبپوهنه کې قياسي بدلون | څېړندوی محمد اتل انګار | ۵۵ |
| ۵ | پر «الفبای زبان پشه‌یی» اثر ژبنۍ کره کتنه | څېړندوی فريدالله فرحان | ٦٦ |
| ٦ | د ځينو پښتو متلونو د اخلاقي او ښوونيزو پېغامونو ځيرنه | څېړندوی خالد تکل | ۸۷ |
| ۷ | د مومن خان او شيرينۍ د نکل حماسي خصوصيات | څېړنوال دوکتور عبدالاحد منګل | ۹۸ |
| ۸ | په «يوه خبره درته وکم؟» ناول کې د وګړمنځي… | څېړنوال رحيم الله حريفال | ۱۱۵ |
| ۹ | ادبي کره کتنه او سياسي ايډيولوژي | پوهندوی ګل رحمن رحماني | ۱۳۵ |
| ۱۰ | د ژبې او توکميز هويت ترمنځ تړاو | عتيق الله حميدي | ۱٤۹ |

څېړنپوه محمد آصف احمدزی

# د بایزید روښان په «نصیحت‌نامه» چاپي اثر کې راغلو آیتونو ته کتنه

# نظرة في الآيات القرآنية الواردة في النسخة المطبوعة من "نصيحت‌نامه" لبايزيد روشان

**خلاصة**

تتناول هذه الدراسة كتاب نصيحة‌نامه المنسوب إلى بايزيد روشان، والذي تم العثور عليه مؤخرًا، وهو من الشخصيات البارزة في الطور الأول من المرحلة الثانية لتاريخ الأدب البشتوي. تستعرض في مستهلّها لمحة موجزة عن مؤلفات بايزيد، ثم تنتقل إلى تحليل محتوى هذا الأثر المكتشف، مع الوقوف على الآيات القرآنية التي يتضمّنها، وتقديم توضيحات بشأنها، فضلاً عن بيان الأخطاء الطباعية التي شابت النسخة المنشورة.

**لنډیز**

په دې مقاله کې د بایزید روښان چې د پښتو ادبیاتو تاریخ د دویمې دورې د لومړي پړاو بارز شخصیت دی، د یوه نوي موندل شوي کتاب (نصیحت‌نامې) معرفي راغلې،

د ده د آثارو تر لنډې پېژندنې وروسته د همدې موندل شوي اثر په منځپانګه کې د راغلو آیتونو په اړه وضاحت او په چاپي برخه کې راغلې تېروتنې ښودل شوې دي.

## سریزه

له یوې خوا د خوښۍ خبره دا وي چې د وخت په تېرېدو سره د پښتو ژبې پخوانۍ او له موږ نادرکه علمي زېرمه را برسېره کېږي، له بلې خوا داسې پوهان، د متن کره‌کتونکي او مستخرجین لرو چې همدا ډول زېرمې ټولنې ته د مطالعې او فرهنګي غنامندۍ لپاره استخراج او وړاندې کوي. په همدې لړ کې د دقیق څېړونکي ښاغلي استاد معصوم هوتک په لاس د پښتو ادبیاتو ځولۍ د یوه نوي اثر په موندلو او ټولنې ته په وړاندې کولو سره درنه شوې ده. دغه اثر «نصیحت‌نامه» نومېږي چې د لسمې هجري پېړۍ د مبارز شخصیت پیر روښان دی، خو دا چې هر علمي کار کله کله له ستونزو خالي نه وي، په دې مقاله کې هم د همدې اثر پر ځینو ستونزو بحث شوی او په نښه شوې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په دې وروستیو کې چې د «نصیحت‌نامې» په نوم اثر چاپ او خپور شوی دی، له بده‌مرغه په کې په راغلو څو آیتونو کې یې ستونزې موجودې دي، د دې لپاره چې هغه جوتې شوې وي، اړینه ده هغه روښانه او د بیا چاپ پر مهال ورته پاملرنه وشي او تصحیح شي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې په نصیحت نامه کې راغلي آیتونه روښانه شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- تر اوسه پورې د بایزید روښان کوم آثار موندل شوي دي؟
۲- د روښان د نوي موندل شوي اثر «نصیحت نامه» منځپانګه څه ده؟
۳- د «نصیحت نامه» اثر په کومو آیتونو کې ستونزې موجودې دي؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې له تشریحي او انتقادي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

بایزید روښان هغه څوک دی چې د پښتو ادبیاتو د دوهمې ادبي دورې پیلوونکی او په دې توګه ورته ځانګړي ځېرکي ښېل شوي دي، همدا ده چې د پښتو ادبیاتو تاریخ د هغه له یادونو پرته نیمګړی بلل کېږي. هغه د دې ترڅنګ چې د پښتنو لپاره یې سیاسي مبارزه کړې، قلم یې هم کارولی او په پښتو، پارسي، عربي او هندي ژبو یې آثار لیکلي چې تر اوسه موږ ته معلوم آثار یې دا دي: ۱- صراط التوحید، ۲- خیر البیان، ۳- مقصود المؤمنین، ۴- فخر الطالبین، ۵- پښتو رسم الخط، ٦- فرحت المجتبی، ۷- تذکره (روښاني رساله، د علم رساله)، ۸- حالنامه، ۹- مکتوبات، ۱۰- واجیدي شلوک، ۱۱- د روښان یو نومورکی تألیف، ۱۲- عریان الغیب او ۱۳- نصیحت‌نامه.

پر دې معلومو آثارو سربېره بایزید ښایي نور آثار هم ولري، لکه سیال کاکړ چې وایي: «نه پوهېږو چې بایزید روښان به په خپلو خوږمنو احساساتو څومره کتابونه ډک کړي وي. څرګنده ده چې دغه نومیالي لیکوال په یو داسې عصر کې سترګې روښې کړي چې نه خو یې چا توره زغملای شوای او نه یې چا د تألیفاتو توان راوړلای شوای. درویزه‌والو د روښان آثارو او پښتو ادب ته چې کوم تاوان رسولی دی، هغه موږ هېڅکله نه شو هېرولای. کتابونه وایي چې درویزه او د هغه ملګرو به د ستر بایزید تألیفات په اور کې سیځل».(کاکړ، ۱۳۵۵، ۳۵ مخ)

دا دی د وخت په تېرېدو سره، پورتنۍ خبره زباتیږي او د روښان بل اثر هم د پوهې ډګر ته راووت. دا اثر «نصیحت‌نامه» نومېږي چې د ښاغلي محمد معصوم هوتک په مقدمه، تحشیه او زیار په کندهار کې په ۱۴۰۲ل کال په ۴۰ مخونو کې چاپ شوی دی.

معصوم هوتک لیکي: د نصیحت‌نامې د موندلو خبر سباوون فضلي ورکړی، هغه د دې اثر پر نسخې په وېښپاڼو کې د خطي آثارو د لټون پر مهال په تصادفي توګه پېښ

شوی دی، بیا یې پر دې نسخه د کار لپاره دی (هوتک) مناسب بللی دی. دا نسخه چې (نصیحت‌نامه) نومیږي د اوو اتو رسالو په یوه داسې جونگ کې خوندي ده چې نه یې پر وقایه د راغونډوونکي نوم شته او نه یې د راغونډېدو نېټه. دا جونگ د (وقفية لامير غازي) په نامه د خطي آثارو په کلکسیون کې خوندي دی. د نسخې پر هر مخ باندې د (وقفية الامير غازي للفکر القرآني) ټاپه وهل شوې ده. امیر غازي (۱۹٦٦م تولد) اردنی شهزاده او د فلسفې پروفیسور دی(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۹ مخ). دا جونگ پنځه برخې لري چې پنځمه یې (وفات‌نامه حضرت رسول صلی الله علیه وسلم) ده، دا وفات‌نامه په نثر ده او ورپسې یې له یو څو مخونو وروسته «نصیحت‌نامه» پیلیږي(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۰ مخ). نصیحت‌نامه ټول څلور دېرش مخه ده، د سر په دولسو مخونو کې یې یوه بې‌نومه پارسي رساله‌گوټې ده، بیا د نقشبندیه طریقې له یوولس‌گونو اصولو څخه څو اصول شرحه شوي دي. د دې شرحې ژبه هم پارسي ده، ورپسې د (من نصایح حضرت خواجه احرار خواجه عبیدالله قدس الله روحه العزیز لمولانا محمد القاضي رحمة الله علیهما) تر عنوان لاندې په دولسو کرښو کې یو لړ نصیحتونه راغلي چې پای یې د بایزید انصاري نصیحت‌نامې ته رسېدلی دی(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۱ مخ). د نصیحت‌نامې دغه منحصر بفرد نسخه په ۲۱ مخونو کې لیکل شوې ده، له لومړي او وروستي مخ پرته یې هر مخ اوولس کرښې لري، د کاتب نوم او د لیکلو کال یې نشته(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۲ مخ).

د نسخې پیل له (در بیان رساله پیر کامل مکمل و مرید صادق بسم الله الرحمن الرحیم) سرلیک وروسته داسې دی: «نقلست که طالب طلب پیر کامل مکمل میکرد ناگاه کسی خبر داد او را که در فلانجا انسانی کاملی است پس آن طالب اختیار ملازمت آن بزرگ کرد و مشرف بصحبت آن بزرگ شد....»(انصاري، ۱۴۰۲ش، ۱۵ مخ)

او پای یې داسې دی: «تمت هذه الرسالة اللطیفة المسمی بنصیحت نامه شیخ المشایخ والاولیاء قطب العالم خواجه بایزید الانصاري رحمة الله علیه. و سلام علی من اتبع الهدی. والله اعلم بالصواب والسلام».(انصاري، ۱۴۰۲ش، ۳٦ مخ)

دا نسخه روښان پیر د پوښتنو او ځوابونو په شکل د یوه ډیالوګ په بڼه داسې لیکلې ده چې په کې بایزید د خپل بیان د مستند کولو لپاره قرآني آیات، نبوي احادیث، د مشایخو مقولې او پارسي نظمونه راوړي دي. دې نسخې ته په سر کې د «رساله پیر کامل مکمل و مرید صادق» نوم ورکول شوی دی خو په پای کې یې «نصیحت‌نامه» بللې ده(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۲، ۱۳ مخونه).

دا اثر چې په پارسي ژبه دی، څو ځایه په کې عربي متون هم راغلي، ښاغلي هوتک د دې اثر په پای کې د متن د مخ په ښوولو سره د آیتونو او احادیثو فهرست ترتیب کړی دی، خو په څو راغلیو آیتونو کې یې نواقص لیدل کېږي. دلته په دې موخه ورته کتنه کوو چې د الله تعالی د کلام حق ادا شوی وي او هم د دې اثر لوستونکي ورته متوجه وي.

د کتاب په لومړي مخ کې دا آیت راغلی: (وَتُوبُوا اِلَی اللّٰهِ جَمِیْعًا اَیُّهَ المُؤمِنُوْنَ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ اَی اَطْلِبُوا اللّٰهَ جَمِیْعًا). متصل یې د شمېرې په ښودلو سره په لمنلیک کې لیکل شوي: سورة النور. آیه ۳۱(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱۵ مخ)؛ په داسې حال کې چې تر (تُفْلِحُوْنَ) پورې د آیت برخه ده، خو وروستنی عبارت (اَی اَطْلِبُوا اللّٰهَ جَمِیْعًا)، قرآني نص نه دی.

بل ځای د څو آیتونو د ځینو برخو له راوړو وروسته راغلي: (و نیز گفته: الله لَمْ یَزِلُ وَ لَا یَزَالُ یَفْعَلُ اللهُ مَا یَشَاءُ وَیَحْکُمُ مَا یُرِیدُ). د دې عبارت په لمنلیک کې ښاغلي هوتک لیکلي: چنین به نظر میرسد که چند آیة بهم یکجا شده است. قسمت «الله یفعل ما یشاء» از (سورة آل عمران: آیة ۴۰) و قسمت « انا الله یحکم ما یرید» از (سورة المائده: آیة ۱)(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۱٦ مخ).

د پورتني عبارت په اړه دقیقه خبره دا ده چې د (لَمْ يَزِلُ) لفظ په ټول قرآن کریم کې نه دی راغلی خو د (لَا يَزَالُ) لفظ د سورت البقرة ۲۱۷، د سورت التوبة ۱۱۰، د سورت هود ۱۱۸، د سورت الرعد ۲۱ او د سورت الحج ۵۵ آیتونو کې راغلی دی. (يَفْعَلُ اللهُ مَا يَشَاءُ) یواځې یو ځل په قرآن کریم کې راغلی چې د سورت ابراهیم د ۲۷ آیت جزء دی. د سورت آل عمران په ۴۰ آیت کې (اللّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاء) راغلی چې له پورتني عربي عبارت سره فرق لري. همدارنگه (وَيَحْكُمُ مَا يُرِيدُ) د قرآن کریم د کوم آیت جزء نه دی؛ خو د المائدة سورت لومړنی آیت په دې عبارت سره راغلی دی: (إِنَّ اللّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ)؛ خو (اللّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ) د البقرة سورت ۲۵۳ آیت کې راغلی دی.

د اثر په ۱۷ مخ کې راغلي: (که خدای گفته است: وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ و تَعَلَّمَ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسه). په دې کې ستونزه د (تَعَلَّمَ) په کلمه کې ده، په قرآن کریم کې (نَعْلَمُ) دی، نه (تَعَلَّمَ).

بل ځای په ۲۳ مخ کې د سورة الاعراف په ۱۷۹ آیت کې د (لَا اَعْيُنٌ) کلمه اضافي راغلې ده. اصلي آیت دا دی: «وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَا أُوْلَـئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ»، خو په اثر کې د همدې آیت په منځ کې له (أَعْيُنٌ) څخه وروسته د (لا أَعْيُنٌ) کلمې اضافه راغلې دي.

په بل ځای کې یې راغلي: (بنگر که حق تعالی چه گفته است قال عزوجل: وجعلنا الشیخ الناقص خاسر الانسان کما جعلنا الشیطان الرحیم)(انصاري، ۱۴۰۲ل، ۲۶ مخ). په دې کې یوه ستونزه د (قال عزوجل) په عبارت کې ده، کله چې دا عبارت راځي، په دې معنا چې الله تعالی فرمایي، په داسې حال کې چې ورپسې متن آیت نه دی. دا نیمگړتیا د کتاب لیکوال ته راجع کېږي، خو مدون ته هم لازمه وه چې یادونه یې کړې وای؛ بله ستونزه د (الرحیم) په کلمه کې ده چې اصلاً (الرجیم) دی؛ رحیم د لوروونکي یا ډېر مهربانه معنا ښندي او رجیم د رټل شوي او شړل شوي معنا لري.

بل ځای راغلي: (چنانچه در قرآن حال هوا پرستان را ذکر کرده است: اَفْرَاَنَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلَهُ هَوَاهُ) او په لمنليک کې يې ليکل شوي: سورة الفرقان: آية ۴۳.(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۳۰ مخ) دلته ستونزه د (اَفْرَانَيْتَ) او (اِلَهُ) په کلمو کې ده. اصلاً دا آيت د الجاثية سورت په ۲۳ آيت کې داسې دی: (اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلَهَهُ هَوَاهُ) او د الفرقان سورت په ۴۳ ايت کې داسې دی: (اَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلَهَهُ هَوَاهُ).

د همدې اثر په ۳۱ مخ کې راغلي: (و مسجود ملائک گردانيد وگفت فَسَجَدَ المَلَئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اِلَّا اِبْلِيْسَ). دلته له (كُلُّهُمْ) ښخه وروسته د اثر په متن کې (اَ كُلُّهُمْ) بياځلي راغلی؛ بله دا چې په لمنليک کې يې ليکل شوي: سورة الحجر، آيه ۳۰(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۳۱ مخ)؛ په داسې حال کې چې دا متن د دوو آيتونو اړوند دی، يو د آيت پای او بل د آيت لومړی برخه ده، يعني د ۳۰ او ۳۱ آيتونو اړوند دي.

بل ځای د قرآن کريم د سورة البقرة دېرشم آيت په يوه برخه کې د (إني) پر ځای (آنی)(هوتک، ۱۴۰۲ل، ۳۳ مخ) راغلی دی.

د رسالې په پای کې د (فهرست آيات) تر عنوان لاندې چې د مدون له خوا ترتيب شوی، پورتني ټول موارد بيا هم ناسم راوړل شوي دي.

په اثر کې څو ځايه داسې راغلي چې (قال عزوجل) يا (قال الله تعالی) چې ورپسې متنونه يې قرآني آيتونه نه دي او د ښاغلي معصوم هوتک دې کور ودان وي چې په لمنليکونو کې يې ورته اشاره کړې چې: (اين عبارت کلام حق سبحانه وتعالی نمی باشد).

دا چې ما سره د بايزيد انصاري د (نصيحت‌نامه) اثر اصلي نسخه نشته، نو مې پورتني موارد د ښاغلي هوتک په زيار چاپ شوي اثر په استناد مطرح کړل، که اصلي نسخې ته مې لاسرسی لرلی، نو اصل ته په کتلو سره به مې پورتني موارد له چاپ شوي اثر سره پرتله کړي وای چې موضوع به لا ډېره روښانه شوې وای.

دلته بايد په ډاگه شي چې څو نورو پخوانيو ليکوالو او شاعرانو هم د «نصيحت‌نامه» په نوم آثار ليکلي چې يو په کې د ملا الف هوتک (د ۱۰۰۰ کال په حدودو کې

ژوندی) د «نصیحت‌نامه» په نوم اثر دی چې د رباعي په ډول يې ويلی دی(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۹۸ مخ) بل د عبدالقادر خان خټک (په ۱۰٦۳هـ. ق کال زوکړی) «نصیحت‌نامه» اثر دی چې په تجنيس يو خوږ او سليس مثنوي دی او ټول د تجنيس په صنعت ويل شوی دی(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۱۴۴ مخ).

## پایله او وړاندیز

له‌بده‌مرغه زموږ په اکثريت کتابونو کې املايي او انشايي ستونزې وي، خو هغه کتابونه چې د قرآن کريم آيتونه او نبوي احاديث په کې راغلي، په هغو کې خاصتاً په آيتونو کې غلطي کول او يا ورته پوره توجه نه کول، د منلو نه دي.

د بايزيد روښان په «نصيحت‌نامه» کې د لمنليکونو په حواله (۳۷» ځايه د قرآن کريم آيتونه راغلي، چې په کې په کابو شپږو مواردو کې يې املايي ستونزې شته، خو په اثر کې ډېر موارد په لمنليکونو کې د ښاغلي هوتک له خوا تصحيح او ورته اشارې شوې دي.

د دې اثر له خپروونکي څخه هيله کېږي چې د پورتنيو ستونزو تر هواري وروسته دې اثر بيا چاپ او خپور کړي، دا به په همدې اثر کې د الهي کلام د حق ادا‌ينه او په خپل فرهنګ لوريينه وي.

## مأخذونه


۱- قرآن کريم.

۲- بايزيد انصاري. (۱۴۰۲ش)، نصيحت نامه. مقدمه، ترتيب و تحشيه: محمد معصوم هوتک، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، کندهار.

۳- حبيبي، عبدالحی؛ رښتين، صديق الله؛ رشاد، عبدالشکور؛ بختانی، عبدالله. (۱۳۹۱ل)، پښتانه شعراء (بشپړ متن)، ترتيب، تصحيح او زياتونې: مطيع الله روهيال، کندهار.

۴- کاکړ، سيال. (۱۳۵۵ش)، «ملي مبارز»، د روښان ياد، د حبيب الله رفيع په زيار او اهتمام، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه: کابل.

۵- هوتک، محمد معصـوم. (۱۴۰۲ل)، سریزه، نصـیحت‌نامه د بایزید انصـاري، مقدمه، ترتیب او تحشیه: محمد معصوم هوتک، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار.

څېړنوال دوکتور محمد داود عربزی

# د ((رحمان بابا فرهنګ)) د اثر کره کتنه

# A Critical Review of the Work "De "Rahman Baba Farhang

Asistant Prof. phd. Mohammad Dawod Arabzai

**Abstract**

This article examines various aspects of a new work (De Rahman Baba Farhang) and aims to correct the texts. In this regard, several aspects have been considered.

In this work, specific words used or not used in the Pashto language have not been properly defined. In my opinion, it is essential to understand how much vocabulary we have stored in our ancient and classical texts and to what extent our needs are.

The meanings of many difficult words in the poetry of Rahman Baba and examples of the poems have not been provided. To enrich this work, it has been shown through several examples that with reprinting, this work can become more enriched and more examples can be added.

Some words that have been inaccurately quoted in the text have been provided with examples for correction.

Additionally, at the end, attention has been given to the semantic aspects of mystical vocabulary in the poetry of Rahman Baba, along with some suggestions. To date, no critique has been conducted on this work.

## لنډيز

دا مقاله د يوه نوي چاپ اثر (د رحمان بابا فرهنګ) په ځينو اړخونو بياکتنه او د متونو کره کولو په موخه ليکل شوې ده، چې په دې برخه کې لاندې څو لوريو ته کتنه شوې ده.

✓ په فرهنګ کې د پښتو نګه او کارېدونکي او يا هم نه کارېدونکي لغات نه دي معنا شوي، زما په فکر دا اړينه ده، چې په دې پوه شو چې موږ په خپلو لرغونو او کلاسيکو متونو کې څومره ويي زېرمه لرو او اړتيا تر کومه بريده ده.

✓ په اثر کې د رحمان بابا په اشعارو کې د زياتو ستونزمنو لغتونو معنا او د اشعارو بېلګې نه دي راوړل شوي. د فرهنګ د بډاينې لپاره د يو شمېر بېلګو په راوړلو سره هيله ښودل شوې ده چې په بيا چاپ کېدو سره دې دا اثر لا بډای او راوړې بېلګې ور زياتې شي.

✓ ځينې هغه لغتونه چې په متن کې يو ډول او په اثر کې په تېروتنې سره را نقل شوي، د سمولو لپاره يې بېلګې راوړل شوي او هم په پای کې د رحمان بابا په اشعارو کې د عرفاني وييپانګې مانيز اړخ ته کتنه شوې، چې ترڅنګ يې وړانديزونه هم دي.

پر دې اثر تر دې دمه نقد نه دی شوی.

## سريزه

څه مهال دمخه د خپل درانه استاد، منلي ليکوال او اديب څېړندوی محمد آصف صميم په يوه نوي اثر (د رحمان بابا فرهنګ) ورپېښ شوم، چې ډېر ورته خوښ شوم او په ډېره لېوالتيا مې ولوست. رحمان بابا او په ځانګړي ډول د هغه اشعار په پښتني ولس کې تر بل هر شاعر او ويناوال ډېر شهرت او مقبوليت لري، ځکه خو يې د هر

پښتانه په خوله خامخا د شعر یوه نمونه شته. رحمان بابا د خپل عرفاني شعر په برکت په پښتني ټولنه کې نه هېرېدونکی او نه ورکېدونکی شخصیت دی، په همدې لحاظ ما هم د رحمان بابا له شعر سره د لېوالتیا له امله هڅه وکړه چې د استاد لیکلی فرهنګ د ځینو شعرونو د پوهېدا په غرض، د هغه د یوه شاګرد په توګه د زده کړې لپاره وګورم ، ومې لوست او ډېر څه مې ترې واخیستل، نو خپل درانه استاد ته په ټول درنښت وایم چې د نوموړي ادبي هڅې په درنو کاڼو تلم او د هرې لیکلې کرښې درناوی یې کوم، خو زما په فکر په دې فرهنګ کې یو لړ ستونزې موجودې دي، په همدې بنسټ اړ شوم چې په پاڼو یې څه ولیکم او هغه څه چې زما د نیمګړې مطالعې پایله ده، د فرهنګ د لا ښداینې په خاطر یې شریک کړم.

په دې مقاله کې د اثر ځینو برخو ته کتنه شوې او ځینې یې له دې امله پاتې شوې، چې موضوع ډېره پراخېدله، اړتیا لیدل کېږي چې اثر د بل ځل چاپ پرمهال بیا وکتل شي او د رحمان بابا د شعرونو ټول شته لغات په کې ځای شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په دا ډول کره کتنو به موږ د خپلې ادبي ژبې نیمګړتیاوې راکمې کړو او هم به زاړه متون کره شي، له دې پرته په راتلونکي کې د دا ډول چارو ترسره کوونکي به په دې وپوهېږي چې د یوه هنري اثر فرهنګ په کوم ډول لیکل کېږي او کومې اړتیاوې په کې د کومو اصولو له مخې بشپړې شي. همدارنګه د رحمان بابا په اشعارو کې د راغلې وییپانګې بیاکتنه او دقت به وشي، کومې تېروتنې چې په فرهنګونو کې را منځته شوي وي، باید چې د سمونې هڅه یې وشي، ځکه چې دا ډول ارزښتمن فرهنګونه عامو خلکو ته په لاس ورځي او په دې توګه ولسي وګړي د تېروتنو ښکار کېږي.

## د څېړنې موخه

د دې مقالې د لیکلو موخه دا ده چې د رحمان بابا د فرهنګ په ښداینه کې رغنده مرسته وشي او هم لیکوال د کار بشپړتیا ته وهڅول شي. بل لور ته به خپل زاړه متون

لا وشاربل شي او دقیقه سپړنه به یې وشي، چې دا کار د یوې ژبې په پرمختیایي بهیر کې اړین بریښي.

## د څېړنې پوښتنې

۱.

۲.

۳.

## د څېړنې میتود

د دې مقالې د څېړنې میتود تشریحي، توضیحي ـ انتقادي او مقایسوي دی، چې د پښتو له لرغونو او کلاسیکو متونو نه استفاده په کې شوې او په پرتلیز ډول له چاپي دیوانونو او کلیاتو سره کتل شوي دي.

## د مقالې متن

دا اثر چې په کوم پېر کې لیکل شوی، له هماغه وخت سره بلکې تر هغه وخت ادبي هڅو زیات د قدر وړ دی، دروند استاد محمد آصف صمیم په خپله سریزه کې د رحمان بابا په شخصیت او ارزښت او هم د ده د شعر په پایښت ډېر ښه او د پام وړ یادښتونه لیکلي او هم یې د دې فرهنګ د لیکلو کال او د خپل کار د وخت او ستونزو یادونه کړې، چې دا موږ ته د هغه وخت د کمو امکاناتو تصور را کوي.
د رحمان بابا فرهنګ په ۱۳۶۵ل کال کې لیکل شوی او د هماغه مهال له دیوانونو او کلیاتو نه په کې استفاده شوې ده، چې له ډېر وخته د استاد همدې ارزو ته یې د چاپ لارې ځارلې، چې ګوندې بیا به یې په دقت وګوري او د اړتیا وړ نور مرستندویه او هم د رحمان بابا ځینې پاتې لغات به په کې ور زیات کړي. د استاد د همدې هیلې په پار اړ شوم چې خپلې مشورې او هغه څه چې د فرهنګ په بڼاینه کې ګټور دي او زما په ذهن کې دي، د بیا ځلي چاپ په موخه شریک کړم.

دا فرهنگ د ۱۴۰۳ل کال په بهیر کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په مالي او د بیهقي کتاب خپرولو ریاست په تخنیکي مرسته په ۲۹٦مخونو او وزیري کچه کې، د پنځه سوه ټوکو په شمېر خپور شوی دی.

زما په فکر که په دې فرهنگ کې د یو لړ پاتې مشکلو او هم د پښتو نګه لغاتو معناوې او سپړنې هم شوې وای، نو ډېره به ښه وه، په همدې خاطر ما دلته په فرهنگ کې د یو لړ تېروتنو او هم د ځینو پاتې لغاتو یادونه کړې. په دې کره کتنه کې د رحمان بابا د مهال شاعرانو او هم په لرغونې دوره کې د شاعرانو شعرونو ته نغوته شوې. دلته به راته د خپلې مقالې په نورو برخو لیکل ښه نه وي ځکه چې فرهنگ ته په کتو مې ټولې ښېگڼې او ستونزې په خپل خپل ځای یادې کړې دي.

یوه یادونه اړینه بولم، چې زما په اند د رحمان بابا په فرهنگ کې د نورو معاصرو شاعرانو د شعرونو په بېلگو راوړ سره لیکوال ځان ته لوی کړاو جوړ کړی او زما په نظر دلته یې ډېره اړتیا نه وه، ځکه چې دا یوازې د رحمان بابا د دیوان فرهنگ دی، نه د نورو شاعرانو د دیوانونو او کلیاتو، په هر ډول لیکوال په دې برخه کې لوی کړاو گاللی او د ډېر درناوي وړ یې بولم. همدارنگه تر د رحمان بابا له مهال شاعرانو به دا غوره وه چې موږ د رحمان بابا د اشعارو د ویپپانگې پلټنه تر ټولو لومړی په لرغونو متونو کې کړې وای، ځکه چې دلته به موږ ته دا هم څرگنده شوې وای، چې زموږ د پټې خزانې دغه شاعر د خپلې لرغونې ویپپانگې څومره ساتنه او پالنه کړې ده، د رحمان بابا په شاعرۍ کې څومره زاړه لغات او اصطلاحات خوندي دي. په هر ډول بیا هم په دې فرهنگ کې د رحمان بابا د اشعارو ډېره ستونزمنه ویپپانگه معنا او خوندي شوې ده، چې ما یې هم په ځینو برخو رغنیزه (اصلاحي) کتنه کړې ده.

## د فرهنګ ویيپانګې ته کتنه

په دې برخه کې هغه پانګه تر کتنې لاندې ده چې په فرهنګ راوړل شوې او تېروتنې یا د سمون غوښتنه يې شوې، همدا ډول په دې برخه کې د يو لړ بيتونو د زياتولو په موخه هم ښودنه شوې، چې ډېره برخه يې په لرغونو متونو ټينګار دی.

**۱. آبادان:** د فرهنګ په لومړي مخ کې د آبادان ويي سره مخامخ کېږو. دا لغت د سکندر خان په شعر کې هم آبادان راغلی، خو په فرهنګ کې يې ابادن را اخيستی، که (ديوان سکندرخان د کامل مومند په مقدمه ۳۲٦مخ) ته د دويم ځل لپاره د سمونې په موخه سر ورښکاره شي نو ښه به وي، سکندر خان وايي:

پــه طلب بــه د دنــيا صــورت لتاړ کــړې
کور به نه کړې آبادان، دين به اوجاړ کړې
(سکندر خان، ۱۹٦۲، ۳۲٦م)

دا لغت د رحمان بابا په يو بل شعر کې آباداني هم راغلی، چې په فرهنګ کې آباداني نه دی ثبت شوی:

که هــزار آباداني کړم په جهان کې
غرض دا چې نهايت خانه خراب يم
(رحمان بابا، ۱۳۵٦ل، ۱۰۱م)

**۲. آبِ حيوان**

ځنکندن کـه هر څو تلخ و تريخ وايه شي
سـتا د لـبـو په مـدد آبِ حـيـوان دی (رحمان بابا)
(صميم، ۱۴۰۳، ۱مخ)

په دې مرکبه کلمه کې د رحمان بابا د شعر بېلګه، ورسره د حميد مومند بيت راوړل شوی، چې هلته مطلق ترکيب نه دی راغلی بلکې (اوبه د حيوان) راغلي، زما په فکر د مطلق ثبوت لپاره خپله د رحمان بابا بيت او په ورپسې د کاظم خان شيدا او صدر

خان خټک بېلګې چې کټ مټ (آبِ حیوان) په کې راغلي، بسینه کوي نو ښه به دا وی چې د حمید مومند بېلګه ورسره نه وی راوړل شوی. بل لور ته که وګورو (ابِ حیوان او د حیوان اوبه) د یو بل ژباړه ده، خو که بیا هم دا دواړه سره سم وي نو په دې ډول د خوشحال خان خټک هم یو بیت شته، چې (د حیوان د اوبو) په ډول راوړل شوی دی، نو ښه به وي چې د خوشحال خان دغه بیت هم ورسره راوړل شي.

ارزو بــه د حــیـوان د اوبـــو نـــــه کا

عاشقان دي چې د خولې په میو سېر وي

(خوشال خان، ۱۳۸۴، ۲۹۰م)

**۳. اژدها:** په دې لغت کې یوازې د رحمان بابا د بیت بېلګه راوړل شوې، موږ یې د خوشحال خټک په شاعرۍ کې نږدې پنځه بېلګې لرو، د واصل روښاني او اکبر اورکزي په شاعرۍ کې یې هم د (اژدر) په ډول مومندلی شو.

چې نادان وکا دا ورانه

هســې نــه کا اژدهــا

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ۵۰م)

که دستا په نیت کې کاهې بدي نشته

زه خو وایم چې په مخ کې اژدهار دی (سید کمال)

**۴. باګرام (بګرام):** د منځنۍ دورې په متونو کې د پېښور او خواوشا سیمو لپاره ویل کېده.په دې ویي کې د رحمان بابا یوه بېلګه را اخیستل شوې ده، د خوشحال په اشعارو کې د بګرام په بڼه څلور ځایه راغلی چې زه یې دلته یوه بېلګه راوړم. که چېرې دلیل د لغت مطلق والي وي، نو په (آب حیوان) کې هم د حمید مومند بېلګه مطلقه نه ده، نو دا دې هم په لړ توپیر (بګرام) سره ور زیاته شي. سره له دې چې استاد په سریزه کې ویلي، چې ځینې ځایونو کې یوازې یو بیت راوړل شوی، خو زما په اند که چېرې د نورو شاعرانو په شعرونو کې یې بېلګې وي او راوړل شي نو د لغت بډاینه به وشي.

د کوهاټ په عالم واړه عالم ډک شو
د بنګښو کـــــډه لاړه تـــر بګرام
(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ۱٦م)

**۵. ترهېدل:**

ولــې تللی يې له ما مـــــدام په څه
ترهېدلی يې هر صبح و شام په څه
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۱۳۸م)

تر پورته بيت لاندې د خوشحال خان خټک، حميد مومند او ميا شمس الدين بيتونه راوړل شوي دي، خو پټه خزانه چې د لرغونو متونو لومړنی لاسوند دی، هغه ته پام نه دی شوی، د بابا هوتک په نارو کې لولو چې:

مـيـرڅي ځغلي او تــرهــېـږي
پر کلي کور باندې مغل راغی (بابا هوتک)
(لودين، بې تا، ٦۰م)

**٦. پلورل:**

واړه غم دی که يې پېرې که يې پلورې
نـــور څــه نشته پـــه بازار د دې دنـيـا
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۵۲م)

دا لغت د رحمان بابا په شعرونو کې تر لسو ځلو د (پلور، وپلوري، پلورل) په ډولونو کارېدلی او په فرهنګ کې هم د ځانګړي لغت په ډول راوړل شوی او د پخوانو شاعرانو (حميد، هجري او احمدشاه بابا) بيتونه هم ورسره راوړل شوي، خو موږ يې تر دې شاعرانو هم په لرغونو متونو، د پټې خزانې په پاڼو کې موندلی شو، د شېخ متي د شعر په يو بيت کې لولو:

رپ يــې و تــاتــه ســتا پــر لـــور دی
بې له دې هېڅ دی، ورک يې پلور دی (شېخ متي)

(لودین، بې تا، ۴۹م)

همدا ډول د (پېرودل) لغت چې په فرهنګ کې د ځانګړي لغت په بڼه شته. میرزاخان هم په دې اړه یو بیت لري.

هر ګدای چې همنشین شي له مسکینه
پـــه شړي به یې ګرو را پېرود له اطلسه

(میرزاخان، ۱۳۵۴ل، ۱۵۱م)

**۷. داد:** تر دې لغت لاندې، د فرهنګ په ۱۱۰مخ کې د رحمان بابا بیت پسې د خوشحال خان د بیت وروستی نیم بیتی راخیستل شوی، خو لومړی نیم بیتی یې نه دی را وړل شوی، په دې هیله چې د سمون لپاره ورته پام وشي. بشپړ بیت په لاندې ډول دی:

چرته ځم، په چا فریاد کړم
څـوک به داد زما د دل کا

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ۳۲۸م)

۸. دراج (دُراج): د فرهنګ په ۱۱۱مخ کې تر دې لغت لاندې ، چې د رحمان بابا په نوم کوم بیت را اخیستل شوی، دا د خوشحال خان ختک دی، چې په څو ځل د رحمان بابا په دیوانونو کې خپور شوی دی، د بېنوا صیب په چاپي نسخه کې، د پښتو ټولنې د ۱۳۵٦ل کال په چاپ نسخه کې او په دې وروستیو کې د څېړنپوه سید محی الدین هاشمي په چاپ بڼه کې د خوشحال بابا دوو غزلونه د رحمان بابا په دیوان کې چاپ شوي دي.

له بل پلوه په فرهنګ (دراج) د (تاراج) په بڼه را اخیستل شوی، چې ناسم دی، په دې هیله چې د (دُراج) لغت په اړه د رحمان بابا بیت وموندل شي او ور زیات شي، په همدې لغت کې د نجیب بیت ناسم را اخیستل شوی چې هېڅ په کې د دې لغت څرک نه دی څرګند، دبیت په وروستي نیم بیتي کې (درا) که په (دراج) ولیکل شي، نو ښه به وي.

جدايي د ما په زړه کا هسې چارې

لکه باز يې په تارو يا په دراج کا

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ۳۱۰م)

**۹. دښن:** يو لرغونی لغت دی چې د رحمان بابا په فرهنګ کې هم راوړل شوی دی، خو تر نورو راوړو متونو دمخه په پټه خزانه کې هم شته، د نصر لودي په پاړکي او د امير کروړ په وياړنه کې د دښنه ويی راغلی دی، چې د متن په لرغونوالي د يادو شاعرانو متون د ارزښت وړ دي. که په راتلونکي کې دې اصل ته پام وشي نو غوره به وي.

زما دښنه هسې تورا کړي

که ملحد يم، د دښنه يم (نصر لودي)

پر مرو زما غشي لوني ډاري دښن راځخه

د هريوا لرود پر څنډو ځم، تښتي پلن راځخه

رپي زړن راځخه (امير کروړ)

(لودين، بې تا، ٦٢ـ ٧٨م)

۱۰. رتبه: په دې ويي کې د اشرف خان هجري بيت بشپړ نه دی، ورپسې نيم بيتی دې زيات شي. په ورپسې مخکې د (رجا) تر لغت لاندې د هجري بيت دې (مکر) په (مګر) واړول شي او هم دې (رخ) تر (رخت) دمخه شي، د حرف تسلسل به يې سم شي.

۱۱. رېبدل: په فرهنګ کې چې د رحمان بابا کوم بيت را اخيستل شوی، رېبدل په کې راوړل شوی، چې ماته په دې بڼه سم نه برېښي، دا لغت د رحمان بابا د علومو اکاډمۍ په چاپي بڼه کې د (رېبي) په ډول راوړل شوی او هم په وروستيو څو قلمي نسخو کې په همدې بڼه دی، نو که د سمون په نيت (رېبدل) د (رېبي) په بڼه وليکل شي، ډېر به ښه شي، ځکه چې اصلي فعل (رېبل) دی. همدا لغت د خوشحال خان او ميرزاخان په اشعارو کې د (رېبه، رېبي، رېبل، ورېبي، رېبم) په ډولونو هم شته.

هر هر فصل چې ترې رېبي هوسېږي
چې به ګانده راته بل فصل تیار شي
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۲۳۱م)

چې يې رېبم عمل لا کا، چې يې ورک کړم ځان پيدا کا
ورځ و شپه دا هسې کـــــر کړم، خـو هسې وي که نه
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۲۰۱م)

د ريا کـــــرل رېبل کا
تمنا يې تېره داس دی
(ميرزاخان، ۱۳۵۴، ۲۰۴م)

**۱۲. زبون:** دا ويی د رحمان بابا د فرهنګ په پاڼو کې شته، خو لکه څنګه چې نورو لغاتو لپاره د پټې خزانې متونو ته پام نه دی شوی، دلته هم همداسې ده، زبون د شېخ بوستان برېڅ په شعر کې راغلی دی.

خود به ويلېږم، چې مې زړه په تا مفتون کا
ځـــان مـــې زبـــون کـا (شېخ بوستان برېڅ)
(لودين، بې تا، ۸۴م)

همدا ډول که د (زمول) په ويي کې هم له پټې خزانې نه د شېخ اسعد سوري د شعر بېلګه راوړل شي نو ښه به وي:

د فلک له چـارو څـــه وکـــړم کـوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار (شېخ اسعد سوري)
(لودين، بې تا، ۸٦م)

همدا رنګه د (زېرمه) ويی په فرهنګ کې راوړل شوی، ورسره د نورو کلاسيکو شاعرانو شعرونه هم راخيستل شوي، خو د پټې خزانې له زړو متونو د ښکارندوی غوري له قصيدې نه بېلګه نه ده راوړل شوې. له دې پرته (زېرمه) د واصل روښاني په کليات، د دولت لواڼي او نجيب په ديوانونو کې هم راغلی.

ستا په زړمه دې خاونده لوی څښتن وي

مـوږ خــو ستا په مرسته یونه، ځو چې یونه (ښکارندوی غوري)

(هوتک، ۱۳۳۹، ۵۸م)

همدا ډول د (ژواک) لغت که وکتل شي نو په فرهنګ کې شته، خو په پټه خزانه کې د دوست محمدخان کاکړ د شعر بېلګه نه ده راخیستل شوې او هم د حمید مومند بیت که را واخیستل شي نو ښه به وي.

نـه یې خوب، نه یې خوراک و

عـبادت یــې ژونــد و ژواک و (دوست محمد کاکړ)

(لودین، بې تا، ۹۱م)

حـمـیـد وژغــوري ځان څـرنــګ لــه خــوبـانــو

چې یې خدای په دوی موقوف کړ، مرګ و ژواک

(حمید، ۱۳۸۲، ۱۲٦م)

په (سالو) لغت کې هم همدا مسأله ده، که له پټې خزانې نه د ښکارندوی غوري له بوللې نه بېلګه را واخیستل شي نو بده به نه وي:

په هر کال اټک د ده ښه راغلی کاندي

غــوړوي پــه خـنډو خپل پاسته سالونه (ښکارندوی غوري)

(هوتک، ۱۳۳۹، ٥٦م)

۱۳. ششدر: د رحمان بابا په شعر کې د ششدر لغت هم راغلی، چې په فرهنګ کې (د شطرنج سیال، د ټپ درول، اریان، پرېشان) معنا شوی، خو د رحمان بابا په شاعرۍ کې د سرګردانه، لالهانده او حیران په مجازي معنا راوړل شوی، خوشحال بابا هم (ششدر) ته نغوته کوي، خو په شطرنج کې ششدر نه وي، له ششدر نه موخه د لډو شپږ کورګي دي، چې لوبغاړی په مُهره تر توړ کولو وروسته ور دننه کېږي. خو په فرهنګ کې چې د شطرنج یا شترنج سیال په معنا راوړل شوې. د فرهنګ عمید په ۷۸۸مخ کې، شترنج یا شترنګ(سانسکریټ کلمه ده) چې د څلور کورګیو یا څلور

گونو لوبغاړو په معنا هم ده او په شترنج کې ششدر نه وي بلکې هلته هشت مُهره وي (دوه پیاده، دوه فیل، دوه آسونه، یو وزیر او یو پاچا وي) چې ټول اته مهره کېږي، خو په لډو (نرد) کې ششدر هغه ته ویل کېږي چې د شپږ کورګیو د لوبغاړو د مهرو مخه نیول شوي وي))  (عمید، ۱۳۸۲، ۷۸۸ ـ ۷۹۴م)

په دې معنا چې(د توږ نه کولو په حالت کې د ګونټې مخه نیول شوې وي او اجازه نه لري چې ششدر وکړي.

ارمانــونــه بـــه کـــوي زار زار بـــه ژاړي
چې حاصله ګونټه نه کا په ششدر ځوک
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۸۵م)

نور څه نه که یې یو خال په نظر کېښوځي
د خـــــوشحال مُهره به ووځي له ششدره
(خوشحال خان، ۱۳٦۳، ۱۳م)

**۱۴. فېرنګ:** د فرهنګ په ۱۹۸مخ کې د دې کلمې بیتونه راوړل شوي، خو خپله اصل لغت نه دی راوړل شوی، هیله ده چې پام ورته وشي.

**۱۵. کـوی:** د فرهنګ په ۲۱۵مخ کې د (کویKoy) لغت په برخه کې د اشرف خان هجري، حمید مومند او میسري خان ګګیاڼي بېلګې هم راوړل شوي، که په راتلونکي چاپ کې د دې لغت لاندې د خوشحال خان بېلګه هم زیاته شي نو ښه ده.

ستا په کوی لکه پروت یم پروت به اوسم
عهد، قـــول مـې هم دا دی تر مماته
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۵٦۵م)

**۱٦. ګانده:** تر دې لغت لاندې د خوشحال خان خټک، اشرف خان هجري او کریمداد د شعرونو بېلګې شته، په دغه برخه کې موږ د میرزا خان انصاري یوه بېلګه هم لرو.

د حضور زمان له ذوقه خبر نه شوې

تل د ګانده په غم لیلی ای انجانه

(میرزاخان، ۱۳۵۴، ۱۹۳م)

**۱۷. ګونټه:** په دې فرهنګ کې د ګونټه لغت د (ګ) په ردیف کې د (کونټه) په ډول راوړل شوی، ګونټه، چې په ځینو لهجو کې ورته ګیټه، ګیټکی یا مُهره هم وایي، هغه دانه یا ګونټه چې په لډو (لاډو) کې پرې لوبه مخته وړل کېږي. دا لغت د رحمان بابا په شعر کې د (ګونټه) په ډول راغلی دی.

**۱۸. لرغونی:** دا ویی په فرهنګ کې له یادو شاعرانو پرته د نورو لکه: نصر لودي، خوشحال خان او میرزاخان انصاري په اشعار کې هم شته.

لرغون ولې ګروهېدلی

چې دې ګوشی اړاوه

(هوتک، ۱۳۳۹، ۷۰م)

ګروه مې هغه لرغونی دی

اوس هم کروړ په لرغونه یم

(هوتک، ۱۳۳۹، ۷۲مخ)

اړ چې لرغونی شي

پرې کوي د کولمې سر

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۵۲٦م)

اوس مې بیا په دا خراب خاطر شو نوی

د اشنا د لرغونیو داغو سکوی

(میرزاخان، ۱۳۵۴، ۲۴۰م)

**۱۹. حوره:** تر دې لغت لاندې د رحمان بابا بیت تېروتنه لري، په اصل متن کې (په نسیاؤ نظر نه کاندي بې نقده) دی، خو په فرهنګ کې لولو:

په سنیاوو نظر نه کاندي بې نقده

که څوک حورې ورته ستایي یا بُراق

(صمیم، ۱۴۰۳، ۹۴م)

**۲۰. نومړ یا نومړی:** په دې اړه د خوشحال خټک یو بیت هم شته.

بیا په کوم توکي دا هسې بې قولي کړې

تا و مــاتــه سپینه خــولــه نه ده نومړې

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۱۷٦م)

**۲۱. هنګام:** په فرهنګ کې ور سره د حمید مومند، کاظم خان شیدا او حسین د بیتونو بېلګې را اخیستل شوي،خوشحال خان هم په یوه بیت کې وایي:

مـــــرګ د رقیـبانو بـــل ژونـــدون د حبیبانو

خدای ړو په هنګام د وصل کېږي دا دوه کاره

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۳۳م)

**له فرهنګ نه پاتې ویيپانګه**

په دې برخه کې د بېلګې په ډول هغه لغات راوړل شوي، چې د رحمان بابا په شعر کې شته، خو په فرهنګ کې له پامه غورزېدلي دي، که څه هم دا برخه لوی کار ته اړتیا لري، خو ما یې یو څه بېلګې راوړې دي او د نورو بېلګو د پلټنو غوښتنه مې کړې ده، په دې برخه کې زما نظر دا دی چې موږ د فرهنګ لیکنې د اصولو له مخې د یو ټاکلي متن ټوله ویيپانګه (که ستونزمنه او یا ساده وي)، باید په فرهنګ کې د رحمان بابا د دیوان ټوله ژبه څرګنده کړو او تر ټولو لومړی یې په لرغونو متونو کې وپلټو او بیا یې د معاصرو شاعرانو په دیوانونو کې هم بیاموندو.

**۱. تېغ :** د رحمان بابا په شعر کې څو ځایه راغلی او د فرهنګ په (اجل، اوسپرینه، برید، بلوسبدل، پهلو، ټبر او حلم) کې یې بېلګې هم شته، همدارنګه د حمید مومند، صدر خان خټک، حسین، بېدل او نجیب سربندي په شعرونو کې راغلی او له دې

پرته د خوشحال خان خټک او میرزا خان انصاري په شعرونو کې هم راغلی، خو په فرهنګ کې د ځانګړي لغت په توګه نه دی ثبت شوی.

تېغ د معشوقو دی په ګردن د عاشق اېښی
هسې رنګه زېب کــه لکه مـی پــه پیمانه
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۱۷۲م)

د ده تــېــغ لــکه اوبـــه و
د دین کښت زرغون په ده و
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۵۹۰م)

دا د فـقـر جـامـه سکښتـیي پـــه فـقـیـر ده
چې تمام بدن سر و تېغ ته چنددی لکه شمعه
(میرزا خان، ۱۳۵۴، ۱٦۰م)

**۲. پت:** دا ویی د رحمان بابا په شعر کې شته، همدا ډول د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم په پراخه ډول پیدا کېږي، خو په فرهنګ کې د ځانګړي لغت په توګه نه دی راوړل شوی.

د اشنا د مینې پت بـــه رامات نه شي
که مې سر له تنې درومي په دا پت کې
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۲۴۷م)

هزار حیف دی، هزار حیف بې مهره یاره!
ستا په دا ننګ و نامــوس په دا پـتـونــه
(حمید، ۱۳۸۳، ۲۵۳م)

که هندو که مسلمان د پت په کار کې
چې مــــې ولید د هېچا نـــه شته برم
(خټک، ۱۳۹۷، ۳۲۰م)

۳. ځغل(ځغلي)

د دېوال په سر به څو ځغلي تر کومه
دروغــژن چې په دروغه کاندي لاف
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۸۰م)

د رحمان بابا په شعرونو کې دا ويی څو ځایه کارېدلی دی، خو په فرهنگ کې د ځانگړي لغت په ډول نه دی را وړل شوی، که دلیل دا وي چې ځغل په پښتو کې اسان لغت دی، نو په فرهنگ کې باید د پښتو نگه لغاتو ته ځانگړی پام وشي، ځکه چې موږ ته د دا ډول فرهنگونو رامنځته کولو کې دا هم جوته شي چې زموږ کلاسیکو شاعرانو د پښتو نگه وییپانگه څومره خوندي کړې ده. موږ د پښتو دغه ویی د ښکارندوی غوري، میرزا خان انصاري او حمید مومند په شعرونو کې وینو.

پښتونخوا ښکلي زلمي چې ځغلي هند ته
نــو آغلیه پېـغلې کانــــدي اتـــڼونــــه (ښکارندوی غوري)
(هوتک، ۱۳۳۹، ۵٦م)

کـه شېرین اشنا دې کوچ درڅخه وکا
د فراق نارې به کړې، پسې به ځغلې
(میرزا خان، ۱۳۵۴، ۲۳۵م)

دا چې په هوا برق و برېښنا ځغلي شتاب
واړه کا په ځله تگ و پـوی په سوی د ستا
(حمید، ۱۳۸۳، ۲۲م)

**۴. دود:** دا د پښتو نگه ویی دی، په فرهنگ کې نه دی راوړل شوی، هلته د (رسم) په نوم راوړل شوی، چې په دود معنا شوی دی، که خبره د اسانوالي وي نو رسم هم سخت لغت نه دی، هر پښتون یې پېژني، موږ په عام ډول په خپلو خبرو کې وایو چې (د پښتنو رسم رواج، د پښتنو دود دستور) چې هر پښتون رسم پېژني، زما په فکر ښه

به دا وي چې (دود) دې هم راوړل شي، ځکه چې دا زموږ سوچه ويی دی او موږ ته په دې پوهېدل په کار دي.

چې د خط په دود يې خلک په کې پرېوځي
زنـخـدان يـې تــر سبزې لاندې کوهی دی
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۲۱۱م)

د اشنا مينه زما په زړه لگيا شوه
دا زما زړگی دروي په دود روي
(ميرزا خان، ۱۳۵۴، ۲۴۰م)

چــې قــوت الٰهـي ورسره مــــل وي
د واصل په دود يې واړه سر انجام شي
(واصل، ۱۳٦۵، ۷۲م)

**۵. دوهۍ:** په قاموس کې نه دی را اخيستل شوی، که په راتلونکي کې ورته پام وشي نو ښه به شي، موږ يې په کلاسيکو متونو کې لاندې بېلگې لرو.

يا به کېنم و دوهۍ ته
يـا په سيوري د همای
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۱۸۰م)

څو د غم خونه دې نه شي په سر ړنگه
د گــومان دوهۍ پر ځای گڼه ملنگه
(واصل، ۱۳۵۳، ۴۷م)

اوس يـــې روخ د مـلـنـگـۍ د دوهــــۍ دی
د خوشحال چې سرای و تاک و،وار و، تېر شه
(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ۵۲۷م)

**٦. ډوب:** د پښتو نگه ویی دی او په فرهنگ کې نه شته، که چېرې د اثر په پاڼو کې د غرقاب، وسواس او اسراف لغتونه وکتل شي، هلته یې بېلگې شته، همدارنگه د نورو شاعرانو په متنونو کې دا لغت راغلی دی.

کــومــې سترگې، کــوم باڼه، کــومه غمزه ده؟
ډوب شهید غوندې په خاک و په خون چا کړم
(رحمان بابا، ١٣٥٦، ٩٦م)

پـــه هسې دریـــاب ډوب یــې
چې موجونه یې خونخوار دي
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۵۲۲م)

منکران یې د طوفان په اوبو ډوب کړه
چې د درد نوحه څرگنده شوه له نوحه
(میرزا خان، ۱۳۵۴، ۱۲۲م)

له پورته ویی پرته د رحمان بابا په شاعرۍ کې په (ډ) توري کې نور لغتونه هم شته، چې په فرهنگ کې نه دي راوړل شوي.

**۷. سیاهي**

که تورتم لري ظاهر سیاهي د زلفو
حقیقت لري سفیدې روښانې زلفې
(رحمان بابا، ١٣٥٦، ٢۵٢م)

سیاهي لغت چې په فرهنگ کې نه دی راوړل شوی خو د رحمان بابا په دیوان، د خوشحال خان په کلیات کې څلور پنځه ځایه، د واصل روښاني په کلیات کې نږدې پنځه ځایه او د اکبر اورکزي په دیوان کې هم شته.

د هجران عـرضداشتونه مې په زړه دي
د سیاهي پر ځای د زړه په وینو کښلي
(روښاني، ۱۳۵۳، ۲۲۱م)

پــه څـو ډېر شوې د دنيا پرېشانه غمه
په هر زړه دې سياهي پرېسته محکمه
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۵۰۱م)

**۸. ضديت:** د رحمان بابا په شاعرۍ کې دا ويی دوه ځايه او هم (ضد) دوه ځايه راغلی، د خوشحال خان او اکبر اورکزي په شاعرۍ کې هم راغلی دی، خو د فرهنګ په پاڼو کې نه تر سترګو کېږي، په راتلونکو چاپونو کې فرهنګ ته د دې لغت ور زياتول مناسب راته ښکاري.

ضديت د سړي عمر په عذاب کا
په کار نه دی ضديت په دا دنيا
(رحمان بابا، ۱۳٥٦، ۳۲م)

په دنيا د بادشاهانو سره ضد دی
امــرا ســره دښــمــن وي امـــرا
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۱۱م)
د بخشيانو ضد هم ډېر و
راســره وو دښـــمـــنـــان
(اورکزی، بې تا، ۸۰م)

**۹. فهم :** دا لغت هم په فرهنګ کې نه شته، د رحمان بابا د شعرونو ترڅنګ زموږ د نورو کلاسيکو شاعرانو په شعرونو کې هم شته، که د فرهنګ په نوي چاپ کې ورته پام وشي، نو مناسب يې بولم.

د دې هسې رنځ علاج به څوک په څه کا
چې نــــه فهم د چا رسي نه اټکل شي
(رحمان بابا، ۱۳٥٦، ۲۴۰م)
چې مې فهم فـــکر وکړ باور وکړه
په دا باغ کې ګل له خار دی برابر

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۳۸۸م)

که د زړه پــه غوږو فهم درته وکړې
دا ناري وهي هر څوک داد و بېداد

(نجیب، ۱۹۷۲، ۵۹م)

همدارنگه د (فن، فرسنگ، فرق، فراق، فرما په وییونو دې هم فکر وشي، ځکه چې د رحمان بابا په اشعارو کې شته او د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم، که فرهنگ ته ور زیات شي نو ښه به وي.

**۱۰. کسي:** د لیدلو او هم د سترگو د تور منځ ساحه چې تصویر په کې ښکاري معنا لري. زموږ په زړو متونو کې د کسي غر سیمه هم شته، د رحمان بابا په شعر او د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم شته، خو په فرهنگ کې نه دی ځای شوی، که په راتلونکي چاپ کې د پښتو دا نگه ویی په دواړومعناگانو ور زیات شي نو ښه به شي.

چې مې خال د ترکو ولید په خپل زړه کې
دواړه کسـي مــې و زړه و تــه نسکور دي

(رحمان بابا، ١٣٥٦، ١٩١م)

تورې سترگې يې درياب پـر بله اوړي
دغه کسي يې د دې درياب جهاز کا

(میرزا خان، ۱۳۵۴، ٦٠م)

د واصل کسي پـه مینه نه مړېږي
بورا کله د سپرلي په گلو سېر شو

(واصل، ١٣٦٥، ١٦م)

چې پــه هسې مخ مې کسي برابر شول
زه به نور په بل مخ نه کړم سترگې وا هم

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۴۰۹م)

**۱۱. گفتار:** په فرهنګ کې نه شته، ما د ځينو شاعرانو بېلګې ورسره راوړي، که په راتلونکي کې ورته پام وشي نو ښه به وي.

غـــزا وشـــوه کـه ګفتار لـــرم په ژبه
زه رحمان چې کردار نه لرم، کذاب يم
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۱۰۲م)

يـــوه شپه راتېر مليار شو
شيخ متي ته په ګفتار شو (پيرمحمد مياجي)
(هوتک، ۱۳۳۹، ۱۳۲م)

په هر چا کې دي څلور جنسه د عقل
صحيح شـوی دا ګفتار په دلايل دی
(ميرزا خان، ۱۳۵۴، ۲۰۵م)

چې کردار يې د ګفتار موافق نه وي
همېشه د دروغجن په ږيره ډېت دی
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۲۲۸م)

د هــر چا په کور د نېکو اواز وکړه
په کاله د هر عزيز نيکو ګفتار شه
(اورکزی، بې تا، ۹۸م)

**۱۲. لوند:** زموږ په کلاسيک متونو کې د لوند ويی شته، ښه به دا وه چې په فرهنګ کې راوړل شوی وی، لاندې اشعار د بېلګې په ډول راوړم:

لکه لــونــد زړوکـی تاو کړې نـــو يـــې ووځي
ستا له غمه مې رنګ زېړ پوست مې وچېږي
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۲۲۸م)

خلق په خپلو لاړو لوند دی
د ګـــدا هـــم د بـادشـا

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۳۷۳م)

په مدد د وچ گوگل د لوندو سترگو

تماشا د بحر و بــر کوم په کور کې

(حمید، ۱۳۸۳، ۲۹۸م)

**۱۳. لوی:** دا ویی هم زموږ په زړو متونو کې شته، خو په فرهنگ کې نه دی راخیستل شوی، په لاندې ډول یې موږ بېلگې لولو:

یار لـــه یاره په لـــوی لاس کله بېلېږي

چې لاس نه رسي یا څه کا، اشنا څه کا

(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۲۱م)

ستا په زېرمه دې خاونده لوی ښبتن وي

مـوږ خـو ستا په مرسته یونه، څو چې یونه (ښکارندوی غوري)

(هوتک، ۱۳۳۹، ۵۸م)

شیخ متي چې خلیلي و

دی له آره لـــوی ولي و (پیر محمد میاجي)

(هوتک، ۱۳۳۹، ۱۳۲م)

په خالي هـــوس دې تشه جامه سکښته

چې پر لوی امید دې ته کړه و دې نغښته

(خوشحال خان، ۱۹٦۰، ٦م)

مست هاتي بــه د خـــرام لافې کـولـې

ځکه خاورې یې په سر، لوی یې خړتم دی

(بنگښ، ۱۹٦۵، ۱۳۴م)

په فلک (به) نمر ځان ډوب کا په لویۍ کې

که احـــوال د زړه کامـــگار کانـدي اغاز

(کامگار، ۱۳۹۳، ۱۲۲م)

۱۴. مسیحا: دا لغت هم د رحمان بابا په شاعرۍ کې څو ځایه راغلی، له دې پرته د خوشحال، واصل روښاني، کامگار خټک، سکندر خان او نور شاعرانو په شعرونو کې راغلی، خو په فرهنگ کې نه شته، که ور زیات شي، نو ښه به وي.

جاهلان دي په مثال د مردگانو

عالمان دي په مثال د مسیحا

(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۱۰م)

ښه خوی وصف د مسیحا دی

بد خوی مرگ مفاجا دی

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ٦۳۷م)

د حیات ساقي د وصل ساغر درکه

لکه خضر همنشین له مسیحا یې

(واصل، ۱۳٦۵، ۸۰م)

په نظر یې مسیحا موزون پروا وي

چې په امر یې ژوندون د مړه بیمار شي

(اورکزی، بې تا، ۱۰۷م)

**۱۵. مُنکر:** دا لغت هم په فرهنگ کې نه دی راوړل شوی، چې موږ یې په شعري متونو کې ډېرې بېلگې لرو، لکه:

چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي

دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز

(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ٦۹م)

چې په وېره ځنې وکاږي نوکارې

چې منکر شي له دې فعله کړه پرې چارې

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۷٦۴م)

چې په هسې لوی دریاب کې ویلي نه شي

د منکر زړه گـــوټـی کاڼی دی، نــه لوټه

(میرزا خان، ۱۳۵۴، ۱۱۷م)

عنایت مې د یقین تر اهله زیات دی

پـه منکر باندې تمام شوم نه رسېږم

(روښاني، ۱۳۵۳، ۱۸م)

**۱٦. نادان:** د رحمان بابا په شاعرۍ کې له دولس ځلو ډېر راغلی دی، همدا ډول د خوشحال خان، اشرف خان هجري، کامگار خټک او ځینو نورو شاعرانو په شعرونو کې شته، چې په فرهنگ کې نه دی راخیستل شوی، رحمان بابا وايي:

ابراهیم ادهم څه هسې نادان نه و

چې نظر یې یا په تخت و یا په تاج

(رحمان بابا، ۱۳٥٦، ۴۳م)

و هـوښیار ته د ناپوه عقل حنظل دی

و نــادان ته خپله پــوهـه شهدو شیر

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۳۹۲م)

نــادانــي گـڼـه غـفـلـت د رهــروانــو

لکه طفل د زانگو په تله کې خواب کا

(شیدا، بې تا، ۳۱م)

چې له مکره یـې خبر، ورته یـې شا کړه

په عشوه یې فـــریفته همه نادان دی

(هجري، ۲۰۰۱، ۲۱۸م)

۱۷. نگاه: په فرهنگ کې نه شته، خو د رحمان بابا په دیوان کې څو ځایه راغلی. دلته به یې د رحمان بابا هممهاله شاعرانو په متونو کې وگورو:

ژوبـل ژوبـل د تـرکانو پـه نـگاه یم

تر دا لا په دا غوځېږم چې پناه یم

(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۱۰٦م)

په یــوه گــوزار یې درست مقصود پوره شه
چې نګاه یې په خـــوشحال وشوه ناګاهه

(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۱۷٦م)

په یوه نګاه چې تاو کا په مخ زلفې
خلقه بـــــــه د نظر په تېغ ډېر کا

(اورکزی، بې تا، ۴۵م)

**عرفاني لغات او اصطلاحات**

د رحمان بابا په شاعرۍ کې یو څه وییپانګه د مجازي معنا تر څنګ عرفاني معنا باندې هم کتل او سپړل په کار دي، د ځینو لغاتو عرفاني تشریح له لوستونکو سره ډېره مرسته کوي، زموږ استاد که څه هم ځینې لغات لکه ابدال، اراده، اعراف، اوتاد، خلیفه، قطب او ځینې نور په عرفاني معنا تشریح کړي دي، خو بل لور ته که وکتل شي، په عرفان پورې تړلي زیات لغات په عامه معنا سپړل شوي دي، چې زما په اند د رحمان بابا د شاعرۍ وییپانګه د عرفان له اړخه هم څېړل او معنا کول اړین دی. په دې برخه کې که په دیوان کې وکتل شي نو ډېر لغات شته، لکه: احد، واحد، احوال، ایېنه، اتصال، اختیار، اخلاص، بقا، تجلا، باطل، جمال ـ جمعیت، جهت، جلوه، حال، زلفې، فنا، قلب، مې او نور.

د رحمان بابا شاعري تر ډېره عرفاني ده او په پښتنو کې هم د یو عارف شاعر په توګه پېژندل کېږي، په کلام کې یې اثر شته، د عرفاني تعبیراتو او معناوو لپاره که د فرهنگ اصطلاحات و تعبیرات عرفانی، فلسفي ونجومي ګلشن، ۱۳۸٦کال، همدارنګه فرهنگ فروزانفر(تدوین و گرداوری) د مریم السادات رنجبر، نشر پرسش، ۱۳۷۴هـ ش او یا د پرتو عرفان (شرح اصطلاحات عرفاني کلیات شمس) د ډاکټر عباس کی منش، ۱۳٦٦هـ ش وکتل شي نو به دا چاره بهتر او لا ښه کړي.

**۱. جام د جم:**

که نصیب مې شي کوغالی ستا د سپیو
و به نه کړم نور نظر په جـام د جـم کې
(رحمان بابا، ۱۳۵٦، ۲۴۹م)

د سـکـنـدر د آیـیـنـې نـنـداره چا کـړه
دا جهان په جام کې چا لیده بې جمه
(میرزا خان، ۱۳۵۴، ۱۸۲م)

د سکندر په آیینه پورې وو کنبلی
چې د جام پوښتنه وکاني له جمه
(واصل، ۱۳٦۵، ۵۱م)

د درویش تر زړه به نه رسي دا دواړه
آیېنه د سکندر،کـــــه جام د جم
(خوشحال خان، ۱۳۸۴، ۸۵م)

آیېنه مې د زنگون په فکرت ښه ده
د سکندر د آیېنې تر جـام و جـم
(سکندر خان، ۱۳۹۹، ۱۹۵م)

جام د جم د ارمغان خوشحال د متن په ۴۴۵مخ کې هم راغلی دی. دا لغت عرفاني اړخ نه لري، خو د رحمان بابا په شعرونو کې په عرفاني معنا راغلی دی. په پورته بیت کې رحمان بابا د سالک د زړه تجلا ته اشاره کړې ده، چې د نفس تزکیه هغه وخت کېږي، چې د سالک زړه د الله پاک په مینه لکه د آیېنې ښایسته شي، د سالک زړه جام د جم په څېر شي، چې الهي قدرتونه او وحدانیت په کې را څرګندېږي، دا لغت اسطوریي ارزښت هم لري. په فرهنګ کې د پورته لغت په پېژندنه کې لیکل شوي چې (جام د جم: د فارس د جمشېد کټوری...) خو په حقیقت کې جمشېد د پارس واکمن نه و. دی د اریانا د بخدي یا اوسني بلخ په سیمه واکمن و. جام د جم معنا دا ده چې د جمشېد جام یا د ځکلو لوښی. په دې اړه څېړنپوه استاد زلمی هېوادمل

((د شیدا فکر او هنر)) په لکچرنوټ کې د اسطورو نظام تر سرلیک لاندې لیکي چې:
((د اریایي روایاتو پر بنا جمشېد یو جام درلود، چې د جهان نقشه په کې حک شوې وه او ټوله نړۍ یې په کې لیده، نو ځکه په اساطیري روایاتو کې د جام جهان نما او جام جهان بین په نامه هم یاد شوی دی)). هېوادمل، ۱۳۹۵، ۱۰۵م)
همدا ډول څېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ د عبدالعظیم رضایي د اثر(تاریخ ده هزار ساله ایران) په لومړي، دویم او درېیم څپرکو کې د کره کتنې په لړ کې لیکي چې جمشید د پیشدادیانو د لړۍ لومړی واکمن و او په بخدي یا اوسني بلخ کې یې د خپلې واکمنۍ بنسټ کېښود، دغه مهال په فارس یا اوسني ایران کې د سامیانو واکمني وه ((پیشدادیان د آریانا په جغرافیه کې واکمن وو او پلازمېنه یې د بخدي(بلخ) تاریخي ښار و، چې د افغانستان د لومړني پیشدادي پاچا یما (جمشید) له خوا یې بنسټ کېښودل شو)). (ځدراڼ، ۱۴۰۳، ۱۰٦م)
**۲. فنا:** دا لغت عرفاني ځانگړنه لري، د رحمان بابا په شاعرۍ کې هم ډېر کارېدلی دی، خو په فرهنگ کې نه دی راوړل شوی، البته (فاني) راوړل شوی، که په راتلونکي چاپ کې ور زیاتېږي هم، نو د عرفان له مخې دې معنا شي. رحمان بابا وایي:

فلک تا غـونـدې پیدا کړي بیا فنا کړي
ته لا نوی خواست کوې په ناز نازک یې
(رحمان بابا، ۱۳٥٦، ۲۸۷م)

**۳. مې:** دلته (مې) شرابو یا مشروب په معنا دی، خو د رحمان بابا په اشعارو کې عرفاني معنا لري، په فرهنگ کې نه دی راوړل شوی، په لاندې بېلگو کې یې لولو:

د رحمان خــاطــر غمونو هسې رنگ کړ
مگر جام د میو ناب وي چې صیقل شي
(رحمان بابا، ۱۳٥٦،۲۴۰م)

که انسان یې مې به نوش کړي
وصلت نـشـتـه بـې دوامــــه

(میرزا خان، ۱۳۵۴، ۱۸۰م)

د هجران له درد و اهــه په زور نه کړم

زړه او پټ مې د حباب د مى دلجوي

(واصل ، ۱۳٦۵، ۱۱۵م)

همدا ډول د عرفاني وييپانگې پرته نوره عامه وييپانگه لکه: انگشت نما، بيابان، تاراق، تصور، ټوک، ټيک، ټوکر، ټنډه، ټټو، ټول، ټوپی، ټومبلی، ثواب، ثابت، خوبان، ځنبل، ډېر، ډکی، ډوب، ډونډوکی، ډانگ، ډاډ، ډک، ډېران، ، ذره، ذخيره، ذکر، زر، زرد، زردار، زبان، زباد، زول ، زرکه، زره، زربفت، زورور، زوړند، ژوره، ژغورل، ژبه، ژوی، ساقي، سرنگون، سنگ، سوځم، سوده، سوری، ښاد، ښادي، ښاخ، ښاماران، ښايست، ښاپېرى، ښکل، ښکار، ښکاره، ښېرې، ښندلی، غسالان، فراق، گروهه، گلگون، گرېزان، طلب، هجران، هجوه، محوه، مثلاق، موشگاف، يار، يو او نور لسگونه وييونه داسې شته چې په فرهنگ کې نه دي را اخيستل شوي، خو دا چې د ټولو يادول او د هر يوه بېلگې راوړل به موضوع ډېره وغځوي، نو غوره بولم چې په همدې پورته بېلگو بسنه وشي او وړانديز کوم چې زموږ درووند استاد دې د فرهنگ بيا خپرېدو لپاره د رحمان بابا ديوان بيا وپلټي او پاتې وييپانگې ته دې پام وکړي.

له دې ور اخوا بله اړينه مسأله دا ده چې په فرهنگ کې تر هر لغت لاندې د رحمان بابا او نورو شاعرانو بيتونه راوړل شوي دي، خو د رحمان بابا تر ابياتو لاندې هېڅ نوم نه دی ليکلی شوی، د نورو شاعرانو تر بيتونو لاندې که ليکل شوي هم دي خو په نيمگړي ډول دي، د بېلگې په ډول عبدالقادر، يونس، عظيم، بېدل، شمس الدين، قلندر، سکندر، کامگار، حميد او نور، چې زما په فکر په فرهنگونو کې دا اړينه ده چې د شاعرانو نومونه دې پوره وليکل شي، که ونه ليکل شي نو لوستونکي ته کړاو پيدا کوي، د بېلگې په ډول: د نجيب نوم راوړل شوی، لوستونکی نه پوهېږي چې کوم نجيب؟ موخه يې نجيب سربندی دی؟ کوم عبدالقادر؟ عبدالقادر مومند او که عبدالقادر خټک، ځکه چې دواړو د يوسف او زليخا کيسه له دوو بېلو متونو ژباړلې؟

همدا ډول د شمس الدین نوم لیکل شوی، چې د لیکوال موخه به کوم شمس الدین وي، شمس الدین کاکړ، شمس الدین قلعه ټکی او که کوم بل کلاسیک شاعر؟ د قلندر په نوم کې هم همدا ربړه ده، چې دلته کوم قلندر دی، قلندر او که قلندر مومند. زما په فکر ښه به دا وي چې د هر شاعر نوم پوره  ولیکل شي او یا هم که د فرهنګ په پیل کې د هر شاعر د نوم د لنډون راوړلو په اړه ځرګندونه وشي او یا په سریزه کې دا سپیناوی شوی وی، نو ډېره به ښه وه.

همدارنګه په دې فرهنګ کې زمونږ استاد د فرهنګ جامعیت په پام کې نه دی نیولی، ځکه چې په فرهنګونو کې د یوه معلوم متن د ټولو لغاتو مانیز پوهاوی وړاندې کېږي، زما په فکر په فرهنګونو کې ټول لغات معنا کېږي، د یوه دیوان یا متن ټوله ژبه روښانه کېږي او هم په متن کې د سیمو او شخصیتونو پېژندنه هم اړینه ده، څو په دې پوه شو چې شاعر تر کومې کچې یې لغوي پانګه خوندي کړې ده، د فرهنګ عمید په ۹۱۵مخ کې د فرهنګ په معناو کې لولو (علم، دانش، ادب، معرفت، تعلیم او تربیه، د یوه قوم علمي او ادبي اثار، کتاب لغت، د یوې ژبې د لغاتو شرحه ...) په دې معنا چې یا د یوې ژبې لغات او یا هم په یوه ژبه کې د یوه اثر د لغاتو معنا او شرحه، که هغه د یو شاعر دیوان او یا د کوم لیکوال د کتاب اړوند د لغاتو ذخیره وي، زما په خپل فکر که په بل چاپ کې د همدې اثر نوم (د رحمان بابا وییپانګه) ولیکل شي نو ښه به وي او که چېرې د فرهنګ په عنوان پاتې کېږي هم نو بیا دې د رحمان بابا د دیوان ټول لغتونه، هغه که د نورو ژبو او یا هم د پښتو خپله وییپانګه ده، همدارنګه په متن کې د شخصیتونو او سیمو پېژندل او په اړه یې بیتونه ور زیات شي، د بېلګې په ډول د رحمان بابا په اشعارو کې د سلیمان علیه السلام، یوسف، زلېخا، خضر علیه السلام، ابرهیم علیه السلام،  محمد صلی الله علیه وسلم، کیکاوس؛ په بلخ او بخدي کې اریایي پاچا، شاه جهان، دارا؛ (دارا شکو د شاه جهان پاچا زوی)، ابراهیم ادهم، قیصر، اورنګزیب، خوشحال خان خټک، جمال خان دولت، درویزه، سکندر، ګل خان، عزیز خان، میاجي، منصور، مجنون او ځینې نور یاد کړي، همدا ډول په سیمو کې

يې ډيلی، هندستان، پېښور، تاج محل، کسرا، ختا (په چين کې يوه سيمه ده چې خوتن هم ورته وايي)، باګرام، کابل، بغداد، له دې پرته پښتني قبيلې يا توکمونه، لکه خليل، داودزي، مومند، افريدي او نور هم ياد شوي دي، په دې هيله چې ټولو برخو ته د بيا چاپېدو پرمهال کتنه وشي نو دا به د رحمان بابا د فرهنګ په بډاينه کې ارزښتمن کار وي.

## پايله

له دې تحقيق نه دا په لاس راوړ چې د رحمان بابا فرهنګ له ډېرو نيمګړتياو ډک دی او بايد چې پام ورته وشي، تر ټولو لومړی خو دا اړتيا نه ليدل کېده، چې موږ د رحمان بابا د اشعارو له وييپانګې سره د نورو هم عصرو شاعرانو بېلګې راوړ، خو که بيا اړتيا وه نو تر ټولو ضرور په کار ده چې تر رحمان بابا دمخه د لرغونې دورې د اشعار وييپانګه وپلټو، چې زموږ د کلاسيک عصر شاعر لپاره د ژبې د زاړ دود پالنې لار را په ګوته کوي.

د رحمان بابا په دې چاپ شوي فرهنګ کې د زيار سره سره بيا هم يو شمېر لوی او وړې تېروتنې شته، چې د حل لپاره يې د ټول اثر په ځير کتلو اړتيا ده، او هم په دې فرهنګ کې د رحمان بابا د شعر ټوله وييپانګه نه ده راوړل شوې، په دې هيله چې خپل دروند استاد او يا هم په راتلونکي کې بل کوم وړ شخص دغه تشه ډکه کړي او د رحمان بابا د ديوان پاتې وييپانګه ټوله را بهر او معنا شي.

په ځينو ځايونو کې ما هم يو شمېر لغتونه په ګوته کړي، چې دا ټول پاتې لغات نه دي، بلکې د بېلګې په ډول مې ځينو ته اشاره کړې ده، چې د پلټنې په وخت کې به دا څرګند شي، چې نور څومره لغات پاتې دي او اړتيا څومره ده.

زما په فکر که دا فرهنګ له سره چاپ شي او پاتې نيمګړتياو ته په کې پام وشي نو لازم يې بولم.

## مأخذونه

۱. اورکزی، علي اکبر. (بې تا).گلشن افغان. (د علي اکبر اورکزي پښتو دیوان). تدوین او مقدمه. دوکتور عبدالظاهر شکیب. کابل: علومو اکاډمي. ناچاپ اثر.

۲. انصاري، میرزاخان. (۱۳۵۴ل). د میرزا خان انصاري دیوان. پېژندنه او ترتیب: دوست شینواری. کابل: پښتو ټولنه.

۳. بنگش، خواجه محمد. (۱۹٦٥م). دیوان خواجه محمد بنگش. ترتیب او تدوین. خیال بخاري. پېښور یونیورسټي: پښتو اکېډیمي.

۴. صمیم، محمد آصف. (۱۴۰۳ل). د رحمان بابا فرهنگ. کابل: د بیهقي کتاب خپرولو ریاست.

۵. خټک، خوشحال خان. (۱۳۸۴ل) د خوشال خان خټک کلیات، اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانگه، عبدالقیوم زاهد مشوانی. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

٦. خټک، خوشحال خان. (۲۰۰۱م). ارمغان خوشحال. مقدمه میا سید رسول رسا، دویم چاپ. پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي.

۷. خټک، خوشحال خان. (۱۳۹۷ل). د خوشحال خان خټک دیوان. سریزه، ترتیب او سمون. حبیب الله رفیع. کابل: سهر مطبعه.

۸. خټک، خوشحال خان. (۱۹٦۰م). کلیات خوشحال خان خټک. مقدمه او حاشیه. دوست محمد خان کامل مومند. دویم چاپ. پېښور: اشاعت سرحد.

۹. خټک، خوشحال خان. (۱۳٦۳ل). فراقنامه. د زلمي هېوادمل په سریزه، څرگندونو او وییپانگه. کابل پوهنتون: د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

۱۰. خټک، سکندرخان. (۱۳۹۹ل). د سکندر خان خټک کلیات. د میا وکیل شاه فقیرخېل په تدوین او وییپانگه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۱. خټک، کامگار. (۱۳۹۳ل). د کامگار خټک کلیات. (نوې موندل شوې خطي نسخه). شننه، سپړنه او زیار. میا وکیل شاه فقیرخېل. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۲. ځدراڼ، دوکتور محمد شریف. (۱۴۰۳ل). تاریخ ده هزار ساله ایران (پر لومړي، دویم او درېیم ځپرکو کره کتنه). کابل: په خپل لګښت.

۱۳. رحمان بابا. (۱۳۵٦ل). د رحمان بابا دیوان. د محمد عارف غروال په ترتیب او اهتمام. کابل: پښتو ټولنه.

۱۴. روښاني، واصل. (۱۳۵۳ل). د واصل روښاني څو شعرونه. د پوهاند عبدالشکور رشاد په مقدمه او تصحیح. کابل: پښتو ټولنه.

۱۵. روښاني، واصل. (۱۳٦۵ل). د واصل روښاني دیوان. سریزه، سمون، لمنلیکونه او نښلونې. زلمی هېوادمل. کابل: د علومو اکاډمي. پښتو ټولنه.

۱٦. سکندر خان. (۱۹٦۲م). دیوان سکندرخان. مقدمه او څنډې، دوست محمد خان کامل مومند. دویم چاپ. پېښور، اداره اشاعت سرحد.

۱۷. شیدا، کاظم خان. (بې تا). دیوان کاظم خان شیدا. ترتیب او تدوین. همېش خلیل. بنو ـ سرای نورنګ: پښتو ادبي مرکز.

۱۸. عمید، حسن. (۱۳۸۲ل). فرهنګ فارسي عمید. چاپ بیست هفتم. تهران: مؤسسه انتشارات امیر کبیر.

۱۹. لودین، دولت محمد. (بې تا). لغوي څېړنې. سریزه، تدوین او را ټولونه. دوکتور محمد داود عربزی. کابل: ناچاپ اثر.

۲۰. مومند، عبدالحمید. (۱۳۸۲ل). د عبدالحمید مومند کلیات. سریزه، څېړنه، اوډون او وییپانګه. محمد اصف صمیم. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲۱. نجیب. (۱۹۷۲م). دیوان نجیب، ترتیب ـ تدوین. خیال بخاري. پېښور پوهنتون: پښتو اکېډیمي. لومړی چاپ.

۲۲. هجري، اشرف خان. (۲۰۰۱م). دیوان اشرف خان هجري. تحقیق، ترتیب او سم ونې. همېش خلیل. پېښور پوهنتون: پښتو اکېډیمي.

۲۳. هوتک، بن داود. (۱۳۳۹هـ ش). پټه خزانه. لمنلیکونه او تعلیقات. عبدالحی حبیبي. دویم چاپ. کابل: د پوهنې وزارت. د دارالتألیف ریاست.

۲۴. هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۵ل). د شیدا فکر او هنر. د ماسټرۍ لکچرنوټ.کابل پوهنتون: ناچاپ اثر.

پوهنوال اسدالله وحیدي

# د مفهومي استعارې او مفهومي ګډون توپیر

# Difference Between Conceptual Metaphor and Conceptual Blending

Associate.Prof. Asadullah Wahidi

## Abstract

Conceptual metaphor and conceptual blending are two key concepts in cognitive linguistics, closely related yet distinct. Conceptual metaphor, developed by George Lakoff and Mark Johnson in their 1980 book Metaphors We Live By, posits that abstract concepts are understood through concrete entities. Challenging the classical view that metaphors are merely literary devices, it argues that human cognition is fundamentally metaphorical. Metaphors involve two domains: a concrete source domain and an abstract target domain. For example, in “my mind is broken” or “my hopes have withered,” abstract concepts (mind, hopes) are conceptualized using concrete properties (breaking, withering). Metaphors are unidirectional, transferring meaning from the source to the target domain, not vice versa.

Conceptual blending, introduced by Gilles Fauconnier and Mark Turner in 2002, involves integrating multiple mental spaces to create a new, independent domain. Unlike metaphors, it combines two input spaces, a generic space, and

a blended space to produce novel meanings. For instance, “the doctor is a butcher” blends the domains of doctor (surgery, patient) and butcher (slaughter, tools) to create a new, negative meaning (careless behavior). Blending is more dynamic and creative, generating emergent structures not present in the original domains.

Differences:

.۱Structure: Metaphors transfer meaning between two domains; blending integrates multiple domains to form a new one.

.۲Directionality: Metaphors are unidirectional; blending is bidirectional and dynamic.

.۳Focus: Metaphors emphasize systematic mappings rooted in cultural or experiential contexts; blending focuses on creativity and novel ideas.

.٤Complexity: Metaphors are direct; blending is complex and flexible, producing new meanings.

In conclusion, both concepts complement each other, with metaphors aiding understanding through mapping and blending enabling the creation of novel meanings through integration.

## لنډیز

مفهومي استعارې (Conceptual Metaphor) او مفهومي ګډونه (Conceptual Blending ) د ذهني ژبپوهنې دوه مهم مفاهیم دي، چې سره نږدې دي، خو توپیر لري. مفهومي استعاره هغه نظر دی چې جورج لیکاف او مارک جانسن په خپل ۱۹۸۰ کال کتاب "Metaphors We Live By" کې وړاندې کړ. دوی دا مفکوره مطرح کړه چې انسانان مجرد یا غیر محسوس مفاهیم د عیني یا محسوسو شیانو له لارې درک کوي.

د دوی دا نظر د کلاسیکو لیدلورو سره مخالفت کوي، کوم چې استعاره یوازې ادبي وسیله بولي. دوی استدلال کوي چې انساني تفکر اساساً استعاري بڼه لري. په مفهومي استعاره کې دوه برخې وي: یو محسوس سرچینه‌یي ډومېن (source

(domainاو بل غیر محسوس هدفـيي ډومېن .(target domain) د بېلگې په توگه، په جمله کې: "زما ذهن مات شوی" یا "زما هیلې مړاوې شوې دي"، مجرد مفاهیم لکه "ذهن" یا "هیله" د محسوسو خاصیتونو لکه "ماتېدلو" او "مړاوېدو" له لارې درک شوي دي.

## سریزه

مفهومي استعاره او مفهومي گډون د اداركي ژبپوهنې دوه ډېر مهم بحثونه دي چې له یو بل سره تړلي دي. سره له دې چې مفهومي استعاره او مفهومي گډون سره نږدې دي، خو توپیر هم لري چې پکار ده سره گډ نه شي. په ادراکي ژبپوهنه کې د مفهومي استعارې د بحث له رامنځ ته کېدو او پراختیا سره سره بیا هم ځیني مانیز اړخونه پر مفهومي استعاره نه تشریح کېدل، نو ځکه خبره تر مفهومي استعارې او ذهني حوزو واوښته او مفهومي گډون ته ولاړه. ددې لپاره چې د مفهومي استعارې او مفهومي گډون توپیر وشي، په دې لیکنه کې زه هڅه کوم چې دا دوه مفاهیم لومړی جلا جلا تشریح کړم او وروسته یې پر توپیرونو بحث وکړم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې دغه دوې ژبنۍ پدیدې وپېژندل شي او د توپیر موارد یې مشخص شي. مفهومي استعاره د عیني مفاهیمو او څېزونو پر مټ د انتزاعي مفاهیمو درک کول دي. یعنې په مفهومي استعاره کې انتزاعي پدیدې د عیني پدیدو او شیانو پر مټ مفهومسازي کېږي. په بله وینا د مفهومي استعارو په واسطه انتزاعي مفاهیم او تجربې او غیر ملموس شیان چې ټاکلي حدود نه لري د ملموسو او غیر انتزاعي مفاهیمو په واسطه چې ټاکلي حدود لري درک کیږي. که څه هم په ادراکي ژبپوهنه کې د مفهوم او مانا ترمنځ توپیر شته، خو له مفهومسازۍ څخه موخه دا ده چې معنا ترلاسه شي او درک شي. ژبنۍ معنا د مفهوم سازۍ معادله ده او مفهوم سازي د ذهني تجربې د هر اړخ د پوښښ او را نغاړنې لپاره کارول شوې او ټول نوي او زاړه، حسي، حرکتي، فزیکي، عاطفي، اجتماعي او نور مفاهیم را نغاړي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. مفهومې استعارې کومې دي؟

۲. د مفهومي استعارې او مفهومي ګډون ترمنځ کوم توپيرونه شته؟

## د څېړنې ميتود

د دې څېړنې ميتود، تحليـلـي – تـشريحي او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

### مفهومي استعاره

مفهومي استعاره د اداركي ژبپوهنې مهم بحث دی، جورج ليکاف (George Lakoff) او مارک جانسن (Mark Johnson) ددې نظريې لومړني پوهان ګڼل کېږي، چې دوی په ګډه په (۱۹۸۰) ميلادي کال کې "The Metaphors We Live By" کتاب په خپرولو سره د استعارې او ادراکي علومو په برخه کې نوې لاره پرانيسته چې ډېر ژر يې په ادراکي ژبپوهنه او اداركي علومو کې مهم ځای پيدا کړ. دوی په دې کتاب کې پر مفهومي استعارو (conceptual metaphors) بحث وکړ او دا يې تشريح کړه چې استعارې څنګه زموږ په ورځني ژوند، فکر او ژبه کې ژوره اغيزه لري. ليکاف او جانس د استعارې کلاسيکه نظريه وننګوله، د کلاسيکي نظريې پر بنسټ استعاره يوازې په ادبي او هنري ژبې پورې اړونديږي، خو ليکاف او جانسن دا ثابته کړه چې اصلاً د انسان ادراک پر استعاره ولاړ دی. « موږ په عموي ډول مفهومي استعارې د قطعي واقعيتونو په توګه ګورو او پر اساس يې ژوند کوو». (نيلي‌پور، ۱۳۹۸: ۱۲۹مخ) مفهومي استعاره د عيني مفاهيمو او څېزونو پر مټ د انتزاعي مفاهيمو درک کول دي. يعنې په مفهومي استعاره کې انتزاعي پديدې د عيني پديدو او شيانو پر مټ مفهومسازي کېږي. په بله وينا د مفهومي استعارو په واسطه انتزاعي مفاهيم او تجربې او غير ملموس شيان چې ټاکلي حدود نه لري د ملموسو او غير انتزاعي مفاهيمو په واسطه چې ټاکلي حدود لري درک کيږي. که څه هم په ادراکي ژبپوهنه کې د مفهوم

او مانا ترمنځ توپیر شته، خو له مفهومسازۍ څخه موخه دا ده چې مانا ترلاسه شي او درک شي. «ژبنۍ مانا د مفهوم سازۍ معادله ده او مفهوم سازي د ذهني تجربې د هر اړخ د پوښښ او را نغاړنې لپاره کارول شوې او ټول نوي او زاړه، حسي، حرکتي، فزيکي، عاطفي، اجتماعي او نور مفاهيم را نغاړي». (لنګکر، ۲۰۰۸: ۳۰-۳۲ مخونه)

استعاره په نوې نظريه کې د کلاسيکې هغې خلاف يوازې يوه لغوي پديده نه ده، بلکې مفهوم دی چې رامنځ ته کېږي او بيا وروسته په کلمو کې راځي. د استعارې په اړه زموږ په کلاسيک نظر دا هم وه چې دا اصلاً تشبه ده چې يو اړخ يې نه ذکر کېږي او د شباهت پر اړيکه ولاړه ده، خو په نوې نظريه کې واضح کېږي چې په استعاره کې دوې حوزې دي او استعاره د همدغو دوو حوزو پر اړيکو ولاړه ده. لاندې مثالونو ته پام وکړئ:

- فکر مې خراب دی.
- هيله لرم.

په لومړۍ جمله کې موږ ګورو چې په فزيکي نړۍ کې يو شی خرابېږي، مثلاً؛ همدا کمپيوټر چې ليکل پرې کوم، خرابېږي. فکر څنګه خرابېږي؟ فکر کوم فزيکي شی نه دی، خو د فزيکي او عيني نړۍ د يوه شي خواص اخيستل شوي او پر عيني مفهوم باندې تحميل شوي، په دې ډول يو انتزاعي مفهوم عيني او د درک وړ شوی دی. همداسې په دويم مثال کې، هيله څنګه لرل کېږي؟ په عيني نړۍ کې موږ شيان لرو، ملکيت لرو، خو هيله هم د عيني نړۍ د يوه شي په شان مفهومي شوې ده.

د استعارې په اړه په نوې نظريه کې دا نظر هم وننګول شو چې استعاره موږ په شعر او يا په ټوله کې په ادبياتو کې کاروو، ځکه ثابته شوه چې موږ په عادي ژوند کې هم استعاره کاروو. دا په دې پورې هم نه ده تړلې چې د ټولنې ځانګړي وګړي به يې کاروي، بلکې د يوې ژبې هر ويونکی يې کاروي. استاد راحله په دې اړه وايي: « د دې نظريې اصلي ټکی دا دی چې استعاره يوازې د ژبې يوه سبکي ځانګړنه او د ادبي ژبې اړوند نه ده، بلکې پخپله ذهن او تفکر په بنسټيز ډول استعاري ماهيت لري. له

همدې کبله دې ته د ژبنۍ استعارې پر خلاف مفهومي استعاره وويل شول». (حميدزی، ۱۴۰۲: ۱٦٥)

پام مو وي، دا خبره رد نه شوه چې استعاره ادبي او هنري ښکلا رامنځ ته کوي، بلکې دا ورسره زياته شوه چې يوازينی کار يې دا نه دی، بلکې د انسان ادراک پر استعاره ولاړ دی او اصلاً د درک لپاره کارول کېږي. ليکاف او جانسن استدلال کوي چې استعارې يوازې ژبني وسايل نه دي، بلکې زموږ د مفکورې او ادراک بنسټ هم دی. زموږ د تجربو او عملونو لويه برخه د استعارو په مرسته جوړېږي. ليکاف او جانسن استدلال کوي چې ډېری استعارات کلتوري دي او زموږ د کلتوري تجربو څخه راځي. دا استعارې زموږ په ورځني ژبه او فکر کې ژوره اغيزه لري.

مفهومي استعارې دوې اويجې يا حوزې لري چې د مبدا حوزه او موخنه حوزه ورته وايي. مبدا حوزه معمولا ډېره مادي او فزيکي وي، په داسې حال کې چې موخنه حوزه ډېره مفهومي او انتزاعي ده. کله چې د دواړو تر منځ اړيکه ټينګيږي؛ نو د مقصد د حوزې مفاهيم د مبدا د حوزې په واسطه درک کيږي. لاندې مثال ته پام وکړئ:

- هيلې مې مړاوې شوې.

دلته دوې حوزې دي چې يوه يې (پاڼې) عيني او بله يې (هيلې) انتزاعي دي. په پاسنۍ جمله کې د دواړو ترمنځ اړيکې ټينګې شوې دي. دلته (پاڼې) مبدا حوزه ده او ( هيلې) مفهومي حوزه ده چې د پاڼو د مړاوي کېدو د خاصيت پر اساس، د هيلو حالت هم عيني شوی دی. يعنې څه ډول چې پاڼې مړاوې کېږي، دغسې خاصيت هيلو ته هم ورکړ شوی دی.

کله کيدای شي يوه د مبدا حوزه په څو مختلفو فرهنګونو کې مختلفې د مقصد حوزې ولري. مثلاً په غربي فرهنګ کې جنګ هم د بحث او هم د عشق لپاره کارول کيږي، يا د جوړښت يا ساختمان مفهوم هم د نظريې او هم د ټولنې لپاره کارول کيږي. د انسان بدن، حيوانات، جنګ، خواړه، حرکت، لوری د مبدا مشهورې حوزې دي. همداسې احساس، فکر، انساني اړيکې، زمان، ژوند، مرګ، مذهب او ازادي

مشهورې موخنې حوزې دي. البته دا مشهورې دي، په داسې حال کې چې دا حوزې ډېرې او پراخې دي.

مفهومي استعارې د مبدا او موخنې اوبجې د نقشې په مټ يو بل سره تړاو مومي. له همدې د مفهومي استعارو ليدلورى د نقشې يوه ټولگه ده، چې د دوو ذهني عناصرو په چوکاټ کې راڅرگنديږي. لکه د (سفر) او د ژوند تر منځ د نقشې ټولگې په توگه په سفر کې مزل، خطر، مسافر او په ژوند کې د فرد د ژوند کړه وړه، طرز، مسافر، منزل ته رسېدل، د فردي ژوند موخې او فيزيکي خنډونه، د مسافرو او فردي ژوند ستونزې دا ټول د نقشو يوه ټولگه رامنځته کوي، چې (ژوند سفر دی) مفهومي استعارې ترې رغېږي. نقشه د (الف) مفهومي اوبجې او (ب) مفهومي اوبجې ټولگه ده، چې په مټ يې مفهومي استعارې رامنځته کيږي، ( وخت ژر تېر شو) (تېر) مبدا اوبجه او (وخت) موخنه اوبجه ده، چې د نقشې له لارې د درک وړ کيږي. دلته د دوو حوزو ترمنځ د تړاو يا نقشې بحث مهم دی. پوهاند اجمل ښکلی په دې اړه ليکي: « ليکاف په اصل کې استعارې ته په مفهومي نظام کې د دوو قلمرونو ترمنځ د تړونکې نقشې په سترگه گوري چې څو مفاهيم پکې را ټول وي». (ښکلی، ۱۴۰۲: ۱۸۷ مخ) د مفهومي استعارې په اوبجو کې يو اړخيزتوب او څو اړخيزتوب د نقشو له مخې (نامتقارن) وي، يعنې له مبدا نه موخنې اوبجې ته وي او دا برعکس ناشونی دی، لکه: ( واده سفر دی) مفهومي استعاره ده ، يعنې واده د سفر په مټ مفهومي کېدای شي؛ خو بر عکس سفر واده دی، يعنې سفر د واده په مټ مفهومي کيدل ناشوني دي؛ نو په دې ډول د مبدا او موخنې اوبجو شتون په مفهومي استعارو کې يو اړخيز توب پيدا کوي.

ليکاف او ترنر دا ثابته کړه، چې که دوې مفهومي استعارې يو شان اوبجې ولري، يعنې څو اړخيزتوب وښيي؛ خو بيا هم له يو اړخيزتوب څخه خلاصون نه لري. لکه ( انسان ماشين دی يا ماشين انسان دی) څو اړخيزه مفهومي استعارې دي. په دې دواړو مفهومي استعارو کې يو شان اوبجې وجود لري. د مبدا اوبجې (ماشين) ځانگړنې

«دقیق کارکوونکی» د موخنې اوبجې (انسان) ته راانتقال کړي، په بله مفهومي استعاره کې د مبدا اوبجې (انسان) لکه د احساساتو درلودل او اراده، موخنې اوبجې (ماشین) ته د نقشې په مټ راانتقال شوي، برعکس کول د دواړه لوریو ناشوني دي، ځکه ماشین د انسان غوندې ځانګړنې نه لري، یوازې هغه څه ترسره کوي، چې ورته جوړ شوی دی.

## مفهومي ګډون

د مفهومې ګډون نظریه په ادراکي ژبپوهنه کې د ګیلس فاکونیر (Gilles Fauconnier) او مارک ټرنر (Mark Turner) له خوا رامنځته شوې ده. دوی دا نظریه د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې وړاندې کړه او په خپل کتاب (" The Way We Think: Conceptual Blending and the Mind's Hidden Complexities" ۲۰۰۲)) کې یې تفصیل ورکړ. دا نظریه واضح کوي چې څنګه انسانان بېلابېلې ذهني حوزې یا حوزې سره یوځای کوي ترڅو نوي نظریات، معناوې او ژبنۍ پدیدې رامنځته کړي او د خلاقیت، ژبې او پوهاوي په اړه ژورې پوهې برابروي.

په مفهومي ګډون کې د استعارې خلاف یوه حوزه د بلې حوزې پر مټ نه پېژندل کېږي، بلکې دوې حوزې یو ځای کېږي چې یوه درېیمه حوزه رامنځ ته کړي. دا درېیمه حوزه له لومړۍ او دویمې حوزې څخه جلا او خپلواکه ده. مفهومي ګډون ذهني بهیر دی چې د نوې مانا د رامنځ ته کېدو لامل کېږي او په ورځني ژوند کې مهم رول لوبوي. د مفهومي ګډون او مفهومي حوزه د رامنځ ته کېدو لامل مفهومي استعارې ته ور ګرځي. په استعاره کې ذهني مسایل د واقعي نړۍ پر مټ مفهومي کېږي، خو چې د استعارې بحث پراخ شو، ځیني شرایط مخ ته راغلل چې د داسې ذهني حوزو د را ښکاره کېدو سبب شول چې د واقعي او فزیکي نړۍ سره یې سمون نه لاره. دا حوزې په پیل کې (شونې نړۍګانې) ونومول شوې. په شونو نړۍګانو کې اصلي بحث د شوني موقعیت پر وړاندې شته موقعیت دی. فوکنیه د شونو نړۍګانو له بحثونو الهام واخیست او د ذهني حوزو تیوري یې وړاندې کړه. نوموړي ومونده چې

ادراکي فعالیت په ذهني حوزه کې له یوه شي سره د بل پر پرتله ولاړ دی. ذهني حوزه ځکه مطرح شوې چې د مفهوم سازۍ په کچه مانا پر هندسي، حوزهیي او ملموسو جوړښتونو باندې په استناد سره بنا مومي. ذهني حوزې یا حوزې د مفهومي حوزهوو برخې دي چې ځانګړي معلومات لري. موږ د یوه عبارت د شننې لپاره یوه حوزه، یا حوزې په نظر کې نیسو او د هغو حوزو د اړیکو څرنګوالي ته په کتو سره دغه عبارت تحلیلوو. ددې حوزو د ځانګړنو په اړه ویل کېږي چې: « دا حوزې په خوځنده ډول جوړېږي او د ټولو ورځنیو چارو په مخوراندې ادراکي زمینو کې شته. د ټولو ژبو ترمنځ ګډ قواعد او اصول د هغو د پیدا کېدو پر څرنګوالي اغېز لري» ( قائمي، ۱۳۹۰: ۴۵۳) له بله اړخه فوکنیه په دې اړه لیکي: « ذهني حوزې واړه او جزئي جوړښتونه دي چې د خبرو کولو او فکر کولو په موخه په مختلفو مناسبو موقعیتونو کې جوړېږي». ( فوکونیه،۲۰۰۱: ۵ مخ).

ذهني حوزې هغه وخت رامنځ ته شوې چې ماناسازي د دوو مفاهیمو له بحث څخه وړاندې ولاړه او دې پایلې ته ورسېده چې د عیني مفاهیمو پر مټ د ذهني مفاهیمو له درک څخه د مانا جوړونه پېچلې چاره ده. مثلاً: دا تکرار شوی مثال را اخلو چې «پاریس د فرانسې زړه دی». په دې کې یوه سرچینه حوزه ( اناټومي) او یوه موخنه حوزه (جغرافیه) شته. دا دواړه حوزې د ورته‌والي پر اساس سره نښلي، په دې سره په بدن کې د زړه اهمیت، په فرانسه کې د پاریس اهمیت ته منعکس کېږي. د ذهني حوزو په پېچلي کېدو سره یو بل بحث رامنځ ته شو چې مفهومي ګډون ورته وایي. یعنې د مفهومي ګډون د رامنځ ته کېدو لامل دا و چې ذهني حوزې او مفهومي استعاره د ځینو مانیزو مسایلو په شننه کې پاتې راغلل.

که یو کلیشه شوی مثال بیا راواخلو: « ډاکټر قصاب دی» په دې مثال کې د لومړۍ حوزې ( ډاکټر، خونې، عملیات، ناروغ، درملنې، د عملیات ډول او وسایل...) څخه اخیستل شوی انځور پر دویمه حوزه ( قصاب، قصابي، حیوان، حلالول، وسایل...) باندې انعکاس شوی، خو یوه نوې حوزه یې جوړه کړې ده، چې د مبدا او موخنې

حوزې مانا نه لري. پاس دواړې حوزې مثبتې مانا وې لري، خو درېيمه جوړه کړې حوزه يې منفي مانا لري.

فوکونيه چې د مفهومي ګډون بحث يې رامنځ ته کړ، وايي: « ګډون د تشبه او استعارې په شان يو متداول ادارکي فعاليت دی چې په کلامي او عيني حوزه کې رامنځ ته کېږي» ( فوکونيه،۲۰۰۱: ۸٦). په مفهومي استعاره کې يو فعال ترکيب رامنځ ته کېږي چې د مبدا او مقصد حوزو د مفاهيمو له ګډون څخه جوړ شوی وي. د فوکونيه او ټرنر په نظر په مفهومي ګډون کې څلور حوزې دي: دوې کډېدونکې حوزې، يوه عامه حوزه او يوه ګډلې حوزه. عامه حوزه په دواړو حوزو کې عام او کلي مشترک اطلاعات رامنځ ته کوي. ګډلې حوزه همغه ده چې د دوو حوزو له ګډون څخه رامنځ ته کېږي، خو يو نوی مفهوم به جوړوي. «دا دوې حوزې په مفهومي استعاره کې د شته حوزو پر خلاف موقتي دي او کار يې يوازې دا دی چې درېيمه حوزه جوړه کړي». (کولسن او اوکلي، ۲۰۰۰: ۴مخ)

## د مفهومي استعارې او مفهومي ګډون توپير

په ادراکي ژبپوهنه کې، استعارې او مفهومي ګډون سره تړلي، خو جلا مفاهيم دي چې تشريح کوي موږ څنګه معناوې درک او رامنځته کوو. پورته مو دواړه په تفصيل تشريح کړل، خو دلته د دوی توپيرونه لنډ بيانوو:

**لومړی:** استعارې يوه مفهومي حوزه د بلې په مرسته درک کوي. دوی عناصر او اړيکې له يوې حوزې څخه بلې حوزې ته انتقالوي. يعنې له مبدا حوزې څخه موخنې حوزې ته. خو په مفهومي ګډون کې له بېلابېلو ذهني حوزو څخه عناصر يوځای کوي تر څو نوې معناوې رامنځته کړي. دا تر استعارو يو ډېر متحرک او انعطاف منونکی بهير دی.

**دويم:** استعارې عموماً يو اړخيزې دي. يوه حوزه (منبع) د بلې حوزې (هدف) د درک لپاره کارول کيږي. يعنې يوه پر بله درک کېږي، خو مفهومي ګډون دوې مدخلي حوزې لري چې له ګډ مفهوم سره مرسته کوي. په دې کې د دواړو حوزو مدخلي

حوزې یو ځای کېږي او یوه ګډلې حوزه رامنځ ته کوي، خو ډېرى وخت داسې جوړښتونه یا معناوې رامنځته کوي چې په اصلي حوزو کې نشته.

**درېیم:** تمرکز: استعارې د دوو حوزو ترمنځ سیستماتیک تړاوونو باندې ټینګار کوي او عموماً په کلتوري یا تجربي ګډو چارو کې ریښې لري. مفهومي ګډون بیا د بېلابېلو ذهني حوزو د یوځای کولو له لارې پر خلاقیت او د نوي نظریاتو په رامنځته کولو باندې ټینګار کوي. دا یوازې ساده له یوې حوزې بلې ته په انتقال باندې محدود نه دی او پیچلې تعاملات او رامنځته شوي معناوې را نغاړي.

**څلورم:** که څه هم مفهومي استعاره د خلکو د فکر د څرنګوالي په اړه زیات معلومات راکوي، خو مفهومي ګډون تر ډېره د هغو بهیرونو په اړه دی چې په وسیله یې لنډمهاله ذهني حوزې او په هغو کې دننه ماناوې جوړېږي.

**پینځم:** مفهومي استعاره او مفهومي ګډون د مفهومسازۍ مختلفو اړخو ته اشاره کوي، خو دواړه یو د بل تکمیلوونکي دي.

## پایله

مفهومي استعاره د عیني مفاهیمو او څېزونو پر مټ د انتزاعي مفاهیمو درک کول دي. یعنې په مفهومي استعاره کې انتزاعي پدیدې د عیني پدیدو او شیانو پر مټ مفهومسازي کېږي. په مفهومي حوزه کې دوې حوزې وي چې یوه د بلې پر مټ مفهومسازي کېږي. په مفهومي ګډون کې بیا څلور حوزې وي، چې یوه یې عامه وي، بیا دوې حوزې سره یو ځای کېږي او یوه درېیمه حوزه جوړوي چې له دوو حوزه سره یې مانیز توپیر وي. په ټولیز ډول، پداسې حال کې چې استعارې یو ډول ادراکي میکانیزم دی د دې لپاره چې یو مفهوم د بل په مرسته درک کړي، مفاهیمې ګډونه یو پراخ او ډېر انعطاف منونکی ادراکي بهیر دی چې د بېلابېلو ذهني ځایونو د یوځای کولو له لارې د نویو معناوو رامنځته کولو اجازه ورکوي. استعارې عموماً د دوو حوزو ترمنځ

مستقیم لېږد را نغاړي، خو مفهومي ګډون د څو ذهني حوزو یوځای کول را نغاړي. مفهومي ګډون یو ډېر پیچلی او انعطاف منونکی بهیر دی چې نوې معناوې رامنځته کوي، په داسې حال کې چې استعارې ډېر مستقیم لېږد دی. استعارې زموږ سره مرسته کوي چې یو شی د بل په وسیله درک کړو او پر اړیکو باندې ټینګار کوي. مفهومي ګډون د نوو معناوو د رامنځته کولو له لارې د بېلابېلو مفاهیمو په یوځای کولو باندې ټینګار کوي.

## مأخذونه


۱. حمیدزی، راحله ( ۱۴۰۲) .نظریه‌های زبانشناسی. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

۲. ښکلی، اجمل ( ۱۴۰۱). د ژبپوهنې معاصرې نظریې. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

۳. قائمي نیا، علیرضا (۱۳۹۰). معناشناسی شناختی قرآن. تهران: پژوهشگاه فرهنگ و اندیشه اسلامی.

٤. نیلي پور، رضا (۱۳۹۸) زبانشناسی شناختی. تهران: هرمس

٥. Coulson Seanna, Todd Oakley (۲۰۰۰), Blending basics. Cogn Linguist. New Jersey: Lawrence Erlbaum Associates, Publishers .

٦. Fauconnier Gilles (۲۰۰۱), Conceptual blending and analogy. In. Cambridge: MIT Press .

٧. Langacker, Ronald (۲۰۰۸), Cognitive Grammar a Basic Introduction. Oxford University Press.

څېړندوی محمد اتل انګار

# په تاریخي ژبپوهنه کې قیاسي بدلون

# Analogical Change in Historical Linguistics

Assistant Prof. Mohammad Atal Angaar

## Abstract

Analogy is a part of historical linguistics that is studied under the topic of language change. Analogy, also referred to as analogy in English, comes from the French word analogia. If we want to give a simple example of analogy, we can say something like this: Mars is a planet, and every planet rotates. Therefore, based on analogy, we can say that Mars rotates. The conclusion that Mars rotates is drawn from the two previous statements. This example is from a logical perspective, and According to historical linguistics, analogy (analogical change) works as follows: there is a "korba" and a "melma", In Dari the word for "melma" is mizbān, In Pashto based on analogy, the components "miz" and "ma" have been combined to form a new word (mizma), which is created by analogy with mizbān. This article will explore such analogical changes in language through the lens of historical linguistics.

## لنډیز

قیاس د تاریخي ژبپوهنې یوه برخه ده چې د ژبني بدلون تر بحث لاندې مطالعه کېږي. قیاس ته انالوژي هم وايي چې د فرانسيي ژبې له Ana logia څخه اخیستل شوې ده. قیاس که په ساده الفاظو کې تشریح کړو نو داسې دی چې: مریخ یو ستوری دی او هر ستوری ځرخېږي. نو د قیاس له مخې ویلای شو چې: مریخ ځرخېږي. دغه د مریخ ځرخېدل مونږ له پورتنیو دوو جملو څخه قیاس کړل. دا بېلګه د منطق له مخې وه او د تاریخي ژبپوهنې له مخې قیاس (د قیاسي بدلون) داسې دی چې: یو «کوربه» وي او بل «مېلمه»، مېلمه ته په دري ژبه کې «مېزبان» وايي، په پښتو ژبه کې د قیاس له مخې د مېزبان «مېز» او د مېلمه «مه» را اخیستل شوي دي چې یو نوی ویی یې د «مېزمه» په نوم رامنځته کړی دی چې له کوربه څخه قیاس شوی دی. په دې مقاله کې به د ژبې همدغه قیاسي بدلون د تاریخي ژبپوهنې په رڼا کې وڅېړل شي.

## سریزه

ژبپوهنه په لویه کې دوه برخې لري چې یوې ته یې تطبیقي ژبپوهنه ( Applied Linguistics) او بلې ته یې نظري ژبپوهنه (Theoretical Linguistics) وايي. نظري ژبپوهنه بیا پر ګڼو څانګو وېشل شوې ده، چې یوه څانګه یې تاریخي ژبپوهنه ده او تاریخي ژبپوهنه هم ګڼې ځنګزنې برخې لري، چې یوه برخه یې آرپوهنه ده او آرپوهنه بیا د تاریخي ژبپوهنې هغه برخه ده چې د یوې ژبې د لغتونو ریښې څېړي او د دې ترڅنګ ژبني بدلونونه هم تر څېړنې لاندې نیسي او په ژبنیو بدلونونو کې بیا یو ډول بدلون قیاسي بدلون دی چې په دې مقاله کې پرې بحث او څېړنه کېږي، چې وپېژندل شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې په ژبنیو بدلونونو کې قیاسي بدلون د تاریخي ژبپوهنې له مهمو پدیدو څخه شمېرل کېږي چې د ژبني بدلون منظم او ذهني

میکانیزم بیانوي، قیاسي بدلون ښیي چې ویونکي څنګه ژبه د خپل ذهن له لارې جوړوي او نامعمولې بڼې یې د پېژندل شویو قاعدو پر بنسټ عیاروي، همدا راز قیاسي بدلون د ژبنیو ګډوډیو د مخنیوي لپاره لار هواروي او په پښتو ژبه کې دغه ډول ګډودۍ موجودې دي. د دې څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې قیاسي بدلون د تاریخي ژبپوهنې په ټولو برخو کې شته، په ژبني تحول کې ډېر بدلونونه یوازې د ګرامري شرایطو پر بنسټ نه دي رامنځته شوي، بلکې د ویونکو ذهني توقعاتو، تحلیل او تشبېه له مخې یې بڼه بدله کړې ده. دا بدلونونه کله ناکله له نورمال تحول سره توپیر لري، او د ژبې د خپل‌سري بدلون یوه نښه بلل کېږي. له همدې امله، د قیاسي بدلون له پامه غورځول د تاریخي بدلون د عمق له درکه غفلت ګڼل کېږي. سربېره پر دې، قیاسي بدلونونه کولای شي د ژبې پر معیاري کېدو، لهجه‌ییز توپیر، او حتا پر ژبنیو اړیکو اغېزې وښندي. نو د قیاسي بدلون پېژندنه او تحلیل نه یوازې د ژبني بدلون د دقیق فهم لپاره مبرم دي، بلکې د نورو ژبپوهنیزو څېړنو لپاره هم بنسټیزه معنا لري. تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې پر قیاسي بدلون داسې څېړنه نه ده شوې چې حساب پرې وشي، په پښتو ژبه کې دې خلا ته په کتلو سره دا مقاله ولیکل شوه.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه په تاریخي ژبپوهنه کې د قیاسي بدلون ښننه او تحلیل دی او د بېلګو په برخه کې یې د پښتو ژبې له بېلګو څخه کار اخیستل شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱. قیاس څه ته وایي؟

۲. قیاسي بدلون څه ته وایي؟

۳. په تاریخي ژبپوهنه کې قیاسي بدلون څه ډول رامنځته کېږي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشريحي ـ تحليلي ميتود څخه کار اخيستل شوی او د دې څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې متن

تاريخي ژبپوهنه د نظري ژبپوهنې هغه برخه ده چې په بېلابېلو تاريخي دورو کې په ژبه کې رامنځته شوی تحول او بدلون تر څېړنې لاندې نيسي. يا په بله وينا: تاريخي ژبپوهنه د يوې ژبې هغه توکي چې تشريحي ژبپوهنې تيار کړي وي په څو تاريخي دورو کې د دې لپاره ترڅېړنې لاندې نيسي چې د هغوی بدلونونه د وخت په اوږدو کې په نښه کړي. «د ژبپوهنې په دې برخه کې د ژبې هغه تحولات او بدلونونه تر غور او څېړنې لاندې نيول کېږي چې په بېلابېلو تاريخي دورو کې ورپېښ شوي وي. په تاريخي ژبپوهنه کې د يوې ژبې توکي چې په دوو يا زياتو دورو کې د تشريحي ژبپوهنې له مخې چمتو شوي وي، تر مطالعې او څېړنې لاندې نيول کېږي، څو د وخت په اوږدو کې د هغو تحولات يا بدلونونه په ګوته شي» (همای، ۱۴۰۱ل: ۱۵مخ)

په پورتنيو تعريفاتو کې آره موخه د ژبې تحول دی او دا تحول د تاريخ په څو دورو کې په يوه ژبه کې رامنځته کېږي. په عمومي ډول په ژبه کې تحول يا بدلون د دوو لاملونو له امله رامنځته کېږي: يو يې د ژبې د بدلون باندني (بهرني) لاملونه دي او بل يې د ژبې د بدلون دنننی (داخلي) لاملونه دي. د ژبې باندني (بهرني) لاملونه له ټولنې سرچينه اخلي چې په هغو کې فرهنګي، جغرافيايي، استعماري، مذهبي او نور شامل دي او د ژبې د بدلون دنننی (داخلي) لاملونه د هغې ژبې په نظام کې دننه رامنځته کېږي، دلته د ژبې له نظام څخه موخه د ژبې ګرامر دی او په دې برخه کې فونولوژيکي بدلونونه، مورفولوژيکي بدلونونه، نحوي بدلونونه، معنايي بدلونونه او بيا په دوی پسې قياسي بدلونونه دي چې په ژبه کې رامنځته کېږي او همدا بدلونونه د ژبې د پراختيا او ځوړتيا سبب کېږي. تر دې ځايه پر دې خبره وشوه چې قياس د تاريخي ژبپوهنې يو بحث دی او د ژبې د بدلون يوه برخه تر څېړنې لاندې نيسي. اوس به پر دې بحث

وشي چې په عمومي ډول قیاس څه ته وایي؟ زما د څېړنو پر بنسټ قیاس هغه منطقي لړۍ ده چې د دوو څیزونو ترمنځ د ورته والي پر بنسټ یوه پایله څرګندوي. یا په بل عبارت: قیاس په عمومي توګه د دوو څیزونو یا مفکورو ترمنځ د ورته والي پر بنسټ د یوې نوې پېښې یا حالت د حل کولو لپاره کارول کېږي. په دهخدا قاموس کې داسې تعریف شوی دی: «هغه وینا ده چې له دوو یا څو قضیو (ادعاوو) څخه جوړه ده، چې د هغې منل د بلې وینا د منلو سبب ګرځي، کومه چې د دغې وینا پایله ده. خواجه طوسي د قیاس په تعریف کې وایي: قیاس هغه ادعا ده چې د یوه قاطع بیان پر ډېروالي دلالت وکړي، څرنګه چې د هغه بیان له اورولو وروسته پر خپل ذات کې له ناچارۍ څخه یو بل قاطع بیان رامنځته شي. لکه: هر انسان حیوان دی، او هر حیوان جسم دی. پایله: هر انسان جسم دی». (دهخدا، ۱۳۸۷: ص۲۱۳۲) د قیاس تر دې پېچلي تعریف وروسته دې پایلې ته رسېږو چې قیاس د استدلال یوه بڼه ده چې د دوو څیزونو ترمنځ د ورته والي پر بنسټ یوه پایله وړاندې کوي. قیاس په بېلابېلو علومو لکه: منطق، حقوق، ژبپوهنه، فلسفه او آن په ساینسي او روزنیزو مطالعاتو کې کارول کېږي، خو زموږ آره موخه په تاریخي ژبپوهنه کې د قیاسي بدلون مطالعه ده، نو له نورو علومو څخه تېرېږو او راځو اصل مطلب ته. لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه چې د ژبې د بدلون په دنني (داخلي) لاملونو کې قیاس هم د مطالعې او بحث وړ دی، نو ویلای شو چې په ژبپوهنه کې قیاس هغه لړۍ ده چې د ژبې قواعد د یوې بېلګې پر بنسټ پر نورو ټکو تطبیقېږي. په دې اړه د تاریخي ـ پرتلیزې ژبپوهنې تیوري اثر کې داسې راغلي دي: «د ژبو د بدلون د داخلي عواملو ترڅنګ قیاس هم د ژبو د تحول یو له اړینو فکتورونو څخه ګڼل کېږي، ځینې پوهان خو لا دا هم وایي چې تر غږیز بدلون وروسته په دویمه درجه کې قیاس ډېر پېښېږي» (ساپی، ۱۴۰۲: ۲۳۰مخ)

کورش جنتي په یوه وړه لیکنه (قیاس در زبان فارسي) کې لیکي: «په ژبپوهنه کې یوه قاعده د قیاس په نوم ده، په دې معنا چې د ځینو کلمو جوړښت له نورو کلمو څخه

په تقلیدي بڼه راخیستل شوی دی د ساري په توګه په «سردا» کلمه کې «د» د «ګرما» له کلمې څخه په قیاسي ډول په «م» اړول شوی، چې «سرما» کلمه ترې جوړه شوې ده، کېدای شي له قیاس پرته به د ډېرو کلمو جوړښت اوس بله بڼه درلودای.» (جنتي، ۱۴۰۲: ویب)

د قیاس په اړه انګرېز ژبپوه وینفرید فلیپ لیهمن د تاریخي ژبپوهنې مبادي کتاب کې چې پوهنمل بایزید اڅک ژباړلی دی داسې وایي: «قیاس داسې یوه عملیه ده چې د هغې په واسطه مورفونه، د مورفونو مجموعې یا ژبني جوړښتونه بدلېږي یا په ژبه کې د موجودو جوړښتونو له مخې نوې طرحې جوړېږي.» (لیهمن، ۱۳۹۹: ۲۴٦مخ)

یا: «قیاس هغه پروسه ده چې په مرسته یې یوه ژبنۍ بڼه د نورو ژبنیو بڼو په مرسته، چې ورسره اړونده وي، ورته او یو شان کېږي. قیاس د ژبو د تحول یو له آرو عواملو څخه دی، چې د ژبو قواعد منظموي او یو منظم چوکات ته یې برابروي. په قیاس کې یوه یا څو ژبنۍ بڼې په پام کې نیول کېږي او په تقلید یې قیاسي بڼې جوړېږي.» (ساپی، ۱۴۰۲: ۲۳۰مخ)

له پورتنیو څرګندونو څخه دا پایله لاس ته راځي چې قیاس د پرتله کولو له لارې ترسره کېږي، یعنې د یوې بڼې معلومات له بلې بڼې سره د ورته والي له مخې تړل کېږي. اړینه نه ده چې دغه تړون دې تل سم وخېژي ځکه چې د قیاس ځانګړنه همدا ده چې یا به سم خېژي او یا به ناسم، په دې معنا چې قیاس به یا سم وي او یا به ناسم وي. د مثال په ډول: ویشت د شلو په معنا دی چې له مخې یې څلوېښت هم یادولای شو چې /ښ/ پر /ش/ اوښتی دی، همدې عملیې ته قیاس ویل کېږي او دا چې دا قیاس سم دی که ناسم یوازې د منطق په تله یې تللای شو، خو که چېرته قیاسي ځواب نه غواړو نو بیا یې د علمي ځواب په لټه کې کېږو، چې په دې اړه ډارمستېټر د مورګنستېرن له قوله په تاریخ تلفظ و صرف پشتو کتاب کې داسې لیکلي دي: «په پخوانۍ آریاني کې [vîsati] کلمه د شل په معنا لومړی پر [všaδ] تبدیل شوی او د

پیل «و» یې چې سپک تلفظ یې درلود لوېدلی او «ب» پر «ل» معلوم دی او په دې ډول شل [lšə] منځ ته راغلی دی».( ډارمستېټر، ۱۴۰۰ل، ۱۵۰ مخ)

په ژبه کې د قیاسي بدلون لپاره اړ یو چې واضح مثالونه هم راوړو، پورتنی مثال لږ پېچلی دی او یوازې فونیمیکي بدلون را په گوته کوي، دلته به داسې بېلگه راوړو چې مورفولوژیکي بدلون په کې رامنځته شوی وي. په پښتو ژبه کې چې موږ د «سپوږمۍ» په نامه کوم څه پېژنو دا په زړه پښتو کې د «اوږمۍ» په بڼه و او اوږمۍ یې د اوسنۍ سپوږمۍ ټولې کرې ته وایه، د نوې میاشتې لپاره چې په عربي کې ورته هلال وایي پښتنو «اوږمکه یا اوږمکۍ» بلله او د بدر یا ماه تمام حالت ته یې «سپینه اوږمۍ» ویله، همداراز کله به چې سپوږمۍ تندر ونیوله دې حالت ته به یې «توره اوږمۍ» ویله.

د اوږمۍ ، اوږمکه او اوږمکۍ الفاظ میرزاخان انصاري، سعید خټک، خوشحال خان خټک، حمید مومند او نورو پخوانیو شاعرانو په خپلو شعرونو کې په واضح ډول راوړي دي چې دلته به د هر یوه شاعر یو یا دوه هغه بیتونه راواخلو چې دا الفاظ یې په کې راوړي دي. میرزاخان انصاري وايي:

دوې وروځې تکې تورې، پرې دپاسه وسمه کړې

لکه اوږمۍ دي نرۍ، کرشمه یې دلبري کا

(رفیع، ۱۳۹۴: ۴۸ مخ)

سعید خټک وايي:

چې یې نمر، اوږمۍ نسبت نعل د آس دی

د سعید د امېد بوس دغه رکاب شه

(رفیع، ۱۳۹۴: ۴۸ مخ)

خوشحال خان خټک وايي:

لمر راوخېژي سبا، بېگاه پرېوځي

چا لويي خوبي تر سره نه ده وړي

چې کمال لري زوال ورلره تل وي
اوږمکۍ کله پوره کله نيمگړې
(ختک، ۱۳۸۷: ٦٨٠ مخ)

يا:

ورته گوره زما يار څه ننداره دی
لکه اوږمکۍ په ستورو کې ښکاره دی
(ختک، ۱۳۸۷: ۲۴۵ مخ)

همداراز عبدالحميد مومند هم دا لفظ په خپله شاعرۍ کې راوړی دی:

يوه ورځ يې د درياب په غاړه لکې
خيمې وليدې په مثل د اوږمکې
(مومند، ۱۳۸٦: ۵٦۳ مخ)

يا:

له فلکه سوال د نس لپاره مه کړه
درکوي که په کچکول کښې اوږمکه
(مومند، ۱۳۸٦: ۱۹۵ مخ)

اشرف خان هجري وايي:

د هالې زېب يې په مخ د اوږمۍ هسې کړ
چه پيدا شه په دا مخ باندې کنار خط
(هجري، ۱۹۵۸: ۳٦٦مخ)

په دې اړه څېړندوی حبيب الله رفيع داسې وايي: «اوږمۍ د مياشتې تر دوراني معيار پرته د نورو ټولو حالتونو لپاره بنيادي نوم دی، دا ځکه چې دا د ټولې کرې او قرص نوم دی او پاتې نور نومونه له همدې نامه څخه مشتق شوي او رازېږېدلي دي. جالبه ده چې د «سپوږمۍ» ترکيب هم د «اوږمۍ» په ترکيبي وروستاړي جوړه شوې ده، يعنې

«سپینه + اوړمۍ» چې د ترکیب د لنډیزي قانون په بنا سپوږمۍ شوې ده. د سپوږمۍ محاق حالت او کلمه «تروږمۍ» هم د اوړمۍ په ترکیب ولاړه ده «توره + اوړمۍ» چې د زیات استعمال او د ترکیب د لنډیزي خاصیت له امله «تروږمۍ» شوې او د «اوړمۍ» هغه حالت تصویروي چې له سترګو نهامه وي او د شپې تیاره په خپل ټول قوت په دنیا راخوروي» (رفیع، ۱۳۹۴: ۵۰-۴۹ مخونه)

پورتنۍ بېلګې ته که ځیر شو دا بدلون قیاسي دی ځکه چې د «سپینې» پر ځای یوازې «سپ»، همدا راز د «تورې» پر ځای یوازې «تر» راغلي دي چې اوس په پښتو کې د اوړمۍ ځای سپوږمۍ نیولی دی او تورې اوړمۍ ته تندر ویل کېږي، همداراز د «تروږمۍ» پخوانی تعبیر بالکل له منځه تللی دی او د شپې مطلقې تیارې ته ځانګړې شوی دی. همدې بدلون ته قیاسي بدلون وایي چې په ژبه کې رامنځته شوی دی.

د قیاسي بدلون یوه ډېره ساده بېلګه وړاندې کوو چې پر پورتنیو پېچلو مثالونو باندې سم پوه شو: په پښتو ژبه کې مېلمه او کوربه دوه جلا جلا وییونه دي. په ځینو پښتون مېشتو سیمو کې د کوربه پر ځای د مېزمه کلمه کارول کېږي چې د میزبان له کلمې څخه اخیستل شوې ده او میزبان د دري ژبې ویی دی خو د دې ترڅنګ مېزمه د قیاسي بدلون پایله ده. په دې کلمه کې د «بان» پر ځای «مه» د «مېلمه» له ویې څخه په قیاسي ډول راخیستل شوی دی او د «مېزبان» کلمې قیاسي بدلون موندلی دی چې «مېزمه» ترې جوړ شوی دی.

یوه وروستۍ بېلګه د «بصور» کلمه ده چې قیاسي بدلون یې کړی دی، راځئ وګورو چې څنګه؟ «بصور» داسې ویی دی چې ریښه یې عربي ده؛ خو قاعده پرې د پښتو ژبې تطبیق شوې ده. په عربي ژبه کې «بصر» د لید یا نظر په معنا کارول کېږي. په پښتو ژبه کې د «ور» وروستاړی په ډېرو کلمو کې شته، لکه: خوله ور، زړور، سترګور، ښکرور، شونډور، بڼور، غوږور او داسې نور. د «بصور» په کلمه کې «بص» له عربي او «ور» له پښتو څخه اخیستل شوي چې یوه کلمه «بصور» ترې رغول شوې ده. څرنګه چې د

«بصر» کلمې د ګرامري قاعدې له مخې بدلون نه دی کړی؛ بلکې د قیاس له مخې یې بدلون موندلی او «بصور» کلمه ترې رغېدلې ده، نو ویلای شو چې د «بصور» د کلمې ریښه عربي او وروستاړی ورسره د پښتو ژبې یوځای شوی دی او د «بصر» له کلمې څخه یې «بصور» ته له «سترګور» څخه قیاسي بدلون کړی دی. په پای کې ویلای شو چې قیاسي بدلون په ژبه کې د بې قاعدې بڼو د منظمولو لامل کېږي، په ټولیز ډول ویلای شو چې قیاس د ژبې د منظمېدو یو لامل ګڼل کېږي، خو کله ناکله قیاسي بدلون استثناوې رامنځته کوي او د ژبني سیستم بدلون ته زمینه برابروي.

## پایله

قیاسي بدلون چې د تاریخي ژبپوهنې یو له اړینو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي په پښتو ژبه کې یوه نوې موضوع ده چې د دوو څېزونو ترمنځ د ورته والي له مخې یوه پایله وړاندې کوي او دا پایله دوه اړخونه لري چې یا به سم وي او یا به ناسم. قیاسي بدلون په ژبه کې نظم راولي، له ګډوډېیو څخه یې ژغوري او د ژبني سیستم بدلون ته لار هواروي. قیاسي بدلون د پښتو ژبې په ځینو کلمو کې رامنځته شوی دی چې په مقاله کې لږ او ډېر بحث پرې وشو او دا پایله ترې لاس ته راغله چې «سپوږمۍ او تروږمۍ» له «سپینه اوږمۍ او توره اوږمۍ» څخه د قیاسي بدلون په سبب تحول کړی دی، «مېزمه» د «کوربه» په معنا د دري ژبې د «مېزبان» له «مېز» او د «مېلمه» له «مه» وروستاړي څخه رغېدلی «مېزمه» د قیاسي بدلون په سبب تحول کړی دی او همدارنګه «بصور» د عربي ژبې له «بصر» څخه د «بص» او د پښتو ژبې د «سترګور» له وروستاړي «ور» څخه رغېدلی «بصور» د قیاسي بدلون په سبب تحول کړی دی. دا چې دا موضوع په پښتو ژبه کې نادره ده په ډېرو ساده الفاظو بیان شوه، ګنې په پښتو ژبه کې ډېرې پېچلې کلمې شته چې قیاسي بدلون یې کړی دی، لکه: له «ویشت» څخه «څلوېښت» یا له «اته» څخه د «اتیا» کلمو قیاسي بدلون چې ډېرې ژورې مطالعې او څېړنې ته اړتیا لري.

## مأخذونه


۱. جنتي، کوروش. قیاس در زبان فارسي، د خپرېدو نېټه، ۱۴۰۲/۱۲/۲۸، د ګټې اخیستنې نېټه ۱۴۰۳/۱۱/۱۲، www.amordadnews.com

۲. خټک، خوشحال خان. د خوشحال خان خټک کلیات (د عبدالقیوم زاهد مشواني په اوډنه، پرتلنه، سریزه او وییپانګه)، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۷ل.

۳. دهخدا، علي اکبر. لغتنامه دهخدا (جلد چهارم)، چاپخانه دانشگاه تهران: تهران، ۱۳۸۷هـ ش.

٤. ډارمسټېټر، ګایګر او مورګنسټېرن، بن ونیسټ. تاریخ تلفظ و صرف پشتو، (ترجمه: دوکتور عبدالغفور روان فرهادي، با تعلیقات استاد عبدالحی حبیبي)، سوله مطالعاتي، څېړنيز او خپرندوی مرکز: کابل، ۱۴۰۰ل.

۵. رفیع، حبیب الله. ژبساتنه، مومند خپرندویه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۴لمریز.

٦. ساپی، اربازخان. د تاریخي ـ پرتلیزې ژبپوهنې تیوري، سمون خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۴۰۲ لمریز.

۷. لیهمن، وینفرید فلیپ. د تاریخي ژبپوهنې مبادي (ژ: پوهنمل بایزید اخک)، صداقت خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۹لمریز.

۸. مومند، عبدالحمید. د عبدالحمید مومند کلیات (د محمد آصف صمیم په سریزه، اوډون، څیرنه او وییپانګه)، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸٦ل.

۹. هجري، اشرف خان. د اشرف خان هجري دیوان (د همېش خلیل په زیار)، شاهین ولي پرېس: پېښور، ۱۹۵۸ز.

۱۰.همای، یحیا. پرتلیزه ـ تاریخي ژبپوهنه، پکتوس خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۴۰۱ لمریز.

څېړندوی فریدالله فرحان

# پر «الفبای زبان پشه‌یی» اثر ژبنۍ کره کتنه

# Critical Linguistic Review of the “Pashayi Language Alphabet”

Assistant prof. Faridullah Farhan

**Abstract**

This study provides a critical linguistic review of the "Alphabet of the Pashayi Language," focusing on the graphemes assigned to the sounds of the Pashayi language. It highlights that some graphemes in the work actually represent various allophones of the Pashayi phonemes, which should not be assigned distinct graphemes in the orthography. In this alphabet, certain significant sounds of the Pashayi language are misrepresented, as alternative graphemes have been assigned to them. These graphemes fail to accurately reflect the original sounds.

Additionally, some graphemes are not practically applicable because their usage scope is unclear, stemming from the fact that the graphemes are not systematically standardized. This lack of standardization leads to confusion with other graphemes. These are some of the issues observed in the Pashayi language alphabet presented in the work.

The study also addresses other related problems in a detailed and reasoned manner, ultimately aiming to refine and resolve the challenges in the Pashayi language alphabet to make it relatively complete.

## لنډیز

په دې څېړنه کې د «الفبای زبان پشه‌یی» اثر کې د پشه‌يي ژبې د غږونو ټاکل شویو ګرافيمونو ته کره کتنه شوې چې ځينې ګرافيمونه په اصل کې د پشه‌يي ژبې فونيمونو بېلابېل الوفونونه دي او الوفون ته په ليکدود کې ګرافيم نه ټاکل کېږي. په دې الفبا کې د پشه‌يي ژبې ځينې ارزښتناکه غږونو د تشخيص پر ځای هغو ته نور ګرافيمونه ټاکل شوي دي چې نوموړي ګرافيمونه هغه اصلي غږ نه شي منعکس کولای او په همدې ډول د ځينو غږونو ګرافيمونه د طبيق وړ نه دي، ځکه چې د طبيق ساحه يې نه ليدل کېږي، هغه ځکه چې ګرافيمونه معياري نه دي جوړ شوي او د نورو ګرافيمونو سره التباس هم پيدا کوي. دا هغه ستونزې دي چې د نوموړي اثر په پشه‌يي ژبې الفبا کې ليدل کېږي. داسې نورې مسألې په مدلل ډول روښانه شوي چې په پايله کې د پشه‌يي ژبې الفبا په نسبي توګه بشپړه او ستونزې يې حل شي.

## سريزه

پشه‌يي ژبه د افغانستان په ځينو ولايتونو کې لکه: کاپيسا، لغمان، ننګرهار، کونړ او نورستان ويوونکي لري.د تاريخي پېښو او واقعاتو له مخې د هېواد نورو سيمو ته هم کوچيدلي. د پشه‌يي ژبې ليکدود د تعميم لپاره په دا وروستيو پنځوسو کلونو کې د ليکوالانو پام اوښتی او په لومړی ځل د افغانستان د علومواکاډمی پوهانو او څېړونکو د پشه‌يي ژبې لپاره په ۱۳٦۷ هـ ش کې الفبا ترتيب او (د الفبای زبان پشه‌یی) په نوم اثر کې چاپ کړه، چې د همدې الفبا پر اساس د پشه‌يي ژبې يو شمېر آثار د علومو اکاډمی او علمي غږو او نورو ليکوالانو لخوا چاپ شوي دي، «الفبای زبان پشه‌یی» اثر د پشه‌يي ژبې رشد او غنامندی په برخه کې په تاريخي لحاظ ډېر لوړ مقام لري خو دا

چې ژبې د وخت او بېلابېلو حالاتو له امله بدلون کوي، په همدې اساس په لیک کې هم بدلون راځي او د علومو پرمختګ سره په لیک کې نوي مثبت بدلونونه راځي، نو د دې ضرورت محسوسیږي چې پشه‌یي ژبې الفبا ته له سره کتنه وشي چې په دې څېړنه کې په همدې (الفبای زبان یشه‌یی) اثر کې ټاکل شویو ګرافیمونو ته کتنه شوې هغه ټولې ستونزې په دوغه اثر په الفبا کې لیدل کېږي، په ګوته شوي، ترڅو چې په راتلونکې کې معیاري الفبا رامنځته شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې تر اوسه پورې د «الفبای زبان پشه‌یی» اثر ژبنۍ کره کتنه نه وه شوې په دې اثر باندې اوسه پورې کتنه نه ده شوې، نو همدا لامل دی چې د پشه‌یي ژبې د غږونو په ګرافیمونو کې ستونزې ډېرې لیدل کېږي چې تر اوسه پورې دوام کړی.

## څېړنې موخه

هغه ستونزې چې د«االفبای زبان پشه‌یی» نومي اثر کې چې د پشه‌یي ژبې د غږونو لپاره په ټاکل شوو ګرافیمونو کې لیدل کېږي روښانه به شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ په «الفبای زبان پشه‌یی» اثر کې د پشه‌یي ژبې د غږونو ګرافیمونه کومې ستونزې لري ؟

۲ـ د پشه‌یي ژبې اوسنۍ مروجه الفبا څومره میعاري ده؟

۳ـ په شته الفبا کې کوم ګرافیمونه د تطبیق وړ نه دي؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنه مېتود تشریحي، تحلیلي، ساحوي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

د (الفبای زبان پشه‌یی) اثر چې لیکوالان یې دکتور عبدالحکیم هلالي، محمدزمان کلماني او سیداعظم الینای دي. دا کتاب د افغانستان د علومو اکاډمۍ لخوا په ۱۳۶۷ هـ ش کال کې د (۲۰۰۰) ټوکه چاپ شوې. دا اثر په خپل وخت او زمان سره ډېر ستر او ارزښتمن کار د پشه‌يي ژبې په برخه شوي، هغه په دې توګه چې دا الفبا ځلور لسیزې مخکې جوړ شوې چې په هغه مهال ټکنالوژۍ په دې اندازه پرمختګ نه و کړی، نو په دې توګه د خپل وخت او مهال ستر کار ګڼلی شو، ځکه چې په نشت امکاناتو د پشه‌يي ژبې لیکدود لپاره هڅې د ستایلو وړ دي چې د پشه‌يي قوم او ددې ژبې لیکوالان به تل دا خدمت هېر نه کړي. اوس چې د کمپیوټر او ټلکنالوژۍ زمانه ده او د علومو په برخه کې تجربې ډېرې شوي دي، نو لازمه ده چې د د پشه‌يي ژبې پر الفبا بیا کتنه وشي او په کې موجودې ستونزې حل شي چې راتلونکی کې به نسبي بشپړه الفباء رامنځته شي. په دې څېړنه کې په هغو ټولو ستونزې چې په ګرافیمونو کې لیدل کېږي په ترتیب سره روښانه شي. په اول سر کې په همدې اثر کې خپره شوي د پشه‌يي ژبې بشپړ الفباء په کټ مټ په هماغه ډول بېلګو سره وړاندې کېږي او ورسته به ستونزو په اړه خبرې وشي. د پشه‌يي الفبا او نورې بېلګې یې چې په لاندې ډول دی:

| شمیره | معمول توري | د توري نوم | د الفباء فونیمیکي بڼه | په کلمه کې د توري د کارولو ځای | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | پیل | منځ | پای |
| | | | | بېلګه له فونیمیک سره | بېلګه له فونیمیک سره | بېلګه له فونیمیک سره |
| ۱ | آ | {آ}ممودہ الف | ā | آنجویک ānjawek | * | * |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | {اَ}الف محمدده انفی | **ā̃** | **ā̃ṇā آنا** | **mā̃ṇ ماںٟ** | **ahā̃ اهاā̃** |
| ٢ | ا | **الف** | **a** | **anik انیک** | * | * |
| | | | **ā** | * | **pārāl پارال** | **mambā ممبا** |
| ٣ | أ | حمزه دارالف | ä | ä Kin أکن | kyäkın کیأکن | هروانیأ harwānyä |
| ۴ | ب | بي | b | bal بل | bambiri کمبيري | Gulāb گلاب |
| ۵ | پ | پي | p | palā پلا | lapik لپیک | pšā شاپā |
| ٦ | ت | تي | t | tašān تشان | atik اتیک | šā̃t شت |
| ٧ | ٿ | ٿي | ṭ | ṭıli ٿلي | anṭi انٿي | nāṭ ناٿ |
| ٨ | ث | ثي | s(θ) | s(θ)awab ثواب | مثنوي mas(θ)nawi | مثلث mus(θ)alas(θ |
| ٩ | ج | جیم | j | Jāl جال | alanjəni النجني | Wāj واج |
| ١٠ | چ | چي | č | čāṇ چاںٟ | učim اچیم | gunāč گوناچ |
| ١١ | **ځ** | **ځي** | **ǰ** | * | **پوهنځی pohanǰay** | * |
| ١٢ | **څ** | **څي** | **c** | **څارندوی cārandoy** | * | * |
| ١٣ | ح | حي | h | haywān حیوان | mahram محرم | madh مدح |
| ١۴ | خ | خي | x | xāli خالي | axalā اخلا | parāx پراخ |
| ١۵ | د | دال | d | daṛi داڕي | adār ادار | āBād اباد |
| ١٦ | ډ | ډال | ḍ | ḍayin ډیین | unḍer انډر | anḍ انډ |
| ١٧ | ذ | ذال | z | ذکاوت zakāwat | ʢuzar عذر | zākır ذاکر |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ر | رې | r | rasرس | arūšاروش | angārانګار |
| ۱۹ | ړ | ړې | ṛ | ړمبکېک ṛambakek | maṛikمړیک | aṛاړ |
| ۲۰ | ز | زې | z | zayipزییپ | āzanā ازنا | āwāzآواز |
| ۲۱ | ژ | ژې | ž | žukژوک | aždarānاژدرمان | |
| ۲۲ | س | سې | s | swan سوان | āsık آسک | دواس Dəwās |
| ۲۳ | ش | شین | š | šılekشلیک | ašpāṛاشپاړ | wāšواش |
| ۲۴ | **ښ** | **ښین** | **ṣ** | **ṣādiښادي** | **paṣtūnپښتون** | |
| ۲۵ | ص | صوات | s( ) | Sahatصحت | مصالحا musāıhā | Xāsخاص |
| ۲۶ | ض | ضوات | z(z̲) | z̲ruratضرورت | Imz̲aامضاء | āarzعرض |
| ۲۷ | ط | طوی | t(t̲) | tıbطب | mt̲labمطلب | xayāt̲خیاط |
| ۲۸ | ظ | ظوی | z( ) | Zulmظلم | mázlumمظلوم | Láfzلفظ |
| ۲۹ | ع | عین | ç | çālm عالم | mçlm معلم | Dfāç دفاع |
| ۳۰ | غ | غین | ğ | ğamغم | ağatاغت | dāğداغ |
| ۳۱ | ف | فې | f | fáryādفریاد | āfatآفت | Sāfصاف |
| ۳۲ | ق | قاف | q | qád قد | muqām مقام | Sbáq سبق |
| ۳۳ | ک | کاف | k | kārān کاران | ıkālā اکالا | کراوړک kırāṛık |
| ۳۴ | ګ | ګاف | g | gūṛā ګوړا | lıgā لګا | warıg ورګ |
| ۳۵ | ل | لام | l | lāṛ لاړ | kıtalā کتلا | gal ګل |
| ۳۶ | **لهـ** | **لهام** | **λ** | **λ und لهوند** | **lĉλĉkلیلهیک** | * |
| ۳۷ | م | میم | m | mundā موندا | amalā املا | λamلهام |
| ۳۸ | ن | نون | n | nandi نندي | andāانداا | jamān جمان |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۹ | ڼ | نوڼ | ṇ | ۰ | pıṇik پڼیک | kāṇ̃ کاڼ |
| ۴۰ | و | واو | w | waṭikوټیک | māwānماوان | Kāw کاو |
| | | | **ū** | * | **lūnلون** | **būبو** |
| | | | u | * | * | muمو |
| | ۊ | | o | * | košaṛā کوشړا | boبو |
| | وَ | | **ü̈** | * | **شووټک šüwatık** | **šü شو** |
| ۴۱ | هـ | هې | h | hoy هوی | kahaṛā کهړا | gandıhگنده |
| ۴۲ | ء | همزه | a | * | hayat هئیت | * |
| ۴۳ | ی | یې | y | yāwیاو | āyiآیی | āyآی |
| ۴۴ | ي | یای معروف | i | * | čirچیر | miمي |
| | | **یای انفی** | **ĩ** | * | | **šĩ شي** |
| ۴۵ | **ې** | یای مجهول | e | * | kek کېک | Pe پې |
| | | | ê | * | **wêšik وېشیک** | **Pêپې** |
| ۴۶ | **وو{وّ{** | | **au** | * | **lau lauلولو** | **auاوو** |
| ۴۷ | **یی{ یّ}** | | **ai** | * | **kai kınکییکن** | **ewai اېویی** |

(هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم،۱۳۶۷,۱۷- ۱۹مخ)

ددې لپاره چې د ګرافیمونو په ستونزو مو سر خلاص شي، نو ضروري ده چې لومړی الوفونونه وپېژنو او وروسته په ترتیب سره پشه‌یي ژبې دګرافیمونو په ستونزو بحث وکړو چې ببلګې په لاندې ډول دي:

**الوفون**

الوفونونه هغه راز راز اوازونه دي چې د فونيم په تړنګ کې برخه لري، څرګنده خبره ده چې په يوه ژبه کې فونيم په راز راز ډولونو ادا کېږي؛ خو فونيم د ادا کولو راز راز اشکال او بڼې دومره د پاملرنې وړ نه دي؛ ځکه چې دوی هېڅکله هم د معنا د بدلون سبب نه ګرځي. لنډه دا چې الوفون د يواځيني اواز بېلابېلو ډولونو او بڼو ته وايي، چې په دې توګه هر اواز ته څو الوفونونه درلودای شي .لکه: (ب) چې په (بر) کې يو راز ويل کېږي په (غبرګ) کې بل راز او په (خوب) کې بل ډول ويل کېږي. يا په بل تعريف: د يوه غږ مختلف آوازونه د وينا په جريان کې د صوتي او موقعيت له پلوه رامنځته کيږي او د کلمو سر،منځ او پای کې د يوه ټاکلي فونيم جلا جلا آوازونو ته پاملرنه کيږي او د غږونو توپيرونو ته الوفون وايي چې دا ډول ډول الوفونو ته موقعيتي الوفونونه هم وايي او بل ډول يې محيطي دي چې دا ډول الوفونونه د صوتي محيط په نوم هم يادېږيچې د وينا په بهير کې د يوه غږ تلفظ اغيزه کوي چې په پای کې يو غږ د بل غږ ځخه ځينې ځانګړنې اخلي. (محبوب،۱۳۹۶،۲۲مخ) په اړه عبدالحکيم هلالي خپل اثر د ( پښتو ژبې فونولوجي) کې د حتمي الوفونونه تر سرليک لاندې داسې وايي« د وينا په جريان کې يو آواز د بل آواز پر تلفظ اغيزه کوي، چې د دې تأثير پر اساس يو آواز د بل آواز ځخه ځينې خصوصيتونه اخلي لکه: هر واول چې د /m/ او /n/ تر کانسونېنټونو وروسته راشي، د دې کانسونېنټونو تر اغيز لاندې راځي او او پزيز الوفونونه پيدا کوي. همدارنګه هر کانسړنېنټ چې د /o/ او /ū/ تر واولونو دمخه راشي، د همدې واولونو تر تأثير لاندې راځي او سربېره پر نور خصوصيتونو شونډيز خوصيت پيدا کوي. دغه ډول الوفونونه ته محيطي الوفون ويل کېږي او هغه الوفونو چې تفاوتونه يې په صوتي محيط پورې اړه ونه لري او د توپيرونو يې معلوم نه وي موقعيتي الوفونونو په نامه يادېږي. ( هلالي، عبدالحکيم، کلماني، محمد زمان، الينايي، سيد اعظيم ، ۱۳۹۸،۷۱مخ)

**۱ گرافیم- آ(الف محمدوه انفي) /ā**

وروسنتی ، ټینګ او ناګرد خپلواک غږ دی، چې زیاتره د کلمو په منځ او پای راځي(اڅک،۱۳۹۹,۴٦مخ)، خو د کلیمو په پیل کې هم لیدل کېږي.

په (الفبای زبان پشه‌یی) نومي اثر کې الف محمدوده انفي(اَ /ā) ګرافیم سره ښودل شوی دی، بېلګې یې (آڼاāṇā̃، ماڼmā̃ṇ، اهاahā̃) وړاندې شوي دي، (هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم ،۱۳٦۷,۱۷مخ) دلته چې کوم د الف ممدوده انفي بېلګې ښودل شوي دي، هغه هم الف ممدوده(آ) غږ دی، (آ) انفي(پزیز) غږ نه دی، دلته چې کوم مثالونه راوړل شوي دي (آڼا، ماڼ) کې ممدوده الف بېلګې دي. (ڼ) چې یو پزیز غږ دی او د (اهاahā̃)) په کلمه کې د (هـ) ځخه وروسته (نون غنه) غږ دی، دا غږ د اریک ژبو په کورنۍ کې داردي ژبوګروپ په اکثرو ژبو کې شته. په پشه‌یي ژبه کې تر اوسه پورې ورته ګرافیم نه ټاکل شوی یو پزیز غږ دی. دلته پزیز غږونه په الف(آ) تاثیر کوي او دې ته د الف محمدوده (آ) آواز الوفون ورته ویل کېږي.

**ګرافیم شمېره(۲): ا(الف)/a/ā**

الف هم په دوله ډوله فونمیک بڼې(a/ā) سره ښودل شوې دی چې د (a) لپاره د (انیکanik) او د (ā) لپاره (پارالpārāl او ممباmambā ) مثالونه راول شوي دي. (انیکanik) کې د زور الف بېلګه ده او (پارالpārāl او ممباmambā ) د الف محمدوده (آ) یې بېلګې دي. (هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم ،۱۳٦۷,۱۷مخ)

په اصل کې دا الف زور/ a ،کښتنی، منځنی، سست او ناګرد خپلواک غږ دی چې څه نا څه لنډ ویل کېږي، (شیرزاد، ۱۳۹۹ . ٦۷مخ ) زیاتره د کلیمو په منځ او په پای کې راځي. دغه غږ د کلیمو په پیل، منځ او پای درې واړه موقعیتونو کې راځي، د کلمو په پای کې د نشت په برابر راځي چې په معمول لیکدود کې یې ګرافیم د کلیمو

په پیل کې د (ا) په بڼه او په منځ کې نه لیکل کیږي او په پای کې د (ـه،ه) په بڼه لیکل کیږي.

| د کلمې په پای کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې په پیل کې | |
|---|---|---|---|---|---|
| موږ | امه ama | غم | ğam غم | اوس | abat ابت |
| تاسې | ema ابمه | سیند | nandi نندي | خندا | azaā ازنا |

**گرافیم شمېره(۱۱): ځ/ ǰ/**

د (**ځ**) توری په (الفبای زبان پشه‌یی) اثر کې په احتیاطي توگه راوړل شوي چې ځینې سیاسي او اجتماعي اصطلاحات چې د افغانستان په ملي ترمینالوژۍ کې دود دي همغسې ولیکل شي، لکه: پوهنځیpohanǰay (هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم ،۱۳۶۷،۱۷مخ)

دا غږ د پشه‌یي ژبې د «دېگانو یا چوگني» په لهجه کې لیدل کېږي، په ننگرهار او کونړ ولایتونو کې ویونکي لري. دا غږ د پشه‌یي ژبې خپل غږ دی چې د کلمې په پیل، منځ او پای کې راځي. بېلگې یې په لاندې ډول دي:

| د کلمې پای کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې په پیل کې | |
|---|---|---|---|---|---|
| مېږه | ponǰ پویځ | جامې | manǰənā منځنا | ونه | ǰal ځل |
| * | * | زلزله | bɪnǰil بنځیل | زوم | ǰomāy ځومای |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ځېکǰek | اېښودل | پنځیوpanǰiw | پنځلس | * | * |

(گل زمان،کونړ، ماڼوګۍ ولسوالي، کوړنګل، «پشه‌یي ژبې فونولوجي»، څېړندوی فریدالله فرحان، کونړ، څوکۍ،۱۴۰۳/۹/۱۵ل)

**گرافیم شمېره(۱۲): څ/ c/**

د (**څ**) توری هم په (الفبای زبان پشه‌یی) اثر کې په احتیاطي توګه راوړل شوي، چې ځینې سیاسي او اجتماعي اصطلاحات چې د افغانستان په ملي ترمینالوژۍ کې دود دي همغسې ولیکل شي، لکه: څارندویcārandoy (هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم ،۱۳٦۷,۱۷مخ)

دا غږ هم د پشه‌یي ژبې د «دېګانو یا چوګني» په لهجه کې لیدل کېږي، په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې ویونکي لري. دا غږ هم د پشه‌یي ژبې خپل غږ دی چې د کلمې

| د کلمې په پیل کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې پای کې | |
|---|---|---|---|---|---|
| څدایcādāy | څوارلس | پڅیکpəcik | پڅېدل | اینڅaync | سترګې |
| وڅلکwaclɪk | خوسکۍ | ماڅوmāco | مڅ | ڵویڅ ƛoyc | کتېمل |
| څنتېکcanəṭɪk | چرګوړۍ | اوڅومocom | لړم | کوڅkoc | خېټه |

په پیل، منځ او پای کې راځي. بېلګې يې په لاندې ډول دي:

(حبیب الرحمن، ملکزی،کونړ، څوکۍ، دیوه ګل دره،قریه چلس، «پشه‌یي ژبې فونولوجي»، څېړندوی فریدالله فرحان، کونړ، څوکۍ،۱۴۰۳/۹/۱۰ل)

**گرافیم شمېره(۲۴): ښ/ ṣ**

دا (**ښ**) توری هم په (الفبای زبان پشه‌یی)نومي اثر کې په احتیاطي توګه راوړل شوي، چې ځینې سیاسي او اجتماعي اصطلاحات چې د افغانستان په ملي

ترمينالوژۍ کې دود دي همغسې وليکل شي، لکه: ښادي hādi، پښتون paṣtūn .
(هلالي، عبدالحکيم، کلماني، محمد زمان، الينايي، سيد اعظيم ،۱۳٦۷٫۱۸مخ)
دا غږ په پشه‌يي ژبه کې هم شته چې د کاپيسا ولايت د اله ساى ولسوالۍ په لهجه کې نسبت د پشه‌يي ژبې نورو لهجو څخه ډېر ليدل کېږي او د پښتو ژبې د مرکزي لهجې(ښ) په څير تلفظ کېږي چې بېلګې يې په لانددې ډول دي:

| د کلمې په پيل کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې په پاى کې | |
|---|---|---|---|---|---|
| ښوى ṣoay | خوله | ابښت āṣṭ | اته | پوښ puṣ | نباتي سره |
| ښوي ṣoi | سپاړلس | ابښتي āṣṭi | اتلس | | |
| ښايک ṣāik | روښان کول | پښوṣu pa | پښتې | | |
| ښلداړي ṣldāṛi | سپين ږيرى | کښمالي kṣmāli | ريحان | | |

(خان اقا،دلسوز(صافى)،کاپيسا، اله ساى ولسوالي، قريه دروالي، «پشه‌يي ژبې فونولوجي»، څېړندوى فريدالله فرحان، کابل، ۲۲ /۱۴۰۲/۱۳ل)

**ګرافيم شمېره(۳٦): لهـ/ λ**

دا آواز(غږ) د ادا کيدو په وخت کې ژبه مخ پورته اوښتې شکل غوره کوي او د پاسنۍ ژامې د اوريو له بېخونو سره ژبه تماس پيدا کوي او هوا د ژبې له دواړو اړخونو څخه په ټاکلې اندازه د خولې له جوف څخه د سږو په فشار راوځې چې د دې اواز د ادا کېدو عمليه ترسره کېږي.

د (الفباءى زبان پشه‌يي) اثر کې د پشه‌يي ژبې د خاص آواز لپاره **(لهـ)** ګرافيم ورته ټاکل شوى.( هلالي، عبدالحکيم، کلماني، محمد زمان، الينايي، سيد اعظيم،۱۳٦۷٫۱۹مخ) (لهـ) ګرافيم تر ټولو لويه ستونزه دا ده، په هغو کلمو کې چې،

په کې (**ل**/l ، **هـ**/h) غږونه راشي، التباس رامنځته کوي. په لاندې بېلګو کې کتلای شئ :

**لهېم** lhem: ليکل کوم

**لهېوا**/ lhewā: ليکل شوی

**لهېس**/ lhes:ليکل کوو

**لهم**/ lhım: مړ شوم

**ملهم**/ mlhım:يوځای شوم

**پورته بېلګو کې د** (**لهـ** = λ) غږ نشته، بلکې د پشه‌يي ژبې دوه نور غږونه (**ل**/l ، **هـ**/h) راغلي دي. د دې لپاره چې خبره نوره هم روښانه شي، نو لاندې مثال په غور سره ولولئ:

**لهې**/ lıhe: .وليکه(لام/lاو هې/h په تلفظ)

**لهې**/ eλ:درې(د پشه‌يي ژبې ځانګری غږ(لهـλ /) په تلفظ)

**لهم**/ lhım: مړ شوم(لام/lاو هېh / په تلفظ)

**لهم**/ mλ: کار (د پشه‌يي ژبې ځانګری غږ(لهـλ /) په تلفظ)

په پورته کلمو کې يو التباس رامنځته شوی، لوستونکي د مفهوم په لحاظ له ستونزو سره مخامخ دي، چې دلته يې مفهوم بلکل بدل او د لغتونو پر اصلي معنا پوهېدل يې ستونزمن کړي، ځکه د (لهـ) ګرافيم د (ل/l ، هـ/h) ګرافيمونه چې يو ځای راغلي دي ورسره يو يو ډول ښکاري چې او دا ستونزه په پورتنيو بېلګو کې څرګنده ښکاري.

**گرافیم شمېره (۴۰):واو(و)**

د نومورې اثر کې د واو(و) په پنځه ډوله معرفي شوي چې بېلګې په لاندې ډول دي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| و | واو | w | وتیک | māwān ماوان | Kāw کاو |
| | | ū | * | lūnلون | būبو |
| | | u | * | * | muموږ |
| ۏ | | o | * | košaṛā کوشړا | boبوږ |
| وَ | | ü | * | šüwatık شووټک | šü شو |

(هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم،۱۳٦۷,۱۹مخ)

پورته جدولکې واو(و) پنځه(و/w/، و/ū/،و/u/، و/o/، و/ü/) ډولونه ښودل شوي دي په دې کې ډوه ډولونه(و/ü، و/ū) دا دوه ګرافیمونه اضافه ښودل شویدي. د( لونlūn ،بو bū،موږmu ) بېلګې ټول په یو (و) کې راځي ځکه واول یو خاصه ده چې لنډ او اوږد ویل کېږي خو د کلمو په مفهوم کې کوم بدلون نه پېښوي.

او بل د (وَü ) بېلګې(شووټکšüwatık ،شوšü ) دا بېلګې د پشه‌یي ژبې د اله سای په لهجه کې ( ښاو/ ṡəāw (د غنمو وږی) د پښتو ژبې مرکزي لهجې (ښ) پښېر تلفظ کوي، (ټک) تصغیري حالت دی یعني د غنمو کوچني وږی او (ښو əāw) د (غنمو وږی) ته وایي او د اوزبین په لهجه(لغمان، دولت شاه، الیشنګ...) کې د پښتو ژبې کندهاری لهجې(ښ) په ښېر دورند او صقیل تلفظ کېږي. دلته د ښو əāw په بېلګه کې د (وَü ) مستقل غږ نه دی، بکلې د هم (و/W) غږ دی.

په عمومي توګه په پشه‌یي ژبه کې د واو(و) لاندې درې ډولونه لري چې په کلمو کې معانیز توپیرونه پېښوي:

**دمعروف (و/u)، سمې واول (و/w)، مجهول (ۆ/O)**

د پشه‌يي ژبې کې د (و) درې دواړه ډولونه شته دد لپاره چې په کليمو معنا او تلفظ باندې پوهېدل اسان شي، مشخص گرافيمونه ټاکل ورته لازم او ضروري دي. د مجهول واو/O لپاره(ۆ)گرافيم د «الفبای زبان پشه‌يي» نومي اثر کې مشخص شوی دی.که دمعروف(و/u) لپاره د (ۆ) گرافيم مشخص شي، نو د ستونزو مخه په اسانۍ سره نيول کيدای شي، چې ځينې بېلگې يې په لاندې ډول دي:

| په کلمه کې د توري د کارولو ځای | | | |
|---|---|---|---|
| معمول توری | پیل | منځ | پای |
| و/ w | واش wāš (باران) | ānjawek آنجويک (پېل کول) | دروdərw(لېور) |
| و/u | اوليuli(دام) | (سرگړی)puəy پۆی | بۆ bu(ډېر) |
| ۆ/o | اوۏنډرonḍer(اونگ) | پۆیpoay(هونبيار) | بۆ bo(راروان) درۏ dəroŷ (يوقسم نبات دی) |
| يادونه: واو(و/u، و/o) د کليمو په پيل کې د (ا) ورسره يو ځای ليکل کيږي لکه:اونډرonḍer، اوليuli | | | |

**گرافيم شمېره(۴۴):یٙ(یای انفی)/ĩ**

د معروف (ي) په ډولونو کې ( یای انفي یٙ/ĩ ) په نامه هم مشخص گرافيم ورته(یٙ) ټکل شوی او په پای کې داسې يادونه کړې«شکل پيشبينی شده و انتخاب شده حرفيست که تا حال در مطبعه وجود نه دارد» او ددې (یٙ/ĩ ) گرافيم لپاره يوازې يوه بېلگه يې وړاندې کړې دی لکه: شيٙšĩ (شپلق / د پزې سونډل) (هلالي، عبدالحکيم، کلماني، محمد زمان، الينايي، سيد اعظيم،۱۳٦۷,۱۹مخ)

د(شيĭ šĭ) بېلګې کتلوڅخه وروته دا څرګندېږي چې(شيĭ šĭ) د پزې سونډولو په معنا شي نو دلته د (ش) او (ي) تر منځ غونه نون(ŋ) راغلیاو (شيĭ šĭ) د شپلق په معنا شي نو دلته په روښانه ډول معروف (يi) دی، هغه ځکه چې همدا معروف (يi) د پشه‌يي ژبې په جنوب ختيځه لهجه کې په (و/ ū) اوړي چې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

شي/ši=شوšū

اشټيaṣti = اشټوaṣtū (اتلس)

آريriā=آروārū(شفتالو)

بالکيلbagkil=بالکولbalkūl(ماشوم)

پچيpči=پښوpṣū(پښتۍ)

ديم dim = دوم dūm (دود/لوګۍ)

پورته بېلګو له کتلو څخه وروته دا خبره واضحه کېږي چې **یَ(یای انفی)/ĭ** په نامه جوړ شوي ګرافيم اضافه دی اول بل دا خبره دا چې (يې ګانې) هيڅ کله پزيز يا انفي نه واقع کېږي.

**ګرافيم شمېره(۴۵): (ېe ) (ې ê)**

اوږده(ې) او منځواله اوږده(ې) چې په دې (الفبای زبان پشه‌يي) نومي اثر چې په ۱۳٦۷ هـ ش کال کې خپره شوې دي، چې په دې اثر د الفباء په جدول کې د اوږده (ې/e) ترڅنګ منځواله اوږده(ې) فونيميکي بڼه(ê) يې هم ښودلې او د (وېشيکwêšik او پېpê) يې بېلګې دي.( هلالي، عبدالحکيم، کلماني، محمد زمان، الينايي، سيد اعظيم،۱۳٦۷،۱۹مخ) خو دلته دا خبره بايد واضحه شي چې دا يو ځانګړی ارزښناکه غږ دی چې په کليمو کې معانيز توپيرونه پېښوي، نو دلته مشخص او ځانګړی ګرافيم ته ډېره اړتيا ليدلی کيږي، خو په دې اثر کې يوازې فونيميکي بڼه(ê) ښودل شوي، خو د پشه‌يي الفباء کې ورته

گرافیم نه دی تاکل شوي چې یو ډول ستونزه رامنځته کړی، بېلګې یې په لاندې جدول کې کتلایٔ شئ:

| هغه کلیمې چې په کې اوږده (ې/e) راغلی | فونیمیک بڼه | معنا | هغه کلمې چې منځواله اوږده(ې ê) راغلې دی | فونیمیک بڼه | معنا |
|---|---|---|---|---|---|
| پې | pe | غوښه | پې | pê | لاړشه |
| پېم | pem | ځکم | پېم | pêm | ځم |
| اېم | em | راځم | اېم | êm | خورم |
| شې | še | دی | شې | šê | شپږ |

**گرافیم شمېره(۴٦): وو(وّ)au**

دا گرافیم یوه دفتانګ گرافیم معرفي شوې، چې مثالونه یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.

لوو لوو lau lau ( آهسته،ورو ورو)

اوو au(ډوډی) (هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم ۱۳٦۷,۱۷، مخ)

د دفتانګ غږ یو شرط دا دی چې؛ واول او سیمې واول یوه څپه کې یو ځای راشي، خو لته کوم مثالونه راوړل شوي دي د (وو(وّ)au)گرافیم فونیمیک شکل کې (a،u) دوه واولونه راغلي دا په دې معنا چې دا دوه بېلا بېل څپلواکغږونه دي چې د بېلا بېل غږونو یو ځای یو بل نوی گرافیم جوړل؟. لنډه دا چې دا گرافیم هم یو اضافه جوړی شوی دی. او د مشدد (وّ)ځانګړې او دا غږ خو بیخي نه لیدل کیږي.

**د پورته مثالونو اصلي بڼې وګورئ.**

لوو لوو lawu lawu ( آهسته،ورو ورو)

اوو awu(ډوډی)

په پورته بېلګو کې دوه (واو )ښکارې چې، لومړی (و/w) یې سیمې واول او دوهم (و/u) معروف واو دی، د دوه(وّ au) خپلواکغږونو (واولونو) څخه یو ګرافیم نه شي جوړیدای.ځکه چې (a) ځانته واول او خپلواکغږ دی او (u) ځانته واول او خپلواکغږ دی، چې هر یو بېل ډول ادا کېږي، او د لیکنې پر وخت هر یو د استعمال ځانګړی ځای لري.

**ګرافیم شمېره(۴۷): یی(یّ) ai**

دا ګرافیم هم د دفتانګ غږ ښودل شوې دی، چې مثالونه یې په لاندې ډول ښودل شوي دي

| پشه‌یي مثال | فونیمیک بڼه | معنا | پشه‌یي مثال | فونیمیک بڼه | معنا |
|---|---|---|---|---|---|
| کییکن | kaikın | کړي دي | لییچین | laičin | لیدلي دي |
| ورییکن | wıraikın | ژړلي دي | انوییکن | anawaikın | د بل لخوا وهل شوی |
| الییچین | ālaičin | پورته کړي دي | ایی | ai | ډوډی |
| بیی | bai | ښه،جوړ | مینیی | minai | مینه یې |
| ابویی | ewai | خوړلي | مېویی | mewai | ویلي |

(هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم ،۱۳۶۷,۱۵مخ)

لکه څرنګه چې مخکې مو وویل دفتانګ غږ یو شرط دا دی چې؛ واول او سیمې واول یوه څپه کې یو ځای راشي، خو لته کوم مثالونه راوړل شوي دي په دې کې د (یّai) ګرافیم فونیمیک شکل کې (a او i) دوه واولونه راغلي، دوه بېل بېل واولونه او غږونه دي، چې دوه بېلابېل غږونو د یوځای والي څخه بل ګرافیم جوړول ؟. لنډه دا چې دا ګرافیم یو اضافه جوړی شوی دی. او د مشدد (یّ) په ځانګړنو خو بیخي نه لیدل کیږي.

**پایله**

ویلی شو، چې د«الفبای زبان پشه‌یی» اثر چې د خپل وخت سره ستر او ارزښمن اثر

| پشه‌يي مثال | فونيميک بڼه | معنا | پشه‌يي مثال | فونيميک بڼه | معنا |
|---|---|---|---|---|---|
| کیکن | kaykın | کړې دی | لييچين | layičin | ليدلي دي |
| وری‌کن | wırəykın | ژړلي دي | الييچين | ālayičin | پورته کړي دي |
| الييچين | ālayičin | پورته کړي دي | انوی‌کین | anawəykin | د بل لخوا وهل شوی |
| ای | əy | ډوډی | بی | bəy | ښه،جوړ |
| مینی | minəy | مینه یې | اپوی | aewəy | خوړلي |
| مېوی | mewəy | ويلي | | | |
| يادونه: پورته مثالونو کې د (يې گانو) بېلابېل ډولونه ليدل کېږي لکه:(ی‌ay)، (ی‌əy)، (يi) | | | | | |

د ستاینې وړ دی. دا چې ژبه د وخت په تېرېدو سره بدلون کې او د پرمختګ پړاوونه طې کوي په همدې موخه د اصلاح او سمون په موخه ځینې ستونزې په ګوته شوي او دا روښانه شوي دي چې ځینې جوړ شوي ګرافیمونه اضافه جوړ شوي دي. ځینې ګرافیمونه د آواز(غږ) الوفونونه دي چې الوفون د آواز بیله بېلې بڼې دي چې په کلمو کې کوم معانیز توپیر نه پېښوي، نو د ګرافیم ټاکلو اړتیا نشته او په څنګ کې ځینې ګرافیمونه معیاري نه دي جوړ شوي او په کلمو کې التباس پېښوي لکه:(لهـ) او همدارنګه د (وّ/au اويّ/ai) د ګرافیمونو تطبق ساحه نه لیدل کېږي، بلکې دا بېلکې دا د یاګانو بېل بېل ډولونه دي.

ځینې نور غږونه چې په ټولنه کې شته اما تر اوسته پورې مشخص ګرافیمونه ورته نه دي جوړ شوي، چې اوسه پورې په لیکل شویو اثارو کې د اصلي غږ پر ځای بل ګرافیم کارول شوې، چې په دې سره د ټولنې اصلي چې غږ یې انعکاس پیدا کړي. د نوي ګرافیمونو د اړتیا او ضرورت په اړه مفصل بحث وشو. نو په لنډه توګه ویلای شو چې

ځینې گرافیمونه معیاري او ځینې غږونه گرافیمونه وټاکل شي، ترڅو چې دې د پشه‌یي ژبې معیاري او ټولمنلي لیکدود اساس به کېښودل شي.

## وړاندیز

د افغانستان د علومو اکاډمي څخه مو وړاندیز دا ده: چې د پشه‌یي ژبې د آوازونو گرافیمونو کې ستونزې لیدل کیږې، نو لازمه ده چې د پشه‌یي ژبې الفبا باندې له‌سره کتنه وشي، ترڅو د پشه‌یي ژبې لپاره واحده او ټولمنلې الفباء رامنځته شي.

## مأخذونه


۱. هلالي، عبدالحکیم، کلماني، محمد زمان، الینایي، سید اعظیم. د پښتو ژبې فونولوژي(دوهم چاپ). صداقت خپرندویه ټولنه،کندهار،۱۳۹۸ ل کال.

۲. پشه یي شورا له خوا .اَرِیښس اَوَزي. خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه (interlit foundation)،جلال اباد، ۲۰۱٦م کال.

۳. پشه یي شورا له خوا. دار شي داری شېرا پن شي(متل). خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه (interlit foundation)، پېښور، ۲۰۱۰م کال.

٤. د پشه‌یي کمیسون له خوا. (پشه‌یي جبیدې ساده دیکشنري)، خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه، دره نور(DIN)پروژه ،جلال اباد، ۲۰۱۰م کال.

۵. د پشه‌یي کمیسون له خوا، (۲۰۱۰م). (پشه‌یي جبیدې ساده دیکشنري)، خپرونکی اداره؛ سرپ افغانستان مؤسسه، دره نور(DIN)پروژه، جلال اباد، ۲۰۱۰م کال.

٦. شیرزاد، محمد آقا. پښتو گرامر(فونولوژي). جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۹ ل.

۷. غمجن، نورمحمد. پشه‌یي- پښتو قاموس. د بهیقي کتاب خپرولو ریاست، ازاري مطبعه، کابل، ۱۳۹۹هـ ش کال.

۸. محبوب، محبوب شاه. پښتوژبدود(گرامر). مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد.۱۳۹٦ل.

۹. هلالي، عبدالحکیم و دیگران. الفباءی زبان پشه‌يي، د افغانستان د علومو اکاډمی، د ژبو ادبیاتو مرکز. دولتي مطبعه، کابل، ۱۳٦۷ل کال.

۱۰. بایزید، اځک. د پښتو ژبې فونولوژي. خپرندوي، کائنات څېړنیز مرکز،کندهار،۱۳۹۹ ل کال.

۱۱. مرکې

۱۲. گل زمان،کونړ، ماټوگۍ ولسوالي، کوړنگل ،۴۵ کلن، نالوستی، «پشه‌يي ژبې فونولوجي»، څېړندوی فریدالله فرحان، کونړ،۱۴۰۳/۹/۱۵ل)

۱۳. دلسوز(صافی)، خان اقا، کاپیسا، اله سای ولسوالي، قریه دروالي،۵۵کلن، نالوستی، «پشه‌يي ژبې فونولوجي» څېړندوی فریدالله فرحان، کابل،۱۴۰۲/۱۳/۲۲ل)

۱٤. ملکزی، حبیب الرحمن،کونړ، څوکۍ، دیوه گل دره،قریه چلس،٦۰کلن، نالوستی،«پشه‌يي ژبې فونولوجي» څېړندوی فریدالله فرحان، کونړ، څوکی،۱۴۰۳/۹/۱۰ل)

څېړندوی خالد تکل

# د ځینو پښتو متلونو د اخلاقي او ښوونیزو پېغامونو څېرنه

# The Analysis of Moral and Educational Messages in Pashto Proverbs

Assistant Prof. Khalid Takal

**Abstract**

In Pashto folk literature, proverbs form a rich and vital part. They are expressions born from the deep experiences and observations of the Pashtun people, passed down orally from generation to generation. These proverbs exist in both prose and verse forms, though the majority are in prose. Some Pashto proverbs are simple in meaning, while others require analysis, interpretation, and explanation. Pashto proverbs cover various aspects of Pashtun life, including sorrow and joy, morality, education, social life, peace, security, and interpersonal interactions. This article first presents selected examples of proverbs and then analyzes their moral, educational, and other dimensions.

**لنډیز**

د پښـــتو په ولسيــ ادبیاتو کې متل یوه غني برخه ده چې د پښـــتنو له پخو تجربو او مشـــاهدو را زېږېدلې خبرې دي او خوله په خوله له یوه نســـله بل ته لېږدېدلې دي، په دې برخه کې منثور او منظوم دواړه متلونه شته، خو د پښتو متلونه لویه برخه منثور هغه

دي، چې ځینې د معنا له اړخه ساده، خو د ځینو نورو معنا تحلیل، تفسیر او وضاحت ته اړتیا لري. پښتو متل د پښتنو د ژوند او ژواک ګڼې برخې، له غم او ښادۍ را واخله، تر اخلاقو، تعلیم، ګډ ژوند، سولې، امن، ټولنیز تعاملات او نور اړخونه سپړلي او څېړلي دي. په دې مقاله کې لومړی څو بېلګې غوره شوي دي او ورپسې د دغو متلونو په اخلاقي، ښوونیز او نورو خواوو خبرې او وضاحتونه راغلي دي.

## سریزه

د موضوع له اړخه پښتو متل د پښتنو د ژوند ګڼ اړخونه رانښيي، خو په دې علمي مقاله کې یوازې او یوازې د پښتو متل په اخلاقي او تعلیمي اړخ بحث او خبرې شوې دي. اخلاق او ښوونیز پېغامونه دوه سره تړلې پدیدې دي او ارزښت يې په دې کې دی چې اخلاقي اصول او ښوونیزې پروسې د انساني ژوند د ټولنیز تعامل بنسټ تشکیلوي. په دې مقاله کې هم لومړی اخلاق پېژنو او د ټولنو ترمنځ په اخلاقي توپیرونو هم لنډې خبرې شته، ورپسې د پښتو ژبې ځینې متلونه غوره شوي چې تحلیل او تفسیر يې په ساده ژبه بیان شوی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د پښتو متلونو اخلاقي خواوې او تعلیمي پېغامونه وپېژندل او بېلګې يې تحلیل شي.

## د څېړنې موخه

په ټوله کې د پښتو ژبې متلونه اکثریت مثبت پېغامونه لري، دلته يې د مثبتو پېغامونو له ډلې اخلاقي او تعلیمي چې د هرې ټولنې اړتیا ده، څېړل شوي دي.

## د څېړنې پوښتنې

١. د متلونو اخلاقي پېغامونه کوم دي؟

٢. پښتو متلونه کوم تعلیمي یا ښوونیز پېغامونه لري؟

٣. د متلونو د اخلاقي او تعلیمي اړخونو د روښانولو اړتیا څه ده؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي - تحلیلي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

په بشرـــي ټولنو کې اخلاق ډېر پراخ، خو مهم بحث دی او د هرې برخې اخلاقي اصـــول او اخلاقي مکلفیتونه له یوې برخې بلې ته توپیر لري، د بېلګې په توګه د جګړې اخلاق، د ډاکټر له طبي اخلاقو سره او د څېړنې اخلاق له ژورنالیســـتیکو اخلاقو سره توپیر لري، دا د انســـانانو ترمنځ اخلاقي بریدونه ګڼو، خو دا بحث نور هم پراخ دی او د یوې ټولنې اخلاقي ځانګړنې تر بلې فرق لرلی شي. لکه: غربي ټولنه کې د حمل/جنین ســـقط اخلاقي جواز لري، خو په شرقي ټولنه کې دا یوه اخلاقي سرغړونه او له دیني ـ مذهبي لیده یو ناسم اخلاقي چلند دی. یا په غربي ټولنه کې د عمر خوړلو انســـانانو ســـاتنه او پالنه دولت ته ور له غاړې ده، خو زموږ په ټولنه کې اولاد په ځانګړې توګه نارینه اولاد پر دې مکلف دی چې د سپین سرې مور او سپین ږیري پلار پالنه وکړي او زموږ ټولنه راته دا د وګړي اخلاقي مکلفیت را پېژني.

د اخلاقو بحث چې څومره پراخ دی، هومره مهم او د ارزښـــت وړ دی، خو موږ له دغه دریابه یوازې په یو څو څاڅکو خپله تنده خړوبو او اخلاقي، ښـــوونیز او د جګړې او تاوتریخوالي ضد پېغامونه په څو پښتو متلونو کې څېړو.

پښـــتو د ولسيـ ادبیاتو د بډاینې له اړخه یوه غني ژبه ده او تر لنډۍ وروســـته پښـــتو متل په دې غنامندۍ کې یو مهم ژبنی جوړښت دی چې په کمو، محدودو او د ګوتو په شمار کلمو کې یو پراخ او ستر پېغام را اخلي. په لنډو او تنګو الفاظو کې د پښتو متل معانیز قوت او ظرفیت دومره ډېر دی، لکه څوک چې په کوزه کې د دریاب د ځایولو مدعي وي. د دې ادعا د ثبوت لپاره دا لاندې متل ولولئ:

«غلبېل کوزې ته ویل په تا کې سوری دی.»

(غضنفر، ۱۴۰۳، ۱۷۳ )

متل له پخو تجربو را زېږېدلې خبرې دي او يوه عمده ځانگړنه يې دا ده چې نصحيت، سبق، ښوونه او لارښوونه به درته وړاندې کوي، د ژوند، ژوندی بېلگې درته په يو ښکلي مثال کې وايي، نو اختيار ستا دی چې دا اخلاقي عيبونه اصلاح کوې او کنه، خو متل دی چې انسان خپلې تېروتنې او که لږه يې جدي وواېو خپلې نيمگړتيا ته ځير کوي.

دا متل موږ ته دا درس را کوي چې نورو ته د گوتنيونې پر ځای، خپلو نيمگړتياوو ته ځير شو، خپل ځان ا صلاح کړو، خپل اخلاقي حدود وپېژنو، ځينې انسانان له خپل عادته هم مجبور وي، دوی ټول عمر داسې روږدي شوي وي چې تل د بل عيب ولټوي او خپله ټوله انرژي په همدې مصرفوي چې څنگه بل نقد کړي، خو دا يې هېر وي چې د بل نقدول هله خوند کوي چې خپله له عيبونو سړی پاک وي، خو دا چې انسان په غفلت او ځانښودنه کې دومره ډوب وي چې خپلې نيمگړتياوې ورته نيمگړتياوې نه ښکاري، نو دا عادلانه قضاوت نه دی او پکار ده مخکې تر دې چې د بل د اصلاح په فکر کې شي، پخپله ځان اصلاح او صراط المستقيم ته برابر کړي. د دې متل په تحليل، تفسير او تشريح يو عالم نورې خبرې هم کېدای شي، خو دا چې موږ په متلونو باندې د يوې مقالې په حد کې خبره کوو، نو همدومره تشريح به بسنده وي.

ښايي پښتانه د نورو له ليده ډېر متشدد قوم وگڼل شي، خو د دغه تشدد ترڅنگ چې پښتانه څومره امنپال او خواخوږي دي، هومره متشدد نه دي. زموږ په ادبياتو کې د دښمن ضد پيغامونو بېلگې زياتې دي، خو له دښمن سره دښمني هم په ډېر هنر پالو، لکه: په دې لاندې متل کې چې په يو غشي دوه ښکاره شوي دي:

«توره سره ښه ده، خو د ورور په وينو نه!» (زغم، ۱۳۹۴، ۴۵ مخ)

د وينې په رشته کې تر ټولو خوږه رشته د وروری هغه ده، انسان چې له کله راهيسي د ملکيت د حق خاوند شو، نو له هماغه وخته پکې د مال د زياتوالي حرص هم پياوړی شو او د دغې غوښتنې لپاره يې ان د ورور په حق هم تېری کړی دی، خو

کله چې په ورور د ننگ ځای راغلی دی، بیا د ورور په دفاع کې له سر و ماله تېر او قرباني ته درېږي؛ مگر په پښـــتنو کې دا هم د یو واقعیت په توگه منلی شـــو چې د ښمن پر ځای یې توره د ورور په وینو هم سره کړې ده، خو په دې متل کې همدغه عمل نقد شوی او سپارښتنه پکې شوې ده چې تورې سرې کړئ، خو د ورور په وینو نه، بلکې د ښمن په وینو.

«له یو لاسه ټک نه خېژي»

«په یو گل نه پسرلی کېږي.» (پوهنې وزارت، د اتم ټولگي پښتو، ۷۹ مخ)

د اسـلام مبارک دین او په بشرـي ټولنه کې حاکم اخلاقي اصـول د یووالي او اتحاد درس را کوي، پښـتانه چې د نړۍ پر مخ یو سـتر قوم دی، ځانگړي نرخونه او عادات لري چې دغو نرخونو او ځانگړنو یې بڼایه ولسيـ ادب پنځولی چې پاســني متلونه پکې د یووالي اړوند غوره بېلگې گڼلی شو.

لاندې پښتو متل بیا د صبر، زغم، استقامت، گذشت او پخلاینې درس راکوي. زموږ په ټولنه کې چې سـواد کم او ناپوهي زیاته ده، نو د دغه ډول متلونو د ایجاد تر شـا، د افغانانو سـایکالوژي دا راښـيي چې په دې خلکو کې د جنگ جگړو او خپلمنځي شخړو مخینه اوږده، ده، نو پر همدې اساس د خلکو ترمنځ د کرکې، کینې او غچ پر ځای د سولې، زغم، استقامت او حوصلې په خبره ټینگار شوی دی.

«وینه په وینه نه مینځل کېږي.»

(ژواک، ۱۳۸۲، ۱٦ مخ)

د متل گڼ تعریفونه شوي، خو مهم او منلی یې دا دی چې دا خبرې سطحي نه دي، بلکې له پخو انسـاني تجربو او مشـاهدو را زېږېدلې دي، تجربې د انسـان له ماضي سرچینه اخلي، کله چې پر انسـان ډېرې ښــې بدې تېرې شي، نو پوخ او ثیقل شي. (ژواک، ۱۳۸۲، ۲ مخ)

پر افغان خاوره چې گڼ یرغلونه شـــوي تېر شـــوي، نو دغو جگړو د دې جغرافیې پر فرهنگ او ادب خپلې اغېزې شـــیندلې دي. د ســـولې او امن پرســـتۍ درس او له

دښـــمن سره د مقابلې د ادبیاتو بېلګو، زموږ شـــفاهي ادب غني کړی دی، چې دا لاندې متلونه، زموږ دا ادعا ښه ثابتوي:

«په یوه سپېږه سل مخونه خوږېږي.»

«په زور کلي نه کېږي.»

«تر وژلي ورور، پرېښی ګومل ښه دی.»

«په جنګ کې حلوا نه وېشل کېږي.»

(مومند، ۱۳۹۹، ۵۵ مخ)

ښـــوونه او روزنه په غوره اخلاقي چلند ټينګار کوي، چې دا اخلاق د ژوند محدودې برخې نه، بلکې ګڼې برخې را خپلوي، په پښـــتو متلونو کې د تعلیمي پېغامونو ګڼې داســـې بېلګې شـــته چې په تحلیل او تفســـیر یې د کتابونو او مقالو په حد کې اثار لیکل کېدای شي.

دا لاندې متلونه غوره تعلیمي سپارښتنې دي:

«په غرمو یې وګټه په سیوري یې وخوره.»

«له خپلې برستن سره پښې غځوه.»

«پلټونکی، پیدا کوونکی دی.»

په پاسنو متلونو کې وروستی هغه یې د تحقیق په ارزښت خبره کوي، انسان چې یو عاقل مخلوق دی، په غوره فکر، تحقیق او پلټنې سره یې د انساني ټولنې د هوساینې لپاره ګڼې وسیلې خلق کړي دي. پاسـنی متل را زده کوي چې موندنې بې له پلټنې ممکنې نه دي.

«په ځنګله یې وزېږوه، په بازار یې لوی کړه.»

خوشحال بابا څو سوه کاله پخوا د هنر د ارزښت په اړه ویلي:

که طالعې او هنر دواړه سره کېږدې

زه خوشحال به پکې ونیسم هنر (مومند، ۱۳۹۹، ۸۰ مخ)

د پورته متل وروستۍ برخه (په بازار یې لوی کړه) د یو عالم خبرو مفهوم رسوي، د افغانانو په ځانګړې توګه د پښتنو لویه برخه خلک لا هم په کلو او بانډو کې ژوند کوي، د زده کړو لومړنی ځای یې جومات او مدرسه دي، چې د همدغو تعلیمي مرکزونو په برکت ورته د نورو لوړو او نیمه لوړو زده کړو کړکۍ پرانیستل کېږي، خو سره له دې چې د ښارونو له اسانتیاوو بې برخې دي، مګر بیا یې هم د بریا رسۍ ټینګه نیولې او د هنرونو او کمالونو د زده کړې لپاره ښارونو او بازارنو ته مخه کوي، کله چې په ښاري ماحول کې مشاهدې او تجربې وکړي، نو نړۍ لید یې پراخ او ژوند ته له یوې نوې زاويې وګوري.

په دنیا باور مه کوه، ګاهي لوړه ده او ګاهي ځوړه

په پاسني متل کې د دنیا کلمه اصلي او ضمني معنا ګانې لري، دنیا مال او شتمنۍ ته هم وايي او زموږ د اوسېدنې اوسنۍ نړۍ هم دنیا ده، په لنډیو کې لولو:

دنیا د یار له سره ځار شه

دنیا همېش وي، یاران کله کله وینه

پورته لنډۍ په شتمنۍ، خو متل د انسان د ژوند په هسکو، ټیټو خبره کوي، ګڼ انسانان به مو لیدلي وي، چې په موقف کې وي یا هم ډېره شتمني لري، نو په خپلې څوکۍ او شتمنۍ ډېر نازېږي، ځان تر نورو لوړ او مهم ور ښکاري، متل راته وايي چې دنیا همیشنۍ نه ده، رنګېدل یې حتمي دي، نو پکار دا ده چې له ټولنې سره مو چلند منطقي او ارزښتونو ته په درناوي ولاړ وي.

«په شیدو سوی مستې پو کوي.»

مخکې مو د متل په تعریف کې ولوستل چې له پخو انساني تجربو را زېږېدلې خبره ده، دا متل هم د یو تجربه شوي حالت، کیسه کوي او موږ ته یې تعلیمي پیغام د احتیاط او پاملرنې اړخ ته پام کول دي. یو خبره چې دلته یې وضاحت اړین بولم، هغه د ډار یا وېرې او محتاط اوسېدو ترمنځ توپیر دی، ډېر خلک ګومان کوي چې ځینې خلک ډارن دي، خو ښايي ډارن نه، بلکې محتاط وي، ځکه عاقل او په خپلو

احساساتو حاکم خلک همیشه سنجیده پرېکړې کوي. په پاسني متل کې هم همدغسې یو مفهوم پروت دی چې له مستو پو کولو موخه احتیاط کول دي، نه ډارېدل. په تعلیمي متونو کې د دغه ډول متلونو راوړل او تفسیرول زده کوونکو ته مهم دي.

«زه دې پزه پرې کوم او ته پېزوان غواړې»

(زغم، ۱۳۹۴، ۸٦ مخ)

په اکثرو متلونو کې د مستقیم پېغام او مفهوم خبره نه وي، بلکې د ګړنې یا اصطلاح په شان مجازي معنا لري، پاسنی متل هم داسې یو حالت ته اشاره کوي چې یو کس دې بنیاد حذفوي، خو ته ترې د خپل وجود بقا غواړې، یا په ورځینو مسایلو کې ممکن یو څوک د ډېرو شیانو غوښتونکی وي، خو مقابل کس په دې هڅه کوي چې دا شته شیان هم ترې وتروړي. یا یو څوک په یو چا ظلم، تېری او د هغه بې عزتي کوي، خو مقابل کس له دې ټولو سره سره، بیا هم د درناوي او عزت په تمه وي.

«تر اوبو له مخه ګاولې مه کاږه»

(بېنوا، ۱۳۵۸، ۷۷ مخ)

د دغه متل مفهوم دا دی چې پرېکړې په احساساتو مه کوئ، لنډپاری مه اوسه او زر منډه مه کاوه، بلکې د حقیقت تر درک وروسته خپله فیصله وکړه، د دغه متل تعلیمي پېغام دا دی چې موږ باید ډېر ولولو، ډېر وګورو او تر ډېرو لیدو کتو، وروسته بیا تصمیم ونیسو. یا هم لاندې متل چې د دقت او غور تعلیمي ښوونه کوي.

«توکړې لاړې، بیرته نه را اخېستل کېږي.»

«چې څه کرې هغه به رېبې»

(زغم، ۱۳۹۴، ۱۲۰ مخ)

په همدې مفهوم په پښتو ژبې کې نور متلونه هم شته، لکه چې وایي: «چې بد ګرځې، بد به پرځې»، لومړی متل انسان ته د خوارۍ او زحمت پایله ښیي، د خپل

سوچ، فکر او چلند محصول د انسان د کړنو پورې اړیکه لري، د کوم ارواپوه خبره ده چې وایي د څه په اړه چې فکر کوې، هماغه شـــی در نه جوړېږي. انســـان د خپلو اعمالو په دایره کې ولاړ دی، که اعمال سـم او رغوونکي وو، نو له دایرې د وتلو لارې ډېرې، خو که اعمال ناسم او تخریبونکي وو، نو د دایرې کړۍ را تنګېدای شي.

له شک پرته انسان یو عاقل مخلوق، خلق شوی، خو تېروتنې او ښوېیدنې هم ورسره مل و ملګرې وې/ دي، ځینې وختونه انسـان د لنډه مهاله منفي لذتونو په درياب ورګډ شي، د دې ور ګډېدا لاملونه زيات وي، خو ډېر کله پکې د نا سمو ملګرو او یا د ناسمو خلکو سره د ناستې پاستې، نقش بارز وي، نو پاسنی متل د بد پرځېدو لامل، بد ګرځېدل ښيي.

«خپل عيب د وليو منځ د بل عيب د کلي منځ»

پاســـنی متل، ژوره ټولنيزه او اخلاقي معنا لري، خپل عیب د ولیو منځ، یعنې هر څوک خپل عیبونه پټ ســـاتي، یا نه غواړي چې ښــکاره شي، لکه چې د کور په دیوالونو کې پټ وي. د بل عیب د کلي منځ، خو د نورو خلک عیبونه بیا ښکاره، رسوا او خپروي. دا متل موږ ته وايي چې باید د نورو پر ځای لومړی خپل عیبونه وګورو او اصلاح يې کړو، نه دا چې د نورو نیمګړتیاوې خپروو یا غیبت کوو.

«دښمني د سرې اور دی، نه مړ کېږي»

«له ښو نه ښه پيدا کېږي، له بدو بد»

پاســـني دواړه متلونه د ســـولې، امن، ګذشـــت او تفاهم پیغام لېږدوي او د بدۍ او دښــمنۍ نفي کوي. د جګړې ضـد ادبیات د ذهني رغوونې په برخه کې مهم دي، ځکه دا د جګړې ناوړه پایلې، انساني زیانونه، او د سولې اړتیا خلکو ته څرګندوي. دا ډول ادبیات یوازې لیکنې نه دي، بلکې د انسانیت ژغورونکي غږونه دي.

دا ادبیات خلک هڅوي چې پر ســوله، زغم او تفاهم باور ولري. د نفرت پر ځای د مینې او انســانیت پیغام ورکوي. دا متلونه موږ ته ښــيي چې جګړه یوازې مېنې نه، بلکې ذهن او ژوند هم ورانوي، خو د انسـانانو ترمنځ د تفاهم، زغم، او درناوي اړیکې

پیاوړې کوي. کله چې وایو دښــمني د سرې اور دی، په دې معنا چې که تفاهم او جوړجاړی ونه شي، نو د دښــمنۍ دوام، په راتلونکې کې ناوړه پایلې لري. دا ډول متلونه یا په ټوله کې دغه ډول ادبیات خلک له تعصــب، تاوتریخوالي او تشــدده را ګرځوي.

**پایله**

د دې مقالې پایله دا شوه چې د متل تعلیمي او اخلاقي ارزښت را وسپړل شو، متلونه زموږ د شفاهي ادب یوه ډېره غني برخه ده، خو څه ډول چې اړتیا ده د دې برخې په تعلیمي متلونو کوم ځانګړی اثر نه دی لیکل شوی او دا خوا یې ناسپړلې پاتې ده. زموږ د نصاب په کتابونو کې یوازې د متلونو تعریفونه او څو بېلګې راخېستل شوي، مګر د متل په محتوا او پېغام ډېرې کمې خبرې شوې دي. که تعلیمي متلونه د لوړو ټولګیو په ځانګړې توګه د لېسې دورې په نصاب کې تحلیل شي، نو دا به د زده کوونکو د ذهني ودې او د هغوی په شخصیت جوړونه کې مثبت رول ولري. د متلونو د علمي تشریح برخه د تعلیمي نصاب مکلفیت دی، خو دا چې متل شفاهي ادب دی، نو زده کوونکو ته یې په تشریح، تفسیر او د پېغامونو په څرګندولو کې کورنۍ په ځانګړې توګه مور او پلار هم مکلف دي چې د پند لپاره خپلو اولادونو ته متلونه بیان کړي.

## مأخذونه


۱. بېنوا، عبدالرووف. پښــتو متلونه، د افغانســتان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۵۸ لمریز کال.

۲. پوهنې وزارت، د اتم ټولګي پښتو، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست، کابل، ۱۳۹۰ لمریز کال.

۳. زغم، احمد شــاه. فولکلور او فولکلوري ادبیات، د افغانســتان د ملي تحریک فرهنګي ټانګه، کابل، ۱۳۹۴ لمریز کال.

٤. ژواک، محمد دین. پښتو متلونه، الازهر خپرندویه موسسه، پېښور، ۱۳۸۲ لمریز کال.

٥. غضـــنفر، اســـدالله. څو لپې فکرونه، سروش کتابپلورنځی، کابل، ۱۴۰۳ لمریز کال.

٦. مومند، مجاور احمد، د رحمان بابا او عبدالحمید مومند په اثارو کې متلونه او اصطلاحات، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۹۹ لمریز کال.

څېړنوال دوکتور عبدالاحد منگل

# د مومن خان او شیرینۍ د نکل حماسي خصوصیات

# The Epic Characteristics of the Tale of Momin Khan and Sherinay

Associate Prof. Abdul Ahad Mangal


## Abstract

This study has been conducted on the lovely epics of Momin Khan and Shirino and their epic characteristics, and it has comparatively highlighted some characteristics of folkloric epics with Pashto tales. The tale of Momin Khan and Shirino has been selected as the national picture for [this] study. The study considers books, interviews, and observation as a method for Momin Khan and Shirino's tale of epic characteristics.

## لنډيز

دا څېړنه د مومن خان او شيرينو د عشقي حماسې په حماسي ځانگړنو تر سره شوې، چې د پښتو نکلونو د ځينو ولسي حماسو سره يې ځانگړنې په پرتليز ډول په نښه شوي دي، د دې څېړنې لپاره د مومن خان او شيرينو نکل د اصل په توگه د ملي هيندارې څخه ټاکل شوی، د مومن خان او شيرينو د نکل حماسي خصوصياتو

موضوع د کتابتوني آثارو، ساحوي څېړنې، مصاحبو او مشاهدو په نتیجه کې بشپړه شوې ده.

## سریزه

پښتو شفاهي نکلونه د پښتو ولسي ادبیاتو یوه لویه برخه ده چې د پښتني ټولنې ډېر تاریخي روایات، تعاملات، کودونه او ټولنیز ارزښتونه یې ساتلي دي، د پښتو نکلونو څخه د پښتني ټولنې کړه وړه، دود او دوستور، پت، عزت، ننګ، مېلمه پالنه، ناموس ساتنه، په وطن ننګ، دیني، ملي او تاریخي ارزښتونه یې ساتلي، پښتو نکلونه موږ ته د خپلو نیکونو د ژوند ژواک درس را کوي، د مومن خان او شیرینو په نکل کې وینو (ګورو) چې مومن خان خپل تره زامن نه خوابدي کوي، د دوی ناز او محنت په ځان وړي، د ولور لپاره د سفر موزې په پښو کوي، د جنګ او جګړې په ځای په ځان زحمت قبلوي، په مقابل کې یې شېرینو د یوې پتمنې پښتنې په دود ډاډ ورکوي چې زه به ستا په نوم ناسته وم، بیا په هندوستان کې د پښتني کلتور د یونماینده په توګه له رعیته تر حکمته د ده برخورد، د ننګ په میدان د یو پښتون په صفت د ده مېړانه، تدبیر او استقامت د پښتني فرهنګ او پښتونوالۍ غوره بېلګې دي.

په پښتو نکلونو کې وړې کیسې، میانه داستانونه او اوږده رومانونه پیدا کېږي، چې ځینې یې د پښتني ټولنې زېږنده دي او ځینې پښتو ته را ژباړل شوي دي، هغه چې پښتو ته را ژباړل شوي، د ولسي خلکو او نکلچیانو له خوا دومره سولېدلي چې تر اسطوریي اړخ پرته یې نور ټول روح او ډانچه پښتني شوې ده، پښتو نکلونه په ټوله کې د موضوع له پلوه په دوه برخو ویشل کېدی شي، چې یوه برخه یې حماسې دي او بله برخه یې عشقي حماسې دي، دا حماسې موږ ته د خپلو ولسونو د بهادرۍ، مېړانې او سربښندنې درس را کوي، د پښتني ټولنې په حماسو کې ډېره مبالغه نه لیدل کېږي، خو هغه نکلونه چې په نورو ټولنو پورې اړه لري او پښتو ته را ژباړل شوي په هغوی کې مبالغې زیاتې دي، تر حماسي اړخ یې اسطوریي اړخ دروند دی.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې د پښتو شفاهي نکلونو تاريخي، ټولنيزې، ادبي، عشقي، اسطوريي، حماسي او نورې ځانګړنې په سمه توګه په نښه او په علمي ډول و څېړل شي. مبرميت يې د مومن خان او شيرينو د عشقي حماسې، د حماسي خوصوصياتو څېړنه ده.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه د مومن خان او شيرينو د عشقي حماسې د ځانګړنو څېړل دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ -حماسه څه ته وايي؟

۲ -د مومن خان او شيرينو حماسه څه ځانګړنې لري؟

۳ -د مومن خان او شېرينو په نکل کې پښتني خصوصيات کوم دي؟

۴- د مومن خان او شېرينو عشقي حماسه د نورو پښتو حماسو سره کومې ورته ځانګړنې لري؟

## د څېړنې ميتود

دا څېړنه؛ د تشريحي ميتود په رڼا کې تر سره شوې چې مواد يې د کتابونو، مشاهدو او مصاحبو له لارې تر لاسه شوي دي.

## د مقالې متن

### د مومن خان او شيرينۍ د نکل حماسي خصوصيات

**حماسه**: په لغت کې زړورتيا او ميړانې ته وايي (پوال، ۱۳۹٦، ۴۵مخ) او په اصطلاح کې د يوې ټولنې د ملي اتلوليو او سرښندنو هغه نکل يا داستان دی چې د خارق العاده پېښو لړۍ په کې غزېدلې وي، په حماسو کې تر يوه بريده تاريخي پېښې منعکس شوي وي، خو ټولې حماسې رښتيا نه دي، تر ډېره حماسې افسانوي مبالغې دي چې په نکل کې د مرکزي لوبغاړي يا قهرمان په اړه کېږي، پوهانو حماسې د

موضوعاتو له مخې په بېلابېلو ډولونو ویشلي دي، لکه: طبیعي او ملي حماسې، اسطوریي حماسې، پهلوانانو حماسې، تاریخي حماسې، دیني حماسې او نور.

د دې څېړنې موخه طبیعي او ملي حماسه ده؛ طبیعي او ملي حماسې هغو حماسو ته وایي چې د یوه قوم هیلې، ارمانونه، اتلوالۍ، مېړانې عواطف، احساسات (صفا، ۱۳۸۹ل، ۵ مخ) او ارزښتونه ورسره تړلي وي، هرې ټولنې د مېړانې او سربښندنې کیسې او داستانونه ترشاپرېښې چې د ټولنو تر منځ ډېرې پخوانۍ حماسې د پهلوانانو دي، په حماسو کې پهلوانان هغه خلک دي چې د عادي انسانانو څخه یې کړه وړه توپیر لري، دوی قوي، لوی، غښتلي او مټور وي، کارونه یې خارق العاده وي.

د پښتو ولسي ادبیات په ځانګړې توګه نکلونه د طبیعي او ملي حماسو ګڼې بېلګې لري، بل دا چې د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې ډېرې عالي جهان شموله حماسې شته او هم عشقي رومانونه، د پښتو نوموړې حماسې د نړۍ د حماسو په څېرعام خصوصیات لري او هم خپلې ځانګړې خصوصیات.

د پښتو اکثره شفاهي کیسې که هغه حماسې دي او یا رومانونه کله چې د داستان قهرمان ارمان ته رسېږي په تراژیدي بدلیږي؛ لکه: موسی خان او ولي جان، فتح خان او رابیا، ادم خان او درخانۍ...نور.

همدارنګه حماسه ډوله د مینې داستانونه؛ لکه: مومن خان او شیرینۍ.

څرنګه چې حماسه پوهانو په نړیواله کچه حماسو ته ځانګړنې ټاکلي دي او د هرې سیمې، ژبې او توکم پر حماسو نوموړې خصوصیات کټ مټ تطبیق کېږي او یاد معیارونه د حماسې ټک برید(حدود) ټاکي، د عشقي داستانونو او رومانونو څخه یې جداکوي، خو د پښتو ډېر عشقي داستانونه د عشقي خصوصیاتو څخه زیات حماسي خصوصیات هم لري، نو بده به نه وي که دا ډول داستانونو ته هم حماسه یا حماسه ډوله داستان وویل شي؛ چې غوره مثال یې د نورو رومانونو ترڅنګ د مومن خان او شیرینۍ کیسه ده.

د مومن خان او شیرینۍ کیسه که څوک په غور سره ولولي نو ورته جوته به شي چې نوموړې کیسه ډېر لوړ کړه وړه ننداروي؛ لکه: بشردوستي، د جنګ څخه کرکه، د خپلو خپلوانو په وړاندې د جنګ پرځای د سختو شرطونو منل، انسان د بلاوو له شره خلاصول د یو انسان ظلم په بل انسان نه زغمل، د خپل ناموس سره بې کچې مینه

چې خپل ځان پرې قرباني کړي او د نفساني خواهشاتو زور پرې ونه رسېږي، يعنې د ځان پر وړاندې د خپل ضد نفساني قهرمان مهاروول او نور غټ واړه خصوصيات لري، چې لاندې يې لولو.

د مقالې اصلي موضوع چې د مومن خان او شيرينۍ د کيسې ځانګړنې دي په لومړي سرکې د نومړي نکل ځانګړنې په څلورو برخو ويشو:

**۱. د مومن خان او شيرينۍ د کيسې عام حماسي خصوصيات؛**

**۲. د پښتو ملي حماسو سره د مومن خان د کيسې پرتله؛**

**۳. د مومن خان او شيرينۍ د کيسې خاص پښتني خصوصيات؛**

**۴. د مومن خان او شيرينو د نکل په اړه ضد او نقيض روايات؛**

**الف: د مومن خان او شيرينۍ د کيسې عام حماسي خصوصيات؛**

۱- لکه څرنګه چې په هره حماسه کې د جنګ، بهادرۍ، مېړانې اوشهسوارۍ کيسې راغلې دي، همدارنګه مومن خان هغه پښتون پهلوان دی چې د هندوستان د دوو پاچاهانو نامي پهلوانانو سره غيږ باسي او نسکوروي يې.

۲- د حماسې يوه ځانګړنه حيوانات جوړوي د مومن خان په کيسه کې هغه اژدها چې ټول ښارخوري، خو په بدل کې يې هره ورځ په ډوډۍ بار اوښ سره له يوې پېغلې جلکۍ يوې ورځې خوراک لپاره ورلېږل کېږي، چې بالاخره مومن خان يې وژني له شره يې ټوله پاچاهي خلاصوي.

۳- په دې حماسه ډوله داستان کې لکه، په نورو حماسو کې د اتل آس نوم لري د مومن خان آس هم نوم لري، چې (کرنګ) نومېږي، د يادولو وړ ده چې د فتح خان اس په لړ توپير سره ورته نوم لري چې نوم يې (کورنګ) دی.

۴- په حماسو کې اتل په عام ډول قومي، ملي او نژادي پېژندل شوی وي، چې همداشان مومن خان هم يو پښتون ځان بولي او پرخپله پښتونولي ځان پېژني، لکه چې وايي:

((يوه ورځ مومن خان د باچاسره ناست دی، نابېره يو چا خط راوړ باچاته يې ورکړو مومن خان ورته وايي داځنګه خط باچا ويل څه يې کوې ده ويل چې خامخا به دا خط رانښکاره کوې! باچا نه ور ښکاره کاوه، مومن خان ورحمله کړه خط يې څنې واخيست چې و يې کوت په کښې ليکلي وه، چې د پروسږ کال جحه دربانديې پاته

ده دا زر تحویل که! «دا خط د یو باچا و چې پر دې باچا زوره ور و، په زوره یې هر کال ججه ځنې اخیستله»، مومن خان پاچا ته وویل چې ججه نه ورکوم زه هیله و خدای ته لرم چې د ججې شخه د خلاص کم، زه پښتون یم دا بې ننګي پرځان نه قبلوم، څو یا تا د ججې شخه خلاص نه کړم یا سربای نه لم نه یې پرېږدم))( نوري، ۱۳۹۲، ۱۴۲مخ)

۵ - د حماسې قهرمان، چې د هیولاوو او ویروونکو حیواناتو سره مقابله کوي او د وژلو صلاحیت یې لري، مومن خان هم په خپل صلاحیت یوه نه منونکې توره کوي، چې ټولې پاچاهۍ نشوه کولی، لوي ښامار یې وواژه او د پاچالور یې ژوندۍ ور ولېږله.

٦ - د حماسو اتل معمولاً مافوق الطبیعي انسان ښوول شوی، چې د نړۍ د نورو ژبو په حماسو کې په دې برخه کې ډېر افراط لیدل کېږي، خو د مومن خان او شیرینۍ په کیسه کې مومن خان فوق ښودل شوی، کله چې هندوستان ته ځي خپل ملګری ورته وایي چې ته ډېر ښکلی یې! نقاب واغونده مومن خان نقاب اغوندي په ښار ور دننه کېږي ګوري چې د پاچا عسکر تیرندود ترسره کوي نو ده ته ډېر خوند ورکوي خپله خاني، خپل ملګري او نوکران ور یادېږي مخ لوځوي، یو پیږدار یې وینې دستي را غورځي په کومه نیزه یې چې تکیه کړې وي هغه یې ترلړمون وځي او مري، پاچا عسکر پسې لېږي، کله چې یې عسکر ویني هغه ټول بې سده کېږي، په لیدو یې پاچا هم حیرانېږي، ځکه چې ډېر ښکلی و.

۷ - د حماسو قهرمان د ژوند په یوه برخه کې د خپل ضد قهرمان سره مخامخ وي، همداشان مومن خان په لومړي سر کې د خپل تره زوی زبردست سره په جنجال وي، کله چې هندوستان ته ځي بیا د هغه پاچا د ظلم په وړاندې درېږي چې د ده ملګري پاچا شخه یې ججه اخیسته کله چې په پاچا پسې ورځي نو د اژدها سره مخ کیږي چې دا ټول د ده ضد قهرمانان دي په خپله میړانه یې رعایتوي، اژدها وژني او د باچا شخه ښه سړی جوړېږي، چې دا یوه ښه عالي هدف دی.

۸- د حماسې قهرمان زیاتره په اوږدو سفرونو ځي، چې مومن خان هم اوږد سفر لري د هندوستان په لور په خپل سفر کې د لوړو ژورو سره مخامخ کېږي.

۹- د حماسو قهرمان کله ډېرې سترې کارنامې ترسره کوي چې ملي او معنوي ارزښت لري، مومن خان هم سترې ویاړنې ګټي، لکه د پاچاهانو ترمنځ دوستي او

سوله د يوبل د جنګ او جګه خلاصون دويم: د اژدها وژل او همدارنګه د خپل تره زوی وينه نه تويول، ځکه چې شيرينۍ خو د ده ښځه او ناموس وه، ده د خپل تره زوی ټولو غوښتنو ته غاړه کېښوده د جګړې، وينې تويولو او زړه بدۍ څخه يې ډډه وکړه، چې په خپل ذات کې دا ډېرې  سترې او ارزښت منې کارنامې دي.

۱۰- د حماسې د قهرمان کارونه او خواړه خارق العاده، غيرطبيعي او د منطق په تله نه تلل کېږي د مومن خان کارونه چې اژدها وژني هم يو فوق العاده کار دی، بل دی خوبويني چې پهلوانان را نسکورکړي همهغه شان يې د پاچا هانو پهلوانان را نسکورکړ بل داچې په ليدو يې خلک بې هوښه کېده.

۱۱-  بله ځانګړنه د حماسې داده چې اتل د دښمن سره تن په تن جګړه کوي، همداشان مومن خان چې د خپل ملګري پاچا د ججې ورکړې څخه خبرېږي، نو يوازې په پاچا پسې ورځي او شخړې ته پخپله اتلولۍ د پای ټکی ږدي.

۱۲- د حماسې قهرمان تن په تن جګړه کې له بېلا بېلو وسلو څخه کار اخلي، چې مومن خان د ښامار سره د تن په تن جګړه کې د خپلې تورې څخه کار واخست.

۱۳- په حماسه کې عينيت ساده ګي او عظمت، بله ځانګړنه ده، مومن خان هم همدائځانګړتياوې لري، ډېرساده ژوند خو ډېر با عظمته، د وقاره او وياړه ډک.

۱۴- د حماسو بل خصوصيات دادی چې عالي سبک لري، درانه کلمات، جدي معناوې، نومونه يې زاړه وي، چې عين ځانګړتياوې د مومن خان د نکل دي په درنو الفاظو او کلماتو، جدي معناوو او زړو نومونو په تول پوره دي.

۱۵- د مومن خان اس کرنګ ته ښيرا چې شيرينۍ يې ورته کوي او په پښو ګوډېږي له عقله لرې خبره ده او همدارنګه د ۳۹ نجونو راتګ له هندوستانه او د ده جنازه چې جلکۍ يې تر هديرې وړي مبالغه ده.

۱٦- د مومن خان او هندوستانۍ په قبرکې سره يوځای کيدل؛ د خلکو خوب ليدل او وروسته د لارو په منځ کې ښخول؛ د ونو په هوا کې سره غاړه غړۍ کېدل له مبالغې نه بله خبره نه ده.

**ب: د پښتو ملي حماسو سره د مومن خان او شیرینۍ د کیسې پرتله**

۱- د مومن خان او شیرینۍ ژوند د پیدایښته تر مرگه لکه، د فتح خان – رابیا، موسی خان او گلمکۍ، ادم خان – درخانۍ، په شان لوړې ژورې لري په پای کې په تراژیدي بدلېږي.

۲- د پښتو په غوره حماسو کې هرقهرمان خپل ملگري لري، لکه د فتح خان سره د یوکم شپېته بړیخو رابیا او د بړیخو د ښځو سره، چې ضد قهرمان یې شمس الدین پاچا دی(نوري،۱۳۹۲، ۲۰، ۲۱ مخونه) ، موسی خان ملگري ولي جان، میرولی، گلمکۍ ، ببۍ او تانو(نوري، بې تا، ۷۰، ۱۱۳مخونه) ورسره نورې څېرې، چې ضد قهرمان یې سهیلی پاچا دی، همداشان ادم خان ملگري یې میرولی بلو یا (بلوگی)، درخانۍ او نور، چې ضد قهرمانان یې تاوس خان، پایوخان او بازیدخان او نور وه، همدارنگه مومن خان ضد قهرمانان هم لرل چې هغه یې ټول د ښو کړو وړو په زور تابع کړه لکه: زبردست د تره زوی یې، د هندوستان هغه پاچا چې ملک یې له ښامار ورته خلاص کړ او د دواړو پاچاهانو پهلوانان چې په غېږنیولو کې یې راچپه کړه او د خان تابع یې کړه.

۳- موسی خان له گلمکۍ سره او فتح خان له رابیا سره په اوږدو سفرونو وځي، همداشان مومن خان هم په اوږدو سفرونو وځي چې د فتح خان او مومن خان سفرونه د هندوستان په لورشوي دي.

۴- د پښتو د دریو مشهورو حماسو د قهرمانانو په شان، چې د هر یوه اس نوم لري د مومن خان اس هم نوم لري لکه: د فتح خان اس (کورنگ) د موسی خان په نکل کې د میرولي اس (پړانگی)، د آدم خان اس (مجنون)، د بلو اس (ازر) او د میرو اس (پرده) نویده همدارنگه د مومن خان اس (کرنگ) نومیږي.

۵ - د فتح خان، موسی خان، میرولي، ادم خان غوندې مومن خان هم د باچا مقابلې ته په یکړ سر ورځي، ښامار هم په یک یو (یوازې) ځان وژني.

٦- د مومن خان او شیرینۍ داستان هم لکه د موسی خان- گلمکۍ، ادم خان - درخانۍ له زېږیدو تر مرگه پورې د اتل د ژوند نکل کوي، چې عشق، برې، ناکامي او سرښندنې ټولې په کې بیان شوي دي او بالاخره  په پای کې تراژیدي جوړوي.

۷- څرنگه چې د موسی خان په حماسه کې د موسی خان مینه گلمکۍ؛ د موسی خان په قبر ساه ورکوي مري او د ادم خان په قبر درخانۍ؛ همدارنگه د مومن خان په جنازه د پاچا لور سا ورکوي ځان حق ته سپاري، د یادونې وړده چې د پښتیا خلک د پاچا لور په دوو نومونو یادوي: یورونۍ (یارونۍ) او هندوستانۍ، په دې اړه لاندې لنډۍ د نوموړي داستان ژوندی مثال دی چې د شېرینو او یورینۍ یا هندوستانۍ تر منځ سوال ځواب شوی، لکه شیرینۍ یا شیرینۍ ورته وایي:

یارونۍ نه یې کچنۍ یې

په نیمو شپو د گرځاوه په مړ د کنه

(شخصي مرکه، ، ۱۳۷۵وري ۵، ونه)

زما مرحوم پلار تاج محمد منگل چې د ۷۵ کالودی بیا په دې ډول ویله:

هندوستانۍ نه یې کچنۍ یې

په نیمو شپو د گرځاوه په مړ د کنه

(شخصي مرکه، ۱۳۸۹مرغومې ۷، تاج محمد)

۸- بل گډ خصوصیات د نوموړو حماسو تر منځ دادي چې دوی پلارونو په وړوکوالي کې سره واده کړې وه.

۹ - یوه ځانگړنه دا چې د وړوکوالي نه په یوبل گران وه او یا په یوځل لیدو سره مئین شوي دي.

۱۰- د پښتو حماسو د گډو خصوصیاتو په ډله کې دا هم کیدی شي چې د داستان د قهرمان پلار اولاد نه لري، کوم چې وشي هغه اتل وزېږي.

۱۱- د پښتو د حماسو قهرمانان لومړی زخمي کېږي، بیا ورسته سا ورکوي، بله دا چې د پښتو د حماسو قهرمانان ټول په سره توره وژل کېږي، تر خپلو مېرمنو د مخه مري ورسته یې مېرمنې سا ورکوي.

**ج: - د مومن خان او شیرینې د کیسې خاص پښتني خصوصیات**

۱- مومن خان د یو ریښتوني پښتون په څېر د خپل تربور سره وینه تویول نه خوښوي، د زبردست زبردستۍ ته غاړه ږدي ټول شرطونه یې مني، مومن خان د سیمې خان و ده کولی شو خپله مېرمن شیرینۍ په زور د خپلو تره زامنو نه راولي، د یو باتدبیره پښتون خان په شان یې دا فکر وکړ، که زه خپل تره زامنو سره بې اتفاقه

شم خلک راڅخه ناوړه ګڼه پورته کوي دویم زما مېرمن به زما څخه هم کرکه کوي چې لاسونه مې د ورور په وینو سره وي.

۲- کله چې دی هندوستان ته په ولور پسې روانېږي، نو شیرینو ورته وایي چې زما ولور به زه درکړم زما ورونو ته یې ورکړه، نو شیرینۍ داسې ناره پرې وکړه:

د هندوستان ولورته مه ځه
د شیرینۍ ولور له ما واخله مینه

(محمد نواز خان، بې تا، ۱۵مخ)

مومن خان د یو پښتون په شان کې دا کمی وباله چې سبا به خپله ښځه ماته پېغور راکوي چې د یوې ښځې ولور دې نشی پوره کولی ته څنګه پښتون او خان یې.

۳- د یوې پښتنې په ضمیر کې د پت، عزت، عظمت او سپیڅلتیا ستره نښه داده، چې کله چاته واده شوه، نو ټول عمر د خاوند په نامه ناسته وي، عمر تیروي، ولو که سپین سرې هم شي، کله چې شیرینۍ پوهه شوه چې مومن خان نه درېږي ځي نو ورته داسې ډاډ ورکوي:

مومنه! ځه الله دې مل شه
دا شینکی خال او زلفې تا لره ساتمه
مسافري په جمعه زړه کړه
خولګۍ مې ستا ده که زه خاورې شم مینه

(نوري، ۱۳۹۲، ۱۱۸ مخ)

۴- په دې داستان کې د ریدیګل رول د یو پښتون په څېر د خپل هوډه نه په سر کېږي د مومن خان ملګرتیا کوي، د مومن خان میلمه پالنه د هندوستان د پاچا عسکرو په وړاندې، له ججې (جزیه) څخه د پاچا خلاصول په ځان پور ګڼل او یا ځان سر بایلل، بل دا چې دی د شیرینۍ سره په کړې وعده ټینګ ولاړوه کله چې ښامار وژني پاچا د نیمې پاچاهۍ سره خپله لور ورکوي دی ورته وایي چې زه ښځه لرم او پاچاهي نه غواړم، خو په اخر کې یې د لور نکاح کولوته اړ کوي او پاچاهي نه غواړي، کله چې پاچا له لور واده کوي ورته وایي، چې د خلکو په وړاندې زما ښځه یې خو په

پټه به لاس نه راوړي ما د شیرینی سره قول کړی دی زه باید خپله پښتو ماته نه کړم، د پاچا د نیمې پاچاهی نه غوښتل چې پښتون هیڅکله خپل ښه په پیسو نه خرڅوي.

۵ - یوه خاصه ځانګړتیا چې پښتون یې لري، هم ښکلی وي او هم یې عمل ښکلی وي چې دا د خدای (ج) ورکړه ده، چې په پښتون یې پېرزوکړې (لورولې) ده، ورسره د پښتون په شان کې د خپلواکی، د ډګر ګټلو او مشری سپېڅلی غرور پروت وي، چې ښه بېلګه یې مومن خان دی، کله چې عسکر ور ځي تول یې احترام کوي، پاچا ته چې ور ځي هغه یې هم احترام کوي او په دربار کې یې د ځانه سره اوسوي، د یو پاچا او شهزاده په شان چلند ورسره کوي.

٦- کله چې د ده ستر نیت او پښتونوالي د ده تره زوی زبر دست ته جوته کېږي، زبردست هم د یو پښتو تربور په شان د خپل پردیس تربور غم نشي زغملی په هغه چاره چې دی یې وهلی وه، خپل ځان وهي د مومن خان له جنازې سره خپله جنازه غبرګوي.

٧- د پښتون ترټولو ستره ځانګړنه داده چې په ناموس سر ورکوي او د ښځو ډېر درناوی کوي، په ستر کې یې ساتي چا ته یې د لیدو زړه هم نه په کېږي، په دې هکله د پښتو متل دی وایي: (مال تر سر جار سر تر ناموس)(شخصي مصاحبه، ، ١٣٩١تلې ١٠، میرزاخان )، یا (مال مې له سر ځار، سر مې له پته ځار) (صمیم، ١٣٩٦، ۴٦٨مخ)، مومن خان د زرګر په دوکان ناست دی سینګار کړې ښځه د اوښ په بار کې ناسته ده سرې اوښ تر مهار نیولی، د زرګر د دوکان خواته چې را نږدې شوه په پنډو (ناستو) ځوانانو یې اواز وکړ:

ځوانانو ننګ را باندې وکړئ

پلار مې مغل دی مابشامار لره لېږینه

(نوري، ١٣٩٢، ١٢١مخ)

مومن خان چې دا ناره واورېده، نو د زرګر نه یې د ښځې په برخلیک ځان پوه کړ، د ځان سره یې وویل چې شیرینی خو هم ښځه ده، که دا حال پرې راغلی وی مابه څه کول قسم یې وکړ چې یا به مرم یا به ښځه خلاصوم، په پای کې ښځه له ښاماره خلاصوي.

**د مومن خان او شیرینو د نکل په اړه ضد او نقیض روایات**

دا څېړنه د مومن خان او شیرینو د نکل له بېلابېلو وریانتونو څخه بشپړه شوې چې اصل یې د محمد گل نوري ملي هنداري د تاج محل کمپنۍ پېښور چاپ غوره شوې، د ساحوي څېړنې سیمه لویه پکتیا ټاکل شوې، د څېړنې په بهیر کې دا څرگنده شوه چې د مومن خان او شیرینۍ په نکل کې ځینې ضد نقیض ورته او توپیري خبرې شته، لکه:

**لومړی**: په خپله نکل کې همداشان ځینو پوهانو مومن خان د خان زوی معرفي کړی، د پښتو د نورو نکلونو په تقلید چې د نکل قهرمان یا د پاچا زوی وي او یا د خان، خو مومن خان د خان زوی نه دی، بلکې په خپله خان و او د خان وراره وه، نه د خان زوی.

**دویم:** ما چې د خپل پلار څخه واوریدل هغه ویل چې په کیسه کې د پاچا د لور نوم هندوستانۍ راغلې چې دا خطاب شیرینۍ او د شیرینۍ مور ورته کوي، خو نورو هغو ښځو چې دا نکل په یاد وو او په وادونو کې یې د مومن خان اړوند سروکي او لنډۍ ویلې، د هندوستانۍ په ځای یې (یارونۍ یا یورونۍ) ویل، دوی ویل چې د مومن خان په جنازه یې چې د ویر غړانگې بللې په هغه کې خو د پاچا لور ته یارونۍ وایي، کله چې د پاچا لور د مومن خان جنازې ته را رسېږي په شیرنو یا شیرینۍ غږ کوي:

شیرینۍ نه یې کچنۍ یې
که مومن تور وي تا به سپین خوښ کړی وینه

(شخصي مصاحبه، ۱۳۸۹، لړم ۱۴، نفیسه)

شیرینۍ ورته وایي:
یارونۍ نه یې کچنۍ یې
په نیمو شپو د گرځاوه په مړ دکنه

(شخصي مصاحبه، ۱۳۸۹، لړم ۱۴، نفیسه)

یو لنډ سروکی ور سره تکراروي:
جارخانه مومنه مړ مې کړې په خپله!

★★★

مومن خو تا مړ داړې مړ کی الله
په تش ولور دې سپېرو خاورو کاښی کنه
مومن اووه چوړې(چارې) خوړلې الله
وه د زبر دست له چاړې ډېر پریاد (فریاد) کوینه
یاسین په زوره ورته وایئ
وه په مومن خان دزلکدم خوالې راځینه
(شخصي مصاحبه، ۱۳۸۹لړم ۱۴، جمیله)

د بره دوې جنازې راغلې
د مومن خان جنازه پېغلې جونه وړینه
مومن خو دولس کاله تیرکړه
چې دولسم کال یې راته اځل یې وونه
(شخصي مصاحبه، ۱۳۹۰لړم ۱۴، کدرجانه)

بل د شېرینو د مشر ورور نوم په ملي هینداره کې او په پښتیا کې زبردست دی، خو هاشم لوګړی (لیونی) چې د دې نکل وروستۍ برخه په مثنوي نظم کې وایي، هلته د شېرینو د مشر ورور نوم ظفرخان ښودل شوی، لکه:

... ور و ښو یېدو مومن
د کټونو لاندې تېر شو په زمین
شېرینۍ بي بي ته و درېدو په سره
خدای دې خیر کړي سخت مقام دی د خطره
لاس یې کېښود په سینه د ګل صنمه
شېرینۍ بي بي شوه پورته هغه دمه
یوه ناره یې د خولې وخته په زوره
وایي غل دی ظفر خانه زما وروره
دا ناره شېرینې وکړه له هیبته
له هیبته یې ټول ورښه شول وچته
په یو دم کې له مومنه شو چاپېر

مومن خان غریب یې منځ کې کی را ګېر
ګذارونه یې پرې وکړه د چاړو
سر سري مومن زخمي شو له سړو
لا خوړلی یې وار نه و د خطر
اخیري ګزار پرې وکړلو ظفر
دا روستی ګزار ظفر و کړو د غمه
مومن خان په ځیګر و لګېده سمه
سم دستي پرېوت په زمکه را نسکور
په لوېدو کې یې صرف و کړو یو اواز
ما د زړه په سر خوړلی ګزار ساز
دا ګزار د ظفر خان دی شېرنۍ
اخیري دیدار ته راشه لېونۍ
شېرنۍ بي بي راځه روستی دیدن دی
اخیري سلګۍ مې واوره زلکدن دی
رب د پاره راته دوه سترګې ښکاره که
دا حاجت زما د خوګ زړګي پوره که
بیا یې منډه کړه د ننه په سر تورې

(حوالدار ذبي افغان فیسبوک پاڼه، ۱۴۰۳، هاشم لوګری)

هاشم لوګری په اخر کې د جمال نوم یادوي، په حقیقت کې دا د جمال په نامه شاعر او ناظم چې د مومن خان او شېرینو کیسه یې په دولس څپیز بحر مثنوي په نظم کړې په حافظه کې پاتې ده، جمال ناظم یاده کیسه په ډېر روان او زړه راښکونکي ډول په نظم کړې.

**دریېم:** په کیسه کې د مومن خان پاده وان ورور ماجتي (زوینیوه) ورور ښول شوی، ماجتي (زوینیوه) هغه اولاد ته وایي چې مور پلار یې معلوم نه وي، په پکتیا (پښتیا) کې همدغه سړی د مومن خان ناظر بولي وایي هندوستان ته د زبردست له ظلمه ځي مومن خان ببرته خپل هېواد ته په بهانه را ولي ورته وایي چې ستا مېرمن د بل چا شوې.

لکه په دې سوال او ځواب کې چې یو بل پوهوي:

مومن خان:

که پادوان یې پر ما ګران یې
د زېړو ګلو باغ پر ځای که خزان وونه

پادوان:

که مومن خان یې په ما ګران یې
د زېړو ګلو پر باغ ګډ واته مالونه

(شخصي مصاحبه، ۱۳۸۹لړم ۱۷، نسیمه)

د مومن خان او شیرینو نکل دلته یوازې په حماسي اړخ باندې زیات تمرکز شوی، ځکه چې د څېړنې فرضیه د دې نکل حماسي ځانګړنې په نښه کول و، که څه هم یاد نکل کې د پښتني کلتور ډېرې بېلګې له ځانه سره ساتلې او په هر اړخ باندې یې ځانګړې مقالې لیکل کېدی شي، لکه: پښتني خوینه، ننګ، مېړانه، پښتني دودونه، سرښندنه، پت، عزت، ناموس، ټولنیز ژوند، اتنیک او نور.

## پایله

د مومن خان او شیرینو کیسه د پښتو ولسي ادبیاتو یوه برخه ده، متني جوړښت یې منثور او منظوم دی، منظومه برخه یې د نکل نارې دي چې ژانر یې لنډۍ ده، یاده کیسه د پښتني ټولنې د ژوند ژواک زیاتې ځانګړنې په خپله غېږه کې ساتلې دي، په دې مقاله کې یې یوازې پر یوه اړخ حماسي ځانګړنو څېړنه تر سره شوې دي، د نارو په اړه ورته او توپیري نظریات او وریانتونه هم راوړل شوي، د څېړنې اړوند پوښتنې د ټاکلې فرضیې پر محور مدللې شوي دي، چې د مومن خان او شیرینۍ د کیسې عام حماسي خصوصیات؛ د پښتو ملي حماسو سره یې پرتله؛ خاص پښتني خصوصیات؛ د دې نکل په اړه ضد او نقیض روایات؛ مستندوي.

## مأخذونه

۱. تاج محمد منگل، کیمیاگل زوی، اخوند، ۷۵ کلن، خوست، موسی خیل، زوړکوټ، سیدگي کلی، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنگل، ۱۳۸۹ل کال.

۲. جمیله، نعیم لور، نالوستې، ۴۵ کلنه، لوګر، څرخ ولسوالي، منګلو کلا، مصاحبه کوونکي: عبدالاحد منګل، ۱۳۸۹ل کال.

۳. د عشقیه داستانونو ټپې، محمدنواز خان، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، چاپ کال(- -).

۴. ذبیح الله صفا. حماسه سرایي در ایران، نم چاپ، مؤسسه انتشارات امیر کبیر، تهران، ۱۳۸۹ل.

۵. عبدالغفور لېوال. په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه، د افغانستان علومو اکاډمي، شمشاد هاشمي مطبعه، کابل، ١٣٩٦ل.

٦.کدرجانه، سید لور، نالوستې، ۵۳ کلنه، خوست، موسی خیل، سیدکي کلي، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منګل، ۱۳۹۰ل کال.

۷. محمد آصف صمیم، د متلونو کلیات، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ١٣٩٦ل کال.

۸. میرزاخان، ٦٠ کلن، لسم پاس، د سلطاني زوی، څرخ، دښته، په قوم منګل، مصاحبه کوونکی: عبدالاحد منګل، ۱۳۹۱ل کال.

۹. نسیمه، ښایسته میر لور، ۴۰کلنه، نالوستې، پکتیا، سیدکرم، په قوم، منګله، مصاحبه: عبدالاحدمنګل، ۱۳۸۹ل کال.

۱۰. نفیسه، ۵۸ کلنه، خیال ګل لور، نالوستې، ولسي شاعره، خوست، موسی خیل، سیدګي کلی، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنګل، ۱۳۸۹ل کال.

۱۱. نوري، محمد ګل. ملي هینداره (د اګلیسي ژباړې سره)، لومړی ټوک، ثمر د ژبپوهنې نړۍ واله مؤسسه، کابل، ۱۳۹۲ل کال.

۱۲. نوري، محمد گل. ملي هینداره، لومړی ټوک، قصه خوانۍ، پېښور، چاپ کال (ـ
ـ).

۱۳. ونه، د بالي لور، ٦٠ کلنه، خوست، موسی خیل، زوړ کوټ، سیدگي کلی،
مشاهده: عبدالاحد منگل، ۱۳۷۵ل کال.

**فیسبوک پاڼه:**

۱۴. لوگری، هاشم (لېونی)، حوالدار ذبیح افغان فیسبوک پاڼه، سلاس
رسی:www.fasbok. Hawaladar Zabih Afghan، {مراجعه: ۱۴۰۳ل کال}.

څېړنوال رحیم الله حریفال

# په «یوه خبره درته وکم؟» ناول کې د وګړمنځي برچار څېرنه

# An Analysis of Interpersonal Discourse in the Novel "Yawah Khabara Drta Wakum?"

Associate. Prof. Rahimullah Harifal

**Abstract**

Michael Halliday's theory is one of the perspectives of the Beta function theory. In this theory, Halliday looks at the text from different aspects, he pays special attention to the internal and external meaning of the text in all parts of his theory. On this basis, he believes in three categories for the different components of speech: (1. experiential Metafunction, 2. Interpersonal Metafunction, and 3. Textual Metafunction).

However, Interpersonal Metafunction examines the interiaction between people in the spiritual search. This structure involves the speaker and the listener as an interactive expression and is important because of the rhetorical roles. In this research paper, the Interpersonal

metafunction author of the young and famous Pashto novel, Nasir Ahmed Ahmadi, will examine the novel "I'll tell you something".

## لنډيز

د مايکل هاليډي نظريه د چاپيريال نظريې له ګرايشونو( ليدلوريو) څخه يو ليدلوری دی. په دې نظريه کې هاليډي له بېلابېلو اړخونو څخه متن ته ګوري. هغه د خپلې نظريې په ټولو برخو کې د متن داخلي او بهرني اوب او معنا ته ځانګړی پام کوي. پر همدې بنسټ د وينا د بېلابېلو اجزاوو لپاره درېيو برچارونو: (۱. تجربی برچار ۲. وګړمنځي برچار ۳. متني برچارا) ته قايل دی.

وګړمنځي برچار په معنوي لټون کې د وګړو تر منځ تعامل څېړي، دا جوړښت د يوې تعاملي ښکارندې په توګه ويناوال او اورېدونکي ته شاملېږي او د وينايزو رولونو له امله د اهميت وړ دی. په دغه څېړنيزه مقاله کې به وګړمنځي برچار د پښتو ژبې د ځوان ناول ليکوال نصير احمد احمدي په ناول «يوه خبره درته وکړم» تطبيق شي.

## سريزه

مايکل الکساندر کرکوود هاليډي (په ۱۹۲۵ز) کال کې زېږېدلی دی، نوموړی ژبپوه ا سترليايي نژاد و چې په انګلستان کې زېږېدلی او ستر شوی دی. د نوموړي مور او پلار له ژبې او ژبنيو بحثونو سره د هاليډي په علاقمندۍ کې ځانګړی رول درلود.(حميدزی، ۱۳۹۸: ۱۰)

هاليډي چاپيرياله ژبپوهنه معرفي کړه چې د متونو د شننې او تحليل په برخه کې په بريالي ميتود بدله شوه. دا چې هاليډي د ژبنيو عناصرو پر چار/ نقش ټينګار درلود، نو ځکه يې په ژبنيو مطالعاتو کې خپل ميتود د چاپيريال په نامه ونوماوه. په دې ميتود کې هڅه کېږي چې د متن/ وينا معنا پر داخلي لاملونو سربېره د متن له بهرنيو عواملو سره په تعامل کې چې هماغه اوب ((context دی، درک شي او بهرنيو

لاملونو ته پاملرنه، یعنې د اثر په پنځولو کې د انســان د فکر رول او ټولنیزو واقعیتونو ته پاملرنه ده. د اوب او متن کلمې چې یو له بل سره راشي، دا څرګندوي چې د متن ترځنګ بل متن دی چې له هغه سره یوځای راځي او اوب ((context بلل کېږي.

نوې ژبپوهنه په یوه تعبیر په دوو څانګو وېشـــل کېږي: رغشـــتواله او چارواله. رغشـــتواله ژبپوهنه چې له بلومفیلد او نورو څخه پیل شـــوه او په چامســـکي پای ته ورســـېده؛ د دغې ژبپوهنې ډېر تمرکز د جملې پر ســـپړنه او تحلیل و؛ تر دې بریده چې اوس هم د چامســـکي کار د جملې تحلیل دی. ناویلي دي پاتې نه وي چې دا ډول نظریې د ادبي څېړنو او مطالعې لپاره نه کارېږي، هغه ځکه چې جمله د ادبیاتو د پنځونې پیل دی، نه د پای ټکی. دا چې ژبپوهنه د ادبي څېړنو لپاره وکارول شي، په کار ده چې له جملې څخه پورته ولاړه شي. متن وڅېړي، نو غوره ده چې د ادبي متونو د ســـپړنې او څېړنې لپاره له متن بنســـته نظریاتو څخه کار واخلو؛ لکه: د هالیډي نظامنده چارواله نظریه. هم په ژبنیو او ژبپوهنیزو څېړنو کې ګټوره ده او د ادبي مطالعاتو له ښو اړخونو څخه برخمنه ده.(پورتنی اثر:۱)

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د متن په شننه او تحلیل کې وګړمنځي برچار ځانګړې ارزښت لري، په نورو ژبو کې هم د لیکوالانو په داستاني آثارو کې برچارونه تحلیل او څېړل شوي دي چې له ښه بخته په پښتو ژبه او ادبیاتو کې دې برخې ته پام شوی دی، خو زموږ پر وړاندې لا ډېر واټن پاتې دی.

وګړمنځي برچار د لیکوال او لوســـتونکي تر منځ تعامل ته ویل کېږي او تر ډېره په ناولونو او داستانونو کې ترې ګټه اخیستل کېږي، ترڅو لیکوال لوستونکی له ځان سره وساتي او لوســتونکي ته رول ورکړي او لوســتونکی په ښــه ډول مفهوم او معنا واخلي، نو اړتیا ده چې بېلابېلې تیوریګانې د پښتو ژبې پر داستاني او غیر داستاني آثارو تطبیق او

د هغو په رڼا کې د آثارو ارزښت او رنګارنګۍ په ډاګه شي د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د چاروالې ژبپوهنې په رڼا کې هڅه شوې چې وګړمنځې برچار د نصیر احمد احمدي په ناول کې تطبیق شي او د یاد برچار په رڼا کې د «یوه خبره درته وکم» ناول وشنل شي چې پر خپل ځای دا یوه نوې څېړنه او شننه ده.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې له یوې خوا د چاروالې ژبپوهنې وګړمنځې برچار لا ډېر وپېژندل شي او همدارنګه دا ثابته شي چې زموږ په داستاني ادبیاتو او ناولونو کې له دغو برچارونو څخه څومره ګټه اخیستل شوې ده او په «یوه خبره درته وکم» ناول کې نصیر احمد احمدي څه ډول له وګړمنځې برچار څخه ګټه اخیستې ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د چاروالې ژبپوهنې نظریه څه ډول نظریه ده؟

۲. وګړمنځې برچار کوم برچار ته ویل کېږي؟

۳. وجه او وجهیت څه توپیر سره لري؟

٤. په «یوه خبره درته وکم» ناول کې څه ډول وګړمنځې برچار کارېدلی دی؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنیزه مقاله کې له تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## د مقالې متن

## د چاروالې نظریه

چارواله ژبپوهنه د نظري ژبپوهنې له اصلي لیدلوریو څخه یو لیدلوری دی، چې په هغه کې چار او معنا یوځای په نظر کې نیول کېږي.

د ادراکي ژبپوهنې یوه له هغو نظریو څخه چې د ژبې له ظاهري بڼې او لفظونو څخه لوړ د هغو د کارونې یا کارېدنې په اړه بحث کوي، د مایکل هالیډې د چاروالې

نظریه ده. په داسې حالاتو او شرایطو کې چې د رغښتي نظریې د دود په شرایطو کې چې د متن شننه او تفسیر یوازې د متن په داخلي روابطو پورې ور لنډوي او د اثر په اړه بهرنیو عناصرو او لاملونو ته پام نه کوي، د هالیډې په نظریه کې بیا هم د جملې او متن جوړښتي لایو ته پام کېږي او هم د متن موقعیتي اوب، یعنې له ژبې بهر معنا ته توجه کوي.

هالیډې د ژبې صوري نظام له معنایي او چاروالي نظام سره یوځای اوب په نظر کې نیسي، هغه په خپله نظریه کې د معنا درې سطحې مطرح کوي چې په لاندې ډول دي: ۱ . تجربي برچار ۲. وګړمنځې برچار ۳. متني برچار.(ښکلی،۱۴۰۱: ۹۰)

دا نظریه چار او معنا د انسان د ژبې د بنسټ او ارتباطي فعالیت په توګه په نظر کې نیسي او د چاروالې ژبپوهنې(function linguistic) مینوال ژبپوهان خپلې تجزیې او شننې له ټولنیز اوب څخه پیلوي او پر ټولنیز اوب د ژبې د اغېز برعکس د ژبې اغېزمنېدل له دې اجتماعي اوب څخه تر څېړنې لاندې نیسي. دا نظریه چارواله ده، نه صورت‌پاله، معنا بنیاده ده، نه نحوه بنسټه او د جملې پرځای متن د خپل کار موضوع ګرځوي.

د هالیډې په نظر معناپوهنه یوازې د کلمو او لغتونو تر معنا پورې نه محدودېږي، بلکې معنا پوهنه په یوه ټولنه کې د ټولو معناوو یو نظام دی او د ژبې ګرامر د معنا په بیان کې د ژبې د وییونو په کچه رول سر ته رسوي.

## وګړمنځې برچار

وګړمنځي برچار د پنځګر/ ویناوال او مخاطب/ اورېدونکي تعامل ته وایي. ژوند د تعاملاتو ټولګه ده. ژبه د متکلم او مخاطب تر منځ تعامل دی. د ویناوال او اورېدونکي ترمنځ یا د خدمتونو او یا د اطلاعاتو اړیکه/ تعامل وي. یو فرد له بل سره د تعامل په پایله کې څلور ژبني چارونه ترسروي: د معلوماتو ورکول، پوښتنه، د خدمتونو وړاندیز

او فرمان ورکول چې لومړي دوه اخلي او وروسته دوه ورکوي، دا تعاملات د فعل په وجه کې ځان ښيي. د ژبې کار د دې تعاملاتو بیان دی.

د فعل په امري وجه کې فرمان صادرېږي، په خبري وجه کې یې اطلاعات ورکول کېږي، په پوښتني وجه کې یې معلومات غوښتل کېږي او په تواني یا نورو وجهو کې بیا مخاطب ته د خدمت وړاندیز کېږي.

د هالیډې په اند، ژبه پخپله د یو عمل ښکارندوی ده، چې په وګړمنځي(بین فردي) برچار کې د عمل د یوه دود (روش) په بڼه را څرګندېږي.(پورتنی اثر: ۹۱)

متن ته د هالیډې د پام اړونې دا ټکی ډېر د ارزښت وړ دی: متن ــ دا دوه اړخیزه تعاملي ښکارنده د یوې اړیکې ټینګښت راښیي، یعنې په متن کې یوازې لیکوال او شاعر نه دی چې حضور لري، بلکې د متن د اوب په جوړښت کې مخاطب یا اورېدونکي ته د اعتبار او اهمیت ورکولو له امله مخاطب/ اورېدونکی شته دی چې ویناوال په یوه تعاملي ویناییز(فعالیت) کې کولای شي، هغه وپوښتي، هغه ته څه ورکړي او یا هم له هغه څه شی وغواړي، لکه: اطلاعات او خبر ورکول او یا هم د اطلاعاتو او خبر غوښتل.(نوابی، عباس، آقاګل، محسنی. ۲۰۱۴: ۱۴۷۱)

بېلګه: څو ځله دا چټیات لاندې باندې کړم؟

دا د دې لپاره چې د اورېدونکي ذهن څه شي بوخت کړی دی، هغه بېرته راواړوي، دا اورېدونکي ته د رول ورکولو او ارزښت له امله کېږي او هغه د تعامل بهیر ته داخلوي. دا میتود او روش د یاکوبسن د وېش پر بنسټ یوازې هڅونکی او ترغیبي نه دی، بلکې لوستونکی د متن پیغام ته راغواړي او فکر کولو ته یې اړباسي.

د وګړمنځې معنا له نورو سره د تعامل ښودنه کوي او د ټولنیزو اړیکو ساتل دي، موږ له نورو سره د مقصدونو پر بنسټ روابط ټینګوو او د دغو موخو پر اساس په هغوی اغېز کوو او یا هم خپل نظر هغوی ته لېږدوو او د هغوی چلند او غوښتنې تر اغېز

لاندې راولو یا هم هغوی ته اطلاعات ورکوو او یا هم له هغو څخه اطلاعات ترلاسه کوو.

د وګړمنځې معنا له اړخه د جملې جوړښت په دوو برخو وېشل کېږي: وجه او پاتې نور عناصر.

**۱. وجه**

وجه هغه عنصر دی چې د غونډ (فقرې) په جوړښت کې اغېزمن دی او د وګړمنځې برچار له نظره د وینا هسته جوړوي. د فقرې جوړښت په وګړمنځې معنا کې په دوو برخو (**وجه**) او (**پاتې نورو عناصرو**) وېشل کېږي، وجه د فقرې په جوړښت کې بنسټیز رول لري او د ارتباطي تعامل ډول ټاکي او همدارنګه په ټولنیز تعامل کې د ویناوال لیدلوری څرګندوي. په وجه کې (**فاعل**) او (**صرفي عنصر**) شامل دي او پاتې نور عناصر د فقرې جوړوونکي دي.

د هالیډې په نظر د وجهې په عنصر کې (**فاعل**) او (**صرفي عنصر**) شامل دي، هالیډې وایي؛ فاعل او صرفي عنصر په ګډه د فقرې یوه برخه جوړوي چې هغې ته وجه وایي. نوموړی پر دې باور دی چې وجه په وګړمنځې معنا کې مهم رول ترسره کوي.

د فاعل ګړنه(اصطلاح) د هالیډې په چارواله نظریه کې هغه عنصر ته وایي چې ویناوال غواړي هغه د ابښوني(خبر) د سموالي مسؤول جوړ کړي چې په فقره کې مطرح شوی دی او هغه څه چې په فقره کې راځي د هغه په اړه دي، د جملې فاعل کېدای شي یوه مرکبه نومیزه ډله وي او یا هم اسمي ډله. په چارواله کې فاعل یوازې ګرامري بڼه نه لري، بلکې د چاروالې د نورو مقولو په څېر معنایي سرچینه لري.(نوابی، عباس، آقاګل، محسنی. ۲۰۱۴: ۱۴۷۵)

## ۲ . صرفي عنصر

صرفي عنصر د فعلي ډلې یوه برخه ده او د هغه دنده د اېښوني(خبر) محدودول او مشخصول دي، په دې معنا چې صرفي عنصر د فقرې د اېښوني معنا او مفهوم د هغه له واقعي او عیني اوب(context) سره یوځای کوي، د فقرې دغه تړاو له واقعي اوب(context) سره د ارجاع له دو لارو څخه ترلاسه کېږي.

۱. د خبرو کولو وخت ته ارجاع کول، لکه: «نجلی غریو واخیسته، زړه مې تر خولې راووت، دروازه مې خلاصه کړه، تره او د تره دواړه زامن یې په بېړه دالان ته ننوتل» (احمدي، ۱۳۹۱: ۳٦ )

۲. یا د ویناوال قضاوت او لیدلوري ته ارجاع کول، لکه: نشي کېدای چې دا دې سم وي.» چې لومړی یې (**ګرامري وخت**) او دویم یې (**کیفي حالت**) نومېږي. پر دې سربېره صرفي عنصر د اېښوني د مثبتوالي او منفیوالي ښودنه هم کوي. (نژاد، رضا، وزیرنژاد. **۱۳۸۸:۵۴**)

**کیفي حالت:** د فقرې د مفهوم د اعتبار د تلې ښودنه کوي، په دې معنا چې دا مفهوم له احتمال څخه تر التزام پورې په کومه پوړۍ کې ځای لري.

**قطبیت:** په دې معنا چې اېښونی له څومره مثبت او منفي اعتبار څخه برخمن دی.

«د خرې هیلۍ په وزر کې څرېکه شوه.»

۱ . اېښونی(ګزاره) په اوس مهال کې واقع شوې ده. ۲ . قطبیت مثبت دی. ۳ . اعتبار هم لري.

کله چې اورېدونکی یا لوستونکی د دغو اطلاعاتو اعتبار د پورتینو درېیو مواردو پر بنسټ ومني، ویناوال یا لیکوال کولای شي خپلې وینا او تعامل ته دوام ورکړي.

### ۳ . گرامري مهال

د خبرو کولو په وخت کې د تېر، حال او راتلونکي په معنا دی او هغه مهال دی چې د ویلو له وخت او شېبې سره تړاو لري.(پورتنی اثر: ۵۵).

### ۴. پاتې نور عناصر

پاتې نور عناصر د فقرې هغه برخې دي چې په فقره کې راتللی شي او دا درې عناصر په غونډ کې د فرعي نقشونو درلودونکي وي چې دا دي: ۱. اېښوني جوړوونکی، ۲. بشپړاند(متمم) ۳. ادات. (نژاد، رضا، وزیرنژاد. ۱۳۸۸:٦۳)

### د وجهې ډولونه

په وګړمنځي برنقش کې خبرونه له خبري، پوښتنې له پوښتنیزو او امرونه له امري فقرو سره یوځای وي. دا د فقرو په نظام کې د وجهې درې عمده بڼې او ډولونه دي. د هالیدي په نظر غوښتنې، وړاندیزونه او تقاضې له ځانګړې وجې سره تړاو نه لري او له وجهیت سره ارتباط لري.

### د وجهې او وجهیت توپیر

«وجه» او «وجهیت» هغه دوه مفهومونه دي چې تل یو له بل سره تړلي وي. وجه د فعل په ظاهري بڼه ناظره وي او وجهیت د یوې پېښې له قطبیت او نه قعطیت څخه غږېږي او له همدې امله د وجهیت له مخې جملې په دوو ټولیزو ډلو د وېش وړ دي: کله چې د یوې پېښې پېښېدل له قید او شرط پرته وي، قطعي یا هم غیروجهیتي بلل کېږي؛ خو کله چې د پېښې او موقعیت پېښېدل له شرطونو څخه په یوه شرط پورې تړلی وي یا هم کله چې د پېښې د پېښېدو پرځای د اړتیا، شونتیا، احتمال، تمایل، توانایي او داسې نور راګډېږي، نو له وجهیتي پېښو او موقعیتونو سره مخامخ یوو. پېښې او وجهیتونه په بېلابېلو ژبو کې له مختلفو اوزارو څخه په ګټې اخیستلو سره بیانېږي. وجهي فعلونه، وجهي کړولونه او داسې نور د وجهیت د بیانولو عام اوزار دي.

په لنډه توګه ویلای شو چې وجهیت معنایي مقوله ده او وجه ګرامري ده. وجه د کړ له اوړون څخه څرګندېږي او منعکسه کېږي او وجهیت په هره ژبه کې د وینا پر مهال له مختلفو وجهي عناصرو څخه کار اخیستل کېږي.

کولای شو په لاندې فقرو کې وجه په لاندې ډول وټاکو:

### خبري وجه

دا وجه د خبر د بیانولو او یا هم د خبرتیا د ورکولو لپاره ده یا هم ویلای شو چې اخباري وجه د فعل وجه ده چې بیان شوی حالت او وضعیت په واقعي ډول ښیي او که په ساده ډول ووایو: کوم فعل چې په خبري وجه کې وي، خبري مفهوم لري.(ساپی، پښتو فعل(مقاله)، ۲۰۱۹ز)

دا وجه د فعل د پېښېدو او نه پېښېدو بیان په پرېکنده او قطعي ډول کوي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| «سړي | یوه | شپېه | مزل | وکړ.» |
| فاعل | | صرفي عنصر | | خبري وجه |

### پوښتني وجه

د پوښتنې ښکارندويي کوي او د خبري وجهې په څېر یې د اعتبار کچه له ۰ تر ۱ پورې ده او قطبیت یې هم مثبت او منفی دی:

هلک وویل: وېرېدلی یې، شونډه دې وتلې ده.

ښځه په خبره کې ورولویده:

«ــ ګولی دې راوړې؟» (احمدي، ۱۳۹۱: ۸)

### امري وجه

زیاتره له امري فعل سره یوځای وي، خو یوازې په هغه پورې تړلې نه ده. د امر، فرمان او لارښوونې بیانوونکې وي:

باز محمد په ویره وویل:

ملا صاحب ویل چې حرام ...

شیر محمد چیغه کړه!

ــ چُپ! (پورتنی اثر: ۱۸)

**د وجهیت ډولونه**

د ادراکي معناپوهنې له مخې وجهیت دوه اصلي بڼې لري: چې یوه یې معرفتي(پېژندنی) او دویمه یې رېښه یي.

په ریښه یي بڼه کې یې د ځواک(توان)، اجازې او جبر(ټینگار) د عملي کولو یا هم منځ ته راتگ شرایط شته دي او په معرفتي کې بیا د (شونتیا، احتمال او قعطیت) مفهمونه شامل دي، چې د ویناوال له اخیستنې او استنباط څخه حاصلېږي. (پرهیزکار، گلفام، افراشی، ۱۳۹۳: ۱۰۴)

په معرفتي بڼه کې الزام په درک کوونکي یا اورېدونکي پورې اړه لري او مفهوم جوړونه له ویناوال سره ده. د دې جبر او ټینگار لوری داخلي دی، په بل ډول د ویناوال د دلیل حاصل او د نړۍ د څرنگوالي په اړه یې لیدلوری واقعي دی. ویناوال د ټینگار په تعامل کې برخه نه لري، نو له همدې امله دغه فعلونه تر ډېره فعلي پېښې نه څرگندوي. پر وړاندې یې بیا ریښه یي وجهیت د ویناوال له لیدلوري سره اړیکه لري. په دې ډول وجهیت کې د جبر او ټینگار لوری بهرنی دی؛ په بله وینا د فزیکي تعامل بیانونکی دی یا هم د ټولنیزو ځواکونو تعامل دی. په دې تعامل کې ویناوال او اورېدونکی کولای شي د خبرو اترو د گډونوالو په توگه د جبر منبع او هدف نه وي، لکه:

۱. ټولګی باید پاک شي.(ویناوال د جبر سرچینه نه ده، خو هغې ته لاسرسی لري.)

۲. هوايي ډګر ته باید پر خپل وخت ځان ورسوې.(ویناوال د جبر سرچینه نه ده او په تعامل کې برخه نه اخلي.) (پورتنی اثر: ۱۰۴)

**شرطي وجهیت**

په هغه وخت کې ویلای شو چې شرطي وجهیت دی چې یا په غونډ(فقره) کې د شرط عناصر وي او یا هم د معنا له اړخه فقره یا جمله شرطي وي(ساپی، پښتو فعل(مقاله)، ۲۰۱۹ ز)

د سړي شونډې وخوځېدې:

ـ هو، کلی یې را مالوم دی، یوه ورځ پیاده مزل غواړي، خو کلیوال به څه وایي چې له مړي یې غلا وکړه!

ښځه په خبره کې ور ولوېده!

شیرمحمد وویل: خوشې کوم دې، خو چیغې به نه وهې. (احمدي، ۱۳۹۱: ۲۷)

**عاطفي وجهیت**

کله چې غونډ د احساساتو، عواطفو، غم، خوښی، درد، خوند، کرکې، ستاینې، حیرانتیا، وېرې او علاقې بیانونکی وي، هغې ته عاطفي وجهیت ویل کېږي:

سړی غلی شو، شیرمحمد ته یې وکتل، په حیرانی یې وویل:

وه هلکه روغ نه ښکارې!

شیرمحمد د خپل پټکي شمله په خپله لنده، توره ټنډه تېره کړه، وچې شونډې یې وخوځېدې: تبه مې ده. (پورتنی اثر: ۱۰)

### تردیدي وجهیت

کله چې د یوې چارې پېښېدل قطعي نه وي او غونډ(فقره) له معنايي اړخه د گومان او شک بیانوونکې وي:

ښځه ولاړه شوه، د خړو کتار کوټو خوا ته یې گام واخیست، یو دم ودرېده، زوی ته یې وکتل، په حیرانۍ یې وویل: ته پوهېدې چې په کاریز کې مړی دی؟ د سړي ژبه بنده شوه: نه، زه، زه

ښځې وویل:

سهار دې د اوبو په څښلو زړه راډکېده، د چایو پیالې ته دې هم خوله ور نه وړه، ویل دې د کاریزه اوبه مرداري دي. له کومه پوه شوې؟ (احمدي، ۱۳۹۱: ۱۱)

### وړاندیزي وجهیت

کله چې غونډ د غوښتنې، تقاضا یا هم وړاندیز معناوې ورسوي، په دې بڼه کې بیا وړاندیزي وجهیت دی:

شیرمحمد تړل شوی پټکی پر سر کېښود، څادر یې ور واخیست، ولاړ شو، ورو یې وویل:

«کور ته ځم، له بازاره پیاده راغلم، ستړی یم.» (پورتنی اثر: ۱۴)

### د هیله مندۍ وجهیت

د هیلې بیانول یا هم خوبونو ته رسېدل په کې بیانېږي:

ــ د خدای له پاره مه مې پرې وژنه! (احمدي، ۱۳۹۱: ۲۷)

## دعاییه وجهیت

دعایي وجهیت له ځان سره د دعا او کرکې معنایي بار لېږدوي: سړي وخندل: یو پخوانی ملګری مې ولید، د مالونو سوداګر دی، له هزاره جاته غواوې او پسونه راولي، ویل یې دا ځل د ډېرو مالونو د راوستلو نیت لرم، راسره لاړ شه، ښه مزدوري به درکم.

ښځې په خواره خوله وویل: وی زویه! وخت خراب دی، همدا کاریز کني دې ښه ده، وچه، لنده رارسېږي.

شیرمحمد وخندل:

ـ زړه مه خوره، درې، څلور ورځې وروسته بېرته راځم.

د ښځې خوبولی ږغ یې واورېد:

ـ خدای دې له سختیو وساته. (پورتنی اثر، ۱۳۹۱: ۳۷)

## التزامي وجهیت

کله چې غونډ له معنایي اړخه توصیه، جبر، الزام او تهدید ورسوي:

هماغه سړي وویل:

ـ دا د هغوی کار دی. سپکه یې ور اوړلې، باید چې ویې وژني.(احمدي، ۱۳۹۱: ۴۷)

## تمنایي وجهیت

په فقره کې د هیلې او تمنا کارولو ته تمنایي وجهیت ویل کېږي:

تورپیکی په غریو کې وویل:

ـ کاشکې له سپین ږیري سره تللي وای، څومره ټینګ شو، ویل یې چې خپل کور یې دی. اوس به په دې نیمه شپه کې څه کوو؟ (پورتنی اثر: ۵۵)

**د نهې وجهيت**

هماغه د امر منفي وجه ده چې د امري وجې د نهې له (منفي فعل) سره مل وي او د يوه کار د نه کولو دنده سرته رسوي:

هلک وارخطا شو. سر يې وځړېد.

سړي خپله خبره تکرار کړه!

څه يې ويل؟

هلک غلی و.

مور يې وويل:

ـ خبره تر پايه کوه!

باز محمد هماغسې ځمکې ته کتل، ورو يې وويل:

ـ غوا يې په ډبره ووېشته. ويل يې د شيرمامد غوندې مخ يې دی. هماغسې سپېرمې لري.

د شير محمد خندا زور ونيو.

مور ته يې غوسه ورغله:

ـ مرداري سترګې يې دي، نور مه ورسره ګرځه. (احمدي، ۱۳۹۱: ۱۷)

**مهال**

وخت او زمان هم د وګړمنځې معنا له پلوه کټ مټ کونکو څخه دی او هغه څه چې په واقعيت کې د فقرې او جملې صرفي عنصر جوړوي، زمان او وخت دی.

### د تېرمهال ډولونه

**ساده تېرمهال:** د وخت لرېوالي او نږدېوالي ته له پام پرته په تېر وخت کې د عمل پېښېدل بيانوي او همدارنگه د راتلونكي التزامي پرځای د احتمال د بيان او د نږدې راتلونکې لپاره کارول کېږي.

شيرمحمد لونگۍ تر سر تاو کړه، تبر يې ور واخيست ويې ويل:

ـ زه نو ځم. (احمدي، ۱۳۹۱: ۱۷)

### استمراري تېرمهال

د هغې کړنې او عمل د بيان لپاره راځي چې په تېرمهال کې په مستمر ډول دوام ولري:

شيرمحمد پټکی پورته کړ، پر پکه ککرۍ يې له خيرو ډک نوکان تېر کړل، له ځان سره يې وويل:

ـ اجب جنجال را ته پيدا شو.

نجلۍ ورو ورو ژړل ... (احمدي، ۱۳۹۱: ۳۱)

شيرمحمد تر ډېره د غونډۍ پر سر ناست و. سوړ باد چليده، لمر ته سپينې وريځې ور روانې وې. (پورتنی اثر: ۳۲)

### لرې تېرمهال

لرې ماضي د هغه عمل د بيان لپاره کارول کېږي چې په تېرمهال کې مخکې له يوې بلې کړنې او عمل څخه پېښ شوی وي:

شيرمحمد د خپل کوټ زنځير کش کړ، ويې ايست. (پورتنی اثر: ۳۲)

## التزامي تېرمهال

دغه زمان د احتمال، هیلې، شرط او الزام لپاره په تېرمهال کې له: شاید، باید، کاشکې او د هغو له هممعناوو، لکه: هیله ده، لازم دی، خدای دې وکړي سره راځي:

کاشکې مړه وای! (احمدي، ۱۳۹۱: ۳۰ )

## حال مهال

خبري حال مهال د هغې کړنې لپاره کارول کېږي چې همدا اوس د ترسره کېدو په حال کې وي، یا هم د عادت، استمرار او تکرار اړخ لري. هغه پېښې چې په حال زمانه کې واقع کېږي، په دغه زمان بیانېږي او څرگندو حقیقتونو، علمي مسایلو او د راتلونکې لپاره هم د کارونې وړ دی. (نژاد، رضا، وزیرنژاد. ۱۳۸۸:۵۹ )

ـ آسمان وریځو نیولی و، سوړ باد چلیده. (احمدي، ۱۳۹۱: ۳۲)

## راتلونکی مهال

د آینده لپاره نن ورځ معمولاً له اخباري حال زمان څخه گټه اخیستل کېږي، نو ځکه یې کاریدنگ لږ شوی دی:

شیرمحمد اوړد وغځېد، څراغ ته یې ورپوکړل، ورو یې وویل:

ـ ادې! سهار وختي چېرې ځم. (احمدي، ۱۳۹۱: ۳۷)

## پاتې نور عناصر

د د فقرې هغه برخې دي چې په فقره کې راتللی شي او دا درې عناصر په غونډ کې د فرعي نقشونو لرونکي وي چې دا دي: ۱. اېښوني(گزارې) جوړوونکی، ۲. بشپړاند(متمم) ۳. ادات. (نژاد، رضا، وزیرنژاد. ۱۳۸۸: ۶۳)

## اېښوني جوړوونکی

اېښوني جوړوونکی هماغه لغوي فعل دی چې د فعلي ډلې له خوا د صرفي اوړوني عنصر په پای کې بیانېږي. نو پر دې بنسټ کله چې صرفي عنصر له فعل څخه بېل کړو، هغه څه چې پاتې کېږي، اېښونی جوړوونکی(گزاره ساز) دی. اېښونی جوړوونکی د یوې کړنې، پېښې او حالت ښودونکی دی چې فاعل ورسره مخامخ دی او کېدای شي، په غونډ(فقره) کې نور نقشونه هم ولري. (نژاد، رضا، وزیرنژاد. ۱۳۸۸ : ٦٢)

## بشپړاند(متمم)

هر ساده غونډ(فقره) کېدای شي د یوه یا دوو بشپړاندو درلودونکی وي، بشپړاند: د جملې هغه برخه ده چې د (چا؟ یا څه شی؟) پوښتنې په ځواب کې ورکول کېږي او ټامسون هم په دې باور دی چې بشپړاند(متمم) د فقرې هغه عنصر دی چې په بالقوه ډول کولای شي د (فاعل) رول ولري، چې په مجهول فعل کې په اېښي کې راځي او په پښتو کې ورسره په تېرمهال کې فعل د شخص، شمېر او جنس له مخې سمون ښيي. په دودیزه پښويه کې ورته مفعول وایي.(ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۲)

## وییکي(ادات)

ادات هم د اېښوني د جوړونکي او بشپړاند نه علاوه هغه عناصر دي چې کېدای شي یو یا هم له یوه څخه ډېر په فقره کې شته وي. د وییکو نقش معمولاً د کړولي(قیدي) ډلو یا هم د اضافت د توري په واسطه بیان شي: (نژاد، رضا، وزیرنژاد. ۱۳۸۸:٦۴)

د نجلۍ سترګې غړ یې واورېد: یو بنګړی به خرڅ کو. شیرمحمد په بېړه له دالانه ووت.(احمدي، ۱۳۹۱: ۳۸)

## پایله

په «یوه خبره درته وکم» ناول کې راوي غوښــتي دي دا وښــيي چې کیســـه په تېرمهال کې پېښه شوې ده او د کیسه لیکوال لپاره بشپړه شوې ده، نو موږ ته یې تکرار کوي. دا سې احساس کېږي چې راوي له لرې پېښو ته ګوري، نوموړی پېښې تجربه کوي، پېښــې په خپل ذهن کې تحلیلوي، نو همدا لامل دی چې له تېرمهال څخه یې ډېره ګټه اخیستې ده.

له پوښــتني وجه څخه هم په ځینې ځایونو کې ګټه اخیســتل شــوې ده چې پورته یې موږ مثالونه ذکر کړي.

کیســـه له درد، غم او خپګان سره مله ده او موږ مخکې وویل کله چې غونډ د احســاســاتو، عواطفو، غم، خوښــی، درد، خوند، کرکې، ســتاینې، حیرانتیا، وېرې او علاقې بیانونکی وي، هغې ته عاطفي وجه ویل کېږي. ویلای شـــو چې په ناول کې عاطفي وجه هم ډېر کارول شوې ده.

په پای کې ویلای شـــو چې (یوه خبره درته وکم؟) په ناول کې له وګړمنځي برچار څخه ګټه اخیســـتل شـــوې ده، لیکوال د مختلفو وجو او مهالونو په کارېدنګ سره لوســتونکي را بېداروي، فکر کولو ته یې اړ باسي، هغوی پوښــتي او له ځان سره یې یوځای کوي.

## مأخذونه

١.احمدي، نصير احمد. يوه خبره درته وکم؟، ۱۳۹۱، ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

٢.پرهیزکار زهرا رحمانی، گلفام ارسلان، افراشی آزینا. بررسی طرحواره های وجهیت در زبان فارسی با رویکرد شناختی. فصلنامه زیان و گویش غرب ایران، لومړی کال، ۴ گڼه، پسرلی ۱۳۹۳: کرمانشاه رازی پوهنتون

٣.پهلوان نژاد، محمد رضا، فایزه وزیر نژاد. بررسی سبکی رمان«چراغ ها را من خاموش می کنم» با رویکرد فرانقش میان فردی نظریه نقش گرایی. ادب پژوهی. اوومه او اتمه گڼه، پسرلی او اوړی ۱۳۸۸: فردوسي پوهنتون.

٤.ساپی، ارباز خان. ۲۰۱۹ز. پښتو فعل . ٢٤.com=٨٣٩٦٨https://dawatmedia

٥.سهي نوابي، سيد عباس، آقا گل زاده، فردوس، محسني احمد.۲۰۱۴. تحلیل گفتمان ادبی متون داستانی فارسی معاصر بر اساس مؤلفه وجه در فرانقش بینافردی از منظر زبانشناختی: رویکرد دستور نقشگرای هلیدی و متبسن . &slc ١٤&sid=٦١٦٧https://irr.modaowse.php?aid=

٦.ښکلی، اجمل. دژبپوهنې نظريې، ۱۴۰۱. کابل: پکتوس خپرندويه ټولنه.

٧.حميدزی، راحله. دستور نقش‌گرای نظامند هالیدی، ۱۳۹۸. کابل: کابلستان خپرندويه ټولنه.

پوهندوی گل رحمن رحماني

# ادبي کره کتنه او سیاسي ایډیولوژي

# Literary Criticism and Political Ideology

Assistant Prof. Gull Rahman Rahmani


## Abstract

Literature is a mirror of social and intellectual processes and changes. When it comes to criticism and political ideology, it is necessary to move from the general form of criticism or analysis and exploration to specialized criticism, because every work is a mixture of different ideas and it is difficult for a critic to turn the spotlight on a literary work from several ideas during criticism. It is also difficult for the author not to have a specific idea, but to naturally have an idea and this idea is reflected in the literary work. Since his political idea or ideology also falls into this group, an attempt has been made to explore it within the framework of this article. The article mentions international literary schools and some of their political aspects, and the form of the political nature of ideology in literature itself is also evaluated. It is because after the introduction of ideology in literature, its language and nature also become

subject to literature and its messages acquire an artistic and effective aspect from a bare form.

## لنډيز

ادبيات د ټولنيزو او فکري بهيرونو او اوښـــتونونو د انعکاس هېنداره ده، کله چې د کره کتنې او سـياسي ايډيولوژي خبره کېږي، اړينه ده چې د کره کتنې له عمومي بڼې يا تحليل او سپړنې څخه خبره تخصصي کره کتنې ته را ويستل شي، ځکه چې هره پنځونه د بېلابېلو نظريو ګډوله وي او کره کتونکي ته ګرانه ده، چې د کره کتنې پر مهال په ادبي اثر پســـې د څو نظريو ځراغ وګرځوي، دا هم ګرانه ده چې ليکوال دې د يوې ځانګړې نظريې خاوند نه وي، بلکې په طبيعي ډول د يوې نظريې خاوند دی او دا نظريه يې په ادبي اثر کې انعکاس مومي، دا چې د هغه ســياسي نظريه يا ايډيولوژي هم په دې ډله کې راځي، ددې مقالې په اډانه کې يې د ســـپړلو هڅه شـــوې ده، په مقاله کې نړيوال ادبي مکتبونه او د هغو ځينې ســـياسي اړخونه ياد شوي او خپله د ادب په لمن کې د ايډيالوژۍ د سياسي ماهيت بڼه هم ارزول شوې ده، ځکه چې په ادب کې د ايډيالوژۍ له مطرح کېدو څخه وروســـته د هغې ژبه او نوعيت هم د ادب تابع ګرځي او پيغامونه يې له بربنډې بڼې څخه هنري او اغېزناک اړخ پيدا کوي.

## سريزه

ادبي کره کتنه او نظريه يو له بل سره تړلي مفاهيم دي، تر دې دمه وړاندې د ادبياتو دنيا کې زيات بحثونه شـوي دي، خو کله يې چې له سـياسـت او ايډيولوژي سره پر اړيکه بحث کېږي، يو څه پېچلتيا هم پيدا کوي، ځکه چې د سـياسي نظريې ليدلوری او په ادبي اثر کې يې انعکاس او اغېز څېړل يو څه ګرانېږي، ادبيات د عاطفې او هنر نړۍ ده، خو سياست د وچ کلک او کانګريټې يا غير عاطفي او سخت ژوند تصوير وړاندې کوي، بل حقيقت دا دی چې په عمومي ډول ادبيات او سياست

یو له بل سره نه پرې کېدونکې اړیکې لري، د تاریخ په اوږدو کې یې یو پر بل اغېز پرېښی دی، کله سیا ست د ادبي جریانونو او افکارو تر اغېز لاندې راغلی او کله بیا سیا ستونو ادبیات او ادیبان تر خپل سیوري لاندې راو ستلي دي، خو عمومي خبره دا ده چې د هرې ژبې ادبي اثار د خپلې ټولنې د سیاسي او ټولنیز وضعیت او زمان هېنداره ګڼل کېږي، نږدې هر لیکوال په مستقیم او غیر مستقیم ډول سیاسي او ټولنیزو مسایلو ته انعکاس ورکړی دی، که د غوره ادبي اثارو د ایجاد او شهکارۍ زمانې ته هم پام وکړو، یوه برخه یې پر سیاسي مفکورو د نیوکې په رڼا کې ښکلې او تلپاتې شوې ده، د نړیوالې ادب تیوري په بحثونو کې د مارکسېستې لیکوالو اثار یا هم هغه ا ثار د بېلګې په توګه وړا ندې کېږي چې د لږکیو د حقونو په د فاع کې پنځول شوي دي، بل مهم بحث دا دی چې خپله ځینو مطرح سیاستوالو او حاکمانو هم د تاریخ په اوږدو کې مهم ادبي اثار پنځولي دي چې د ادبیاتو او سیا ست اړیکه یې پیاوړې کړې ده، د دا ډول لیکوالو په اثارو کې د ژبې، ټولنیز ځواک، ایډیولوژي او اړوند نور مفاهیم مطرح شوي او بیا یې هم مهاله د سیاست او ادبیاتو د سیمبولونو مسوولیت تر سره کړی دی.

په دې توګه ویلی شو چې د ادبیاتو او سیاست تړاو کله تاوتریخجن یا دښمنانه دی او کله بیا د یوه ټولنیز متقابل اغېز د اصولو له مخې پر تعامل ولاړ دی، په طبیعي ډول یې سیاسي افکار او ایډیولوژي ته انعکاس ورکړی دی، خو برعکس د ننګونې موردونه یې هم زیات دي، خو دا باید ومنو چې پر ټولنه حاکم سیاستونه، محدودیتونه او په ټوله کې سیاسي فضا د لیکوالو د اثارو پر موضوع، سبک او منځپانګه باندې اغېز کوي، کله بیا لیکوال هم په طبیعي ډول سانسور او د محدودیتونو رعایت ته اړ شوي دي، په هره ټولنه کې چې انقلابي دورې او سیاسي تحولات راغلي، یو شمېر ادیبانو یې د خپلو اثارو له لارې د مخکښ او هڅوونکو رول لوبولی دی، د خپلو اثارو له لارې یې عامه احساسات او اندونه د تحول د سیاسي

ارزښــتونو د موخو او بیان منلو ته چمتو کړي دي او په دې توګه په ســیاسي تحولاتو کې اساسي نقش مخته وړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

زموږ په هېواد کې ګڼ داسې لیکوال او ادیبان شته چې د ادبیاتو او هنري پنځونو په دنیا کې د نوم او مقام خاوندان دي، خو د دوی ځینې ســیاسي ایډیالوژۍ یې پر ادبي پنځونو او اثارو اغېز کړی او ډېرو لوســتونکو ته یې د هغه تر ادبي وړتیا وړاندې ســیاسي دریځ ذهن ته ورځي او کره کتونکي هم د هغه د اثارو نقد ته د هغوی له سیاسي ایډیالوژۍ ور ننوځي، اړینه ده چې دا موضوع څه ناڅه وسپړل شي.

## د څېړنې موخې

۱- په ادبي اثارو کې د ادبیت او سیاسي ایډیالوژۍ د توازن او اغېز موندل.

۲- د ســیاسي ایډیالوژۍ په ســیوري کې د پنځول شــوو او کره شــوو اثارو ادبي ماهیت څرګندول.

۳- د سیاسي نظریو تر اغېز لاندې د ایجاد شوو نړیوالو ادبي نظریو یا مکتبونو د تنا سب مشخصول.

## د څېړنې پوښتنې

۱-په ادبي اثارو کې د پنځګرو د سیاسي اېډیولوژي د خپرېدو نوعیت څنګه دی؟

۲-د کره کتونکي نظریه د ادبي اثارو کره کتنه کې څومره ښکېل ده؟

۳-له سیاسي اېډیولوژي سره د اثر د لوستونکو حساسیت څنګه دی؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تحلیلي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د مقالې متن

کره کتنه په خپل پخواني تعریف کې د کره او نا کره اثارو جلا کولو ته ویل کېږي، د ناچلو او اصــیلو ســیکو د معلولو د هنر نوم هم ورکړل شــوی دی، خو د وخت په

تېرېدو سره يې محورونه جلا شوي او د خپل دري گوني مثلث ياني متن، لوستونکي او پنځگر له زاويو يې بحث محدود شوی دی، خو په ټوله کې پر متن تمرکز کېږي او دويم تمايل يې لوســتونکي يا د اثر مخاطب دی، دا چاره بيا په ترتيب سره د يوې جلا ادبي تيورۍ په رڼا کې تخصصيـ شـوې ده. بل بحث بيا د سياسي ايډيالوژۍ دی، ايډيولوژي د فعال انســان بله مشـخصــه ده چې د ټولنيز ژوند په اوږدو کې يې خپلوي او بيا يې په افکارو او بيان کې په يوه بڼه ځان څرگندوي.

په لويديز کې د ادبياتو او ســياسي ايډيالوژۍ د خپل منځي اړيکې او پخلاينې د څېړنې په برخه کې تر ټولو وړاندې د ليکوال او کره کتونکي ماتيو ارنلوډ نظريات مطرح دي، دی په خپلو ادبي اثارو او څېړنو کې پر دې اعتراف کوي چې لويديزوالو ســياســت والو د خپلو اندونو او مفکورو د ولسيـ کولو او اغېز لپاره ادبيات او هنرونه کارولي دي او ايډيولوژي يې د اديبانو پر مفکوره او ســبکونو هم حاکمه وه، ځکه يې دې ته تعصبي ايډيولوژي وويله چې دده له زمانې را وروسته د ادبياتو د ښمنه وبلل شوه او د يو داسې ليدلوري نوم ورکړل شو، چې کېدی شي د دانتې، ميلټون او پوپ لپاره حيرانوونکې وي، ددې عقيدې رښــتينولي او دروغ والی، چې تورپوســتي له سپين پوستو پست او ناوړه دی، د دوی د تجربې کولو له څرنگوالي څخه کم اهميت لري. (ارنولډ، ۱۹۹۳: ۱۷۸)

دا چې اکثره ادبي مکتبونه په اروپا او بيا وروســته يا هم مهماله پخواني شــوروي اتحاد کې د ټولنيزو او اقتصــادي تحولاتو، سـياسي پراختيا غوښـتنې او حاکميت په دورو کې رامنځته شــوي او ډېر ځله د ســياسي دورو له بدلون سره د ادبي نظريو او مکتبونو د پای او پيل پړاوونه هم ټاکل شــوي او پر ټولو پنځول شــوو اثارو يې هم ســيوری غوړولی دی، ددې اثارو د ژباړې او مطالعې له اغېز سره هم نورو ټولنو ته د سياسي ايډيالوژۍ د سرايت امکان مساعد شوی دی او ددې اثارو، نظريو او مکتبونو تر اغېز لاندې پنځول شـوي اثار هم په غير مسـتقيم ډول د سـياسي ايډيالوژۍ تابع گرځېدلي دي.

البته خپله ارنولډ هم د داسې عقایدو لرونکی و چې یوازې په ده پورې اړوندېږي، که څه هم د نورو په څېر خپل عقاید ایډلوژیکي تعصـــب نه، بلکې منطقي دریځ بولي، پر دې سربېره هم د ادبیاتو دنده په مخامخ ډول ددې عقایدو لېږد نه و، خپله بیا د ارنولډ مخالفانو پر ده نیوکه کوله چې د ســـیاسي ایډیالوژۍ په مخالفت کې یې بیا مذهبي ایډیالوژۍ ته ارزښت ورکړی دی، د زغم او بښنې د روحیې د دودولو په نیت یې خپل مذهب ته تبلیغ کړی دی چې د «ادبیات او عقیده» او «خدای او انجیل» اثار یې ددې چارې ثبوت دی، ده ځینې مسیحي لارښوونې په حیرانوونکې بڼه د شـاعرانه او الهام بښـوونکو شـېبو په نوم وړاندې کړې دي، دی کوښـښ کوي چې د منځنۍ طبقې د ایډیولوژۍ محبوبیت هم باید د ادبیاتو په قند خوږ لت وومي. (ایګلټون، ۲۳۰: ۱۴۰۳)

لیکوال له سـیاسي اغېزه لرې نه شي پاتې کېدی، د ایراني څېړونکي دوکتور علي اصـــغر حداد په وینا که د ادبیاتو تاریخ ته وګورو، اکثره وخت د ســـیاسي او ټولنیزو بهیرونو د یوې محرک ځواک په توګه را څرګند شوي دي، ادبي اثارو د مهمو ټولنیزو او ســـیاسي مســـایلو په مطرح کولو سره عمومي افکار تنظیم او د تحولاتو زمینه یې مساعده کړې ده. په دې اساس ویلی شو چې ادبیات نه یوازې د ټولنیزو او سیاسي مســـایلو انعکاس کوونکي، بلکې په ګڼو ځایونو کې د هنري قالبونو په چوکاټ کې مطرح شوي مسایل د عمومي افکارو د بیدارۍ او پوهاوي سبب شوي او د تحول د وسیلې په توګه یې عمل کړی دی. (مطلب زاده، ۱۳۹٦: ۱۰۳)

په متن محوره کره کتنه کې متن د پنځګر له بطن نه راوتی یو خپلواک او فعال کل ګڼل کېږي، چې خپله مانا خپلوي او د بین المتنیت له مخې له نورو متونو او په ټوله کې له فرهنګ سره اړیکه لري او په دې ډول یو رغښت او مانا لري، فورمالیستې، نوي نقد، مارکسېسـتې، تاریخ محوره، پس اسـتعماري، فېمینسـتې او داسـې نورې کره کتنیزې تیورۍ پر پنځونه څرخي او له همدې امله ورته متن محوره کره کتنه وايي.

د ارزښتونو هغه پوښتلی جوړښت چې عمدتا زموږ د واقعي نظرونو بنسټ تشکیلوي او هغه القاء کوي، په حقیقت د داسي شي یوه برخه ده چې موږ ورته ا یډیولوژي وایو. په کلي ډول له ایډیولوژي څخه موخه زموږ د استوګنې په ټولنه کې له حاکم جوړښت او د ځواک له مناسبت سره زموږ د خبرو او عقایدو د تړاو میتودونه یا طریقې دي. د ایډیولوژي له دغه کلي تعریف څخه دا را وځي چې د بنسټیزو مقولاتو ټولې داورۍ ایډیولوژیکه ځانګړنه نه لري. زموږ له ذاتي ځانګړنو څخه یو هم دا ده چې ځان د راتلونکي په لور په حرکت کې تصور کړو. که څه هم دا لیدلوری کولی شي چې زموږ په ټولنه کې د ځواک له جوړښت سره زموږ نږدې اړیکې ولري، خو لازمه نه ده چې همیشه او هر ځای دي دا ډول اړیکه شتون ولري، ښایي داسې ټولنه هم شته وي چې راتلونکي ته د رسېدو لپاره د تېر پر لور د حرکت تجویز وکړي. (ایګلټون، ۱۴۰۲: ۲۳۳)

که د پښتو ادبیاتو تاریخ بحث ته راشو، د پښتو ادب د معاصرې دورې پیل څه باندې یوه پېړۍ وړاندې د افغانستان له خپلواکۍ سره پیل شو، د انعکاس لومړې څرکونه یې په سراج الاخبار، افغان جریده او نورو نشراتو کې را څرګند شو چې د ا ستقلال او انګریزي ښکېلاک د ماتونې د سیاسي او ملي نظریې ژور اغېزورباندې پروت و او د ادبي اثارو د ارزونې تله هم د استقلال فکر، ملي هویت او ارزښتونه وو، چې ورسره د ملي بیدارۍ یوه ستره څپه هم را پورته شوه او ددې ستر ملي او ښتون ګنې موضوعات هم د سیاسي ایډیالوژۍ له اغېزه پر ادبیاتو کې را څرګند شول او کېدای شي چې دې ته پر ادبیاتو د سیاسي تحول د اغېز څپه ووایو.

انګریز کره کتونکی ټري ایګلټون په خپل اثر «ادب تیوري ته کتنه» کې د ادب او ایډیالوژۍ بحث کې وایي چې له ایډلوژي څخه زما منظور یوازې غالب نا اګاهانه عقاید نه دي چې د خلکو د ذهنونو ژورو ته یې ریښه ځغلولې وي، دلته زما منظور په ځانګړي ډول تر ډېره پورې د احساس، ارزښت ورکولو او اعتقاد موندنې هغه لارې دي چې په یوه ډول د ټولنیز ځواک له پایښت او استمرار سره اړیکه ولري. دا

واقعیت چې دا ډول عقاید په هېڅ وجه هم د شخصي ابهامونو ځیرکانه بیان نه دی، په یوه ادبي مثال کې څرګنده کړو. (ایګلټون، ۱۴۰۲: ۲۵۰)

د کمبریج پوهنتون کره کتونکی آ. ا ریچارډ په خپل مشـــهور اثر عملي نقد (۱۹۲۹ز) کې د دې مطلب د څرګندولو لپاره چې ارزښـــتي داوری تر کومې اندازې کېدای شي بې مقیاسه او ذهني وي، د بېلابېلو شعرونو ټولګه یې ترتیب کړه، د شعر او شـــاعرانو عنوانونه یې ورڅخه لرې کړل او وروســـته یې د ارزونې لپاره د لېســـانس دورې زده کوونکو ته ورکړل. د شـــعرونو په اړه شـــوي قضـــاوتونه تر کومه چې ګومان کېده، له فاحشو توپیرونو سره مل وو. نوموتو یا مشهورو شاعرانو ته کم ارزښت ورکړل شـــوی و، خو د نوم ورکو هغو ســـتاینه شـــوې وه. زما په اند د دې طرحې تر ټولو زړه پورې اړخ، چې خپله ریچارډز هم ورته پام نه دی کړی، شته ده، یاني دا چې په دغه نا اګاهانه ارزښـــت موندنه کې کوم نظري یووالی دی چې د دغه خاصـــو عقایدو د اختلاف بنسټ یې جوړ کړی دی. ( ریچارډ، ۱۹۸۷: ۲۷۰)

کله چې د ادبي اثارو د تفسیر په باره کې د ریچارډ د محصـلانو تفسیرونه لولو، د دې اثارو په درک او تفســـیر کې د دوی د عاداتو د ځان پاروونکي اشـــتراک څخه حیرانېږو: لومړی دا چې دوی له ادبیاتو څه تمه لري؟ یو شعر د کومو فرضیو له مخې لولي؟ او څنګه انتظار لري چې د شـــعر متن به د دوی فرضـــیې پوره کړي؟ له دې مطالبو څخه یو هم په حقیقت کې حیرانوونکی نه دی، ځکه چې د دې ازمویښـــت ټول ګډونوال ځوان، سپین پوستي او د (۱۹۲۰ز) لسیزې خصوصي موسساتو داسې ځوانان وو، چې د لوړې یا منځنۍ لوړې تحصـــیل کړي پوړ سره یې تړاو درلود. دا هغه زمانه ده چې اروپا د ســـیاسي تحولاتو په اوج کې وه، هم د پنځګرو او هم د لوستونکو لیدلوری هر ادبي اثر ته څه ناڅه سیاسي و.

کره کتونکی او فیلسوف البرټ کامو د ادبیاتو او سیاست د اړیکې او تناسب په اړه لیکي: ادبیات همېشه د سیاست په خدمت کې دي، خو دا په دې مانا نه ده چې ادبیات دې ایډیالوژیک وي، ادبیات باید همېشـــه د حقیقت په لټه وي، نه د

يوې خاصې ايډيولوژي. په همدې ډول بل ايراني ادب څېړونکی دوکتور سياوش کسرايي په دې نظر دی چې ځينې وختونه حاکمان او سياسي بنسټونه پر ادبي اثارو د محدوديتونو او سانسور وضعه کولو له لارې غواړي چې ادبيات د سياسي موخو لپاره وکاروي او کنټرول يې کړي، ډېر ځله دا چاره د ادبياتو په برخه کې ازادي، خلاقيت او د وينا محتوا ننگوي، خو يو شمېر نور څېړونکي بيا په دې نظر دي چې ليکوال او هنرمندان کله کله د ادبياتو په برخه کې د سياسي لاسوهونو په مقابل کې د داسې اثارو پنځونې ته مخه کوي چې شته سياستونه د ننگونې ډگر ته را باسي، په دې صورت کې ادبيات د سياسي نظامونو پر وړاندې د مبارزې او مزاحمت لاره نيسي. ( رحماني، ۱۳۹۹: ۴۸)

د نوې ادبي تيوري داستان په متناقضه بڼه له دا ډول واقعيتونو څخه د داسې حل لارو په لور د تېښتې راويت دی، چې په ښکاره پراخه او ناپايه ښکاري. په دې برخه کې د شعر نفس، ارگانيکه ټولنه، تلپاتې حقايق، تخيل، د انسان ذهني جوړښت، اسطوره، ژبه او ورته نور شيان شامل دي. له واقعي تاريخ څخه دغه تېښته د پخوانۍ کره کتنې او نولسمه پېړۍ کې د حاکم جز لټوونکي تاريخ په لحاظ تر يوې اندازې د غبرگون په توگه د درک وړ دی، خو د دغه غبرگون بنسټ پالنه ټکان ور کوونکې ده، په حقيقت کې د ادبي تيوري دغه تند لارې د هغه ټولنيز او تاريخي واقعيت څېړې ته ببړنۍ سر سخته او ناپايه شا ته غورځونه ده، چې له هرڅه وړاندې د دې برخې څېړونکي حيرانۍ ته اړ باسي، که څه هم بنسټ پالنه داسې يوه اصطلاح ده چې تر ډېره د هغو کسانو په اړه کارول کېږي چې په واقعي ژوند کې د ادبياتو نقش ته د پاملرنې غوښتونکي دي.

کره کتنه د يوې نظريې له مخې کېږي، دا نظريې ممکن ټولنيزې، فلسفي، تاريخي او ادبي وي، د ځينو نومونه يې فورماليستي، فيمينستي، رغښتي، مارکسېستي، پس استعماري، تاريخواله، ښېپوهنيزه، رغښتماني او نورو دي، خو دا ټولې تيورۍ پر دربېو اړخونو چورلي، چې يو يې ويناوال، بل ژبه او دربيم هم

اورېدونکی دی، دا ماډل د ادبیاتو د ایجاد پر بهیر هم تطبیق کولی شـو. ( ښـکلی، ۱۴۰۲: ۲۵۸)

دلته عمده فرضـــیه دا ده چې د نړۍ په منځي (مرکزیت) کې خپله یو مفکر فرد ځای لري چې د هغه کتاب ته ځیر دی او هڅه کوي چې تجربې، حقیقت، واقعیت، تاریخ یا دود (سنت) ته لاس رسی پیدا کړي. البته نور مهم ځیزونه هم شته دغه فرد له نورو سره شخصي مناسبات لري او مور هم هر وخت له لوستونکي زیات بل څه نه یوو، خو هغـه مطلـب چې پـه ځـانګړي ډول اهمیـت لري، دا دی چې دغـه فردي پوهاوی چې د خپلو مناسباتو په کوچني محفل کې را څرګندېږي، په پای کې څنګه د نورو ټولو پوهاویو د تول په ډبره اوړي؟

که څه هم د فردي ژوند له غني درون پالنې، چې ادبیات یې یو تر ټولو عالي بېلګه ده، لا ډېر لرې کېږو، له یوه درز اچونکي، مکانیکي کېدونکي او لا شــخصي‌ــ شـــوي وجود سره مخامخ کېږو. په ادبیاتو کې لیدلوری له هغه څه سره معادل دی چې په ټولنیزه برخه کې تملکي فرد پالنه نومول شـــوې ده، که څه هم په اړه یې له ځانه بېزاري څرګندوي. دغه لید لوری د یوه داســـې ســـیاسي نظام د ارزښـــتونو منعکس کوونکی دی، چې د انســـان د ژوند ټولنه موندل د یوې فردي او مجردې چارې تابع ګرځوي.

تر شـــلمې پېړۍ پورې کره کتنو مانا د پنځګر په بطن کې لیده او د پنځګر د فکر، مهال او ټولنیزو شرایطو له مخې یې یو متن شنه، د رومانټیکو ادبیاتو په ځانګړنو کې د پنځګر فردي خیال او احساسات معیار و، رومانتستان د کلاسیزم پر خلاف په دې اند وو، چې ښـه شـعر د شـاعر په خپله فردي عاطفي او تخیلي تجربه کې دی، ځکه نو د ادبي پنځونې د شـــنې لپاره د شـــاعر د فکر او تجربې شـــنه اړینه ګڼل کېده. (ښکلی، ۱۴۰۲: ۲۸٦)

د (۱۹۸۰ز) لســیزې غربي ټولنه کې انســـان کېدل او انســـانیت د هغو ســـیاسي شراېطو تر بڼو پورې مقید دی، چې دغه فصـــل مو یې په رڼا کې پیل کړ او حتی تر

یوې کچې یې مســـوولیت هم په غاړه لري. لیبراله انســـانپالنه د نابښـــادې اخلاقي ایډیولوژي یوه بڼه ده چې په عمل کې تر ډېره حده تر شـــخصي_ مناســـباتو پورې محدودېږي، انسانپالنه ډېر ځله خپلو سیاسي موخو ته د مشروعیت لپاره د یوه شعار په توګه مطرح شوې او ادبیات یې د تبلیغ او بیان ښه وسیله وه.

دغه ایډیولوژي مخکې له دې چې تسـلیحاتو ته مخه کړي، د بې عفتۍ اندېښـنې اخیســـتې ده او ځینو مســـایلو لکه ازادي، دیموکراسي او فردي حقوقو ته جدي او ملموسه پاملرنه نه کوي. د مثال په ډول د دیموکراسۍ په اړه د دوی لیدلوری یوازې د رایو تر صـندوق پورې محدود دی، نه هغه مشـخصـه، ژوندۍ او عملي دیموکراسي چې د بهرنیو چارو وزارت او دیپلوماســـۍ ته هم پاملرنه وکړي. د فردي ازادۍ په اړه هم د هغوی لیدلوری په همدې ډول مجرد دی: د هر فرد ازادي په ځانګړي ډول تر هغه وخته چې په یوه بې ځایه کار او بل ډله ییز فعال اســـتعمار پورې تړلې وي، معیوبه او نیمګړې ده.

ادبیات کولای شي چې د دغه شرایطو پر ضد اعتراض وکړي یا سکوت غوره کړي، خو په هر حال موجود یت یې په لومړي پړاو کې په دې شرط پورې تړلی دی. د الماني کره کتونکي والټر بنیامین په خبره «هېڅ دا سې فرهنګي سند شتون نه لري چې په ورته وخت کې د وحشت یو ډول را پور نه وي» سوسیالست یوازې هغه کسان دي، چې دې تـه میلان لري، څو د لیبرال انســـانپـالنې د پـاملرنې وړ ازادۍ او دیموکرا سۍ بشپړو مفاهیمو عملي او مشخصې کړنلارې مشخصې کړي. یا یې په خپل عبارت ((ژوندي ځانګړي» په پام کې ونیسي. ( ایګلټون، ۱۴۰۲: ۳۴۹)

پر افغانســتان د روســانو د یرغل سره هم مهاله کمونیســتي مفکوره او د امپریالېزم ضـــد نظریات پر ادبیاتو هم په افراطي ډول حاکم شـــول، کور، کالي او ډوډۍ، د زیاکښـــانو ملاتړ، د خان، شـــتمن او ملک ضـــد مفکوره هم په نظم او هم نثر کې له خپل سره رنګه تصـــور سره دومره عامه وه چې د اثارو ځانګړی امتیاز ګڼل کېده او د انقلابي فکر په سترګه ورته کتل کېدل، د هغه مهال کره کتونکو که څه هم دې ته د

سیاسي نظریې نه، بلکې د یوه ملي ارزښت او نظریې په سترګه کتل، خو ګڼ هغه یې په دې باور هم وو، دغه تصور چې د نا سیاسي کره کتنې صورتونه شته دي، یوازې اسطوري اړخ لري چې له ادبیاتو څخه د سیاسي کار اخیستنې په اغېزناک ډول ممکن ګرځوي. د سیاسي او نا سیاسي کره کتنې تر منځ توپیر کټ مټ د پاچا او لومړي وزیر تر منځ توپیر ته ورته دی. په داسې حال کې چې شاه په ښکاره په سیاست کې د نه لاسوهنې په ښودلو سره ټاکلې سیاسې موخې مخته وړي، خو لومړی وزیر بیا بې پردې سیاسي عمل کوي، په دا ډول مسایلو کې همېشه غوره دا ده چې رښتیني وو.

ددې موضوع بل جالب اړخ دا و په پښتونخوا او کوټه کې بیا د پښتو ادبیاتو فکري مسیر ګټ مټ ددې خوا په څېر نه و، څېړونکي په دې ا ند دي چې د پښتونخوا او افغانستان سیاسي حالات او اړتیاوې یو ډول نه دي او څه ناڅه اختلاف لري، سیاسي حالات هرمرو ادبي چاپېریال اغېزمنوي او یو لوری او ډسکورس ورکوي او همدا ډسکورس خپله بیا اړتیاوې زېږوي، دلته د ډېسکورس مفهوم پر سیمه حاکم فکري وضعیت دی، د یوه چاپېریال ډ سکور سونه د همغه چاپېریال د وګړي ذهن ته لار ښیي او مسایل ورته په مهمو او نامهمو وېشي۔ د ډېسکورس نومونه د تاریخ په اوږدو کې د مختلفو برخو د پام وړ وه، چې د ځواک او اوړتیاوو په محدوده کې فردي او ټولنیزه رېښه لري، په وروستیو کلونو کې ټولنیز او سیاسي ډېسکورسونه په ځانګړي ډول د پام وړ وو، په تېره د اوضاع په جوړونه کې د هغوی وړتیاوې، امکانات او په مختلفو موقعیتونو کې یې را څرګندېدنه. (سمون، ۱۴۰۳: ۴۵)

ځیني وختونه ادبي تیوري حتی د نوي ایډیولوژي د تېښتې په کړنه کې هم خپله غالبا نا خود آګاه هم لاسي هم له هغو سره ښکاروي او په «ښکلاپېژونکی» یا «ناسیاسي» ژبه چې د ادبي متن لپاره چې کارونه طبیعي بولي، خپله نوښتپالنه، جنسیت پالنه او یا فرد پالنه را څرګندوي، خپله نظریه کولی شي چې ځان د څېړنې له ځانګړنو روشونو یا هم د څېړنې له ځانګړې موضوع سره تعریف کړي. د ادبي

نظريې د تعريف لپاره هر ډول کوښښ د متمايزو روشونو پر بنسټ په ماته محکوم دی، فرضيه دا ده چې ادبي نظريه د ادبياتو او ادبي کره کتنې د ماهيت په باب کې د تامل وړ ده، خو يوازې بسنه کوي چې د هغو بې شمېره روشونو په باب فکر وکړو چې په ادبي کره کتنه کې شتون ولري.

## پايله

په پايله کې ويلی شو چې په ادبي اثارو کې سياست او سياسي اېډيولوژي د لوستونکي او لوستونکي محوره کره کتنې له زاويې لا هم په پښتو ادب کې يوه حساسه موضوع ده، پر ادبي اثارو هم ټولنيزو شرايطو ته په پام سره لړ او زيات اغېز لري، لوستونکی لومړی د پنځگر او کره کتونکي سياسي ليدلوري او چلند ته گوري او وروسته يې د ادبي اثر او کره کتنې محتوا ته ور ننوځي، په لويديز کې د رامنځته شوو ادبي نظريو او ادبي مکتبونو اغېز لا هم زموږ په ادبي چاپېريال کې موجود دی، له سياستوالو سره د ليکوالو اړيکې هم په دې برخه کې اغېزناک رول لري، په نړۍ کې گڼ داسې ليکوال شته چې د سياستونو او قوانينو په تدون کې د خپل مشارکت له لارې د مثبت تحولاتو په رامنځته کولو کې مثبت رول لري، همدا رنگه په رسنيو کې د ادبي اثارو خپراوی او پېژندنه په عمومي افکارو کې د سياسي موضوعاتو د مطرح کېدو سبب شوې ده چې يو بل ته د نظرياتو د تبادلې او بحث په پايله کې رامنځته شوي دي، دا سې موارد هم شته چې ادبي اثار د فکري او ټولنيزو جريانونو د ايجادولو له لارې د مطلوبو سياسي بدلونونو په رامنځته کولو کې موثر پاتې شوي دي، په کلي توگه ويلی شو چې د ادبياتو له ظرافيتونو څخه په خلاقانه توگه گټه اخيستنه په ټولنه کې د مثبتو سياسي بدلونونو لامل هم گرځي، ادبيات د سياسي بدلونونو لپاره ځواکمنه وسيله ده، نوښتگر ليکوالان د انتقادي او وړانديزي اثارو د پنځونې او ښوونيزو مثبتو منځپانگو په راوړلو سره سيا ستوالو ته ور زده کوي چې په ټولنيزو او سياسي موخو کې د اديبانو نظرياتو ته هم جدي پام وکړي.

## وړانديزونه

ددې مقالې په پای کې لاندې دوه وړانديزونه هم لرم:

۱-کره کتونکي بايد هڅه وکړي چې کره کتنه د کره کتنې د يوې ځانګړې ادبي نظريې پر بنسټ تر سره کړي او له عمومي ليد څخه اثر ته ور داخل نه شي.

۲-که چېرته په ادبي اثر کې ســياسي ايډيولوژي مطرح کېږي، د اثر ادبي ماهيت، ژبې او ادبيت ته بايد لومړيتوب ورکړل شي او تر اغېز لاندې يې خپله لاره ونه بايلي، ځکه چې، سياسي ايډيولوژي د مطرح کېدو نورې لارې هم لري.

## مأخذونه


۱. ايګلټن، ټري. (۱۴۰۲ل) . ادب تيوري ته يوه کتنه. د ګل رحمن رحماني ژباړه. کابل: د لوړو زده کړو وزارت.

۲. ارنولډ. ماتيو. (۱۹۹۳م). ادبيات و انديشــه. د علي رضــايان ژباړه. تهران. نشرـ همګام.

۳. ريچارډ. آ. ا. (۱۹۹۷ز). نقد عملی. د علي اصغري ژباړه. تهران: نشر همګام.

٤. رحماني، ګل رحمن. (۱۳۹۹ل). له کړکۍ ها خوا. کابل: ســمون خپرندويه ټولنه.

۵. سمون، محمد مصطفی. (۱۴۰۳ل). ډېسکورس شننه. کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

٦. ښکلی، اجمل. (۱۴۰۲ل). هنر نا اشنا کول. کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

۷. مطلب زاده، ناصر . (۱۳۹٦ ل). رويکردهای سـياسي در نقد ادبی. تهران: نشرـ تيسا.

# د ژبې او توکمیز هویت ترمنځ تړاو

# The Relationship between Language and Racial Identity

## Abstract

Language has played a pivotal roles throughout history. Sometimes, we notice these roles ourselves, while at other times, Scholars and linguists shed light on their profound impact. Language has been defined in many ways but a core perspective is that it reflects human identity, and the richness of humanity comes from linguistic diversity. When we say that language is identity, it raises critical questions: What kind of identity? What does identity really mean? What type of identity does language represent? And so on. Humans have different identities that set them apart from others, and language plays a role in all of them. One of these identities is racial identity, in which language also plays a significant role. This article delves into racial identity and explores the connection between language and racial identity.

## لنډيز

ژبې د تاریخ په ټولو پړاوونو او ټولو برخو کې مهم نقشونه ادا کړي. ځینې وخت یې دي نقشونو ته موږ پخپله متوجې شوي یو او کله بیا داسې شوي چې ژبپوه یا بل څېړونکی ورته متوجې کړي یو. د ژبې په اړه ګڼ تعریفونه شوي؛ خو یو کلي نظر دا دی چې ژبه

بشري هويت دی او د بشر رنګارنګي د همدې متنوعو ژبو له برکته ده. دا چې وايو ژبه هويت دی؛ نو له دې خبرې سره ځينې پوښتنه هم راولاړېږي چې څه ډول هويت؟ هويت څه دی؟ ژبه د هويت کوم ډول دی؟ او داسې نور. انسان بېلابېل هويتونه لري چې له نورو پرې توپيرېږي، ژبه په دې ټولو هويتونو کې ونډه لري. له دې هويتونو څخه د انسان يو هويت توکميز هويت دی او په دې هويت کې هم ژبه خپل نقشونه لري. په دې مقاله کې پر همدې توکميز هويت باندې خبرې شوي او د دې هويت او ژبې ترمنځ تړاو څېړل شوی دی.

## سريزه

د ټولنې د پرمختګ په هر پړاو کې ژبه خپل نقشونه ترسره کوي. په دې نقشونو کې يې بارز نقش د پوهاوي راپوهاوي دی. ژبه چې څومره مهمه ده، ساتنه، وده او پالنه يې لا پسې مهمه ده؛ ځکه چې د همدې ژبې تر شا د انسان هويت پټ وي. هويت د هغو ځانګړتياوو ټولګه ده چې موږ له نورو بېلوي، يا هويت د هر فرد، قوم او ملت دغې پوښتنې ته ځواب دی چې زه څوک يم او له کوم قوم و ملت يا مذهبي او نژادي ډلې سره تړاو لرم. هويتونه ډېر ډولونه لري، لکه فردي هويت، ټولنيز هويت، ديني هويت، ملي هويت، قومي هويت، فرهنګي هويت، توکميز هويت او داسې نور. دا ټول هويتونه د انسان په خبرو کې رابرسېره کېږي.

له دې هويتونو څخه يو توکميز هويت دی. توکم د انسان د بيولوژيکي يا فزيکي ځانګړنو ټولګه ده، په دې فزيکي ځانګړنو کې د پوستکي رنګ، د سترګو رنګ، د وېښتانو رنګ او... شامل دي. توکميز هويت انسان يوې ځانګړې نژادي ډلې پسې تړي او پر دې باندې بحث کوي چې دا نژادي تړاو څرنګه د ده پر شخصي، ټولنيز، ژبني او نورو هويتونو باندې اغېز ښندي، يا يو توکم چې په څه پېژندل کېږي، هماغه يې توکميز هويت دی. په دې مقاله کې پر همدې موضوعاتو باندې بحث شوی چې هويت څه دی او کوم ډولونه لري، بيا پر نژاد او نژادي هويت بحث شوی. همدا راز، د نژادي يا توکميز هويت او د ژبې پر تړاو باندې هم خبرې شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د ژبې د ټولنپوهنې یو مهم بحث پکې شوی. د ژبې او توکمیز هویت تړاو نسبتاً نوې موضوع ده چې دلته پرې په تفصیل سره غږېدلی یم. په دې مقاله کې هویت، د هویت ډولونه، توکم، د توکم ډلبندي، توکمیز هویت او له ژبې سره یې اړیکه او داسې نور موضوعات څېړل شوي دي.

## د څېړنې موخې

مور ډېر کله وایو چې ژبه د انسان هویت دی، خو دا نه وایو چې هویت څه دی یا ژبه څه ډول هویت دی. انسان ګڼ هویتونه لري، په دې کې یو ډول د انسان توکمیز یا نژادي هویت. د دې مقالې موخې د دې روښانه کول دي چې هویت څه دی، ژبه څه ډول هویت دی، توکمونه له کومه شو، توکمیز هویتونه له ژبې سره څه اړیکه لري او ژبې په توکمیز هویت کې څه نقشونه ادا کړي دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د ژبې او توکمیز هویت ترمنځ څه تړاو دی؟

۲ـ ژبه د هویت کوم ډول دی؟

۳ـ په توکمیز هویت کې د ژبې نقشونه څه دي؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې مېتود تحلیلي-تشریحي او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې اصلي متن

ژبه د قومونو، نژادونو، پوړونو او ټولنو ترمنځ د وصل او پېژندنې یوه مهمه وسیله ده. ژبه پر افهام و تفهیم سربېره د خلکو ذهنیت، تفکر او د نسلونو ترمنځ تړاو هم ښیي. ژبه د یوه قوم او ملت پېژندګلوي (هویت) دی. نن سبا چې مور د یوې ژبې یادونه کوو، یا پرې خبرې کوو، نو د دې ژبې د خلکو هویت مو هم سترګو ته نېغ درېږي. ځینې خو آن دا هم وایي چې د یوه توکم یا قوم ژبوژنه په اصل کې د هغوی

هويت وژنه ده. دا چې ژبه او هويت سره داسې غاړه غړۍ دي، نو ښه ده چې لومړی هويت وپېژنو، پر ډولونو يې پوه شو، بيا به پر توکميز هويت (چې د هويت يو ډول دی) خبرې وکړو او په پای کې به د توکميز هويت او د ژبې تړاو وڅېړو.

**پېژندګلوي (هويت):**

هويت د ځانګړتياوو هغه ټولګه ده چې موږ له نورو بېلوي. «هويت په خپل ذات کې د يو کس، کورنۍ، قوم او ملت د مهمو ټولنيزو، فرهنګي، رواني، فلسفي، د ژوند و ژواک او تاريخي خصوصياتو او ځانګړتياوو ټولګه ده چې د هغوی په وسيله له نورو توپيربېږي.» (٣: ١٢٨) هويت اصلاً د دې پوښتنې ځواب دی چې زه څوک/څه يم؟ خو آيا د دې پوښتنې ځواب يوازې په ژبه ورکولی شو چې زه پلانی يم؟ نه. دې پوښتنې ته موږ د خپلې ژبې، عمل، انتخاب، تصميم، باورونو، ارزښتونو، لومړيتوبونو، له نورو سره اړيکو او ګڼو نورو لارو څخه ځواب وايو. که څېر شو، انسان د ژوند په هره شېبه کې لګيا وي ځان تعريفوي او دې پوښتنې ته ځواب وايي چې زه څوک يا څه يم. «پېژندګلوي د هغو نښو، مادي، چاپېريالي، ټولنيزو، فرهنګ او رواني آثارو ټولګې ته وايي، چې يو وګړی له بل، يوه ډله له بلې او يو فرهنګ له بل نه بېلوي.» (٥: ١)

اوسمهال ډېری انسانان دې ته تمايل لري چې خپل هويت پخپله خوښه جوړ کړي، دوی ځان ته مسلک، استوګنځی، دين، ژبه، د څېرې بڼه او نور پخپله خوښه ټاکي او لاسوهنه پهکې کوي؛ خو د دې مانا دا نه ده چې ګواکې دوی د وجود د اصالت فلسفې (Existentialism) پر بنسټيزې خبرې[1] باندې عمل کوي او خپل هويت و ماهيت ځان ته پخپله ټاکي. دا چې انسان د هويت په کومو برخو کې لاسوهنه کولای شي او کومو برخو کې مقيد دی، د دې لپاره اړ يو چې د هويت پر وېش باندې خبرې وکړو. هويت پر دوو برخو وېشلی شو؛ مطلق او نسبي هويتونه.

---

[1] - د وجود د اصالت فلسفه (Existentialism) وايي چې وجود پر ماهيت تقدم لري، انسان آزاد پيدا کېږي او آزادي لري چې خپل ماهيت ځان ته پخپله خوښه وټاکي، يعنې که يو څوک له ځان څخه هر څه جوړوي، آزادي لري، آن که له ځان څخه هېڅ هم نه جوړوي، بيا هم بايد څوک ورسره کار ونه لري... .

مطلق هویتونه یا فردي ځانګړتیاوې هغه دي چې انسان ورسره زېږي یا له خلقت سره سم دا ځانګړنې ورسره ملې وي. د بېلګې په توګه، ذاتي هویت، یعنې د انسان په ګډون هر موجود یو بهرنی وجود لري چې د هغه ذات او شتون اثباتوي. همدا راز، ژنیتیکي هویت، طبیعي هویت، جنسي هویت، زماني هویت، مکاني هویت، کورنی هویت او تاهلي هویت داټول په مطلقو هویتونو کې راځي. موږ له مطلقو هویتونو څخه انکار نه‌شو کولای او دا نه بدلېدونکي هویتونه دي. یو انسان هېڅکله خپل طبیعي هویت بدلولی نه‌شي چې مثلا ووایي زه نه غواړم انسان و اوسم، غواړم پیشو و اوسم.

دویم نسبي هویتونه دي. نسبي هویتونه هغو ځانګړتیاوو ته وایي چې انسان یې د ژوند په اوږدو کې کسبوي یا یې قبلوي. د بېلګې په توګه، ژبنی هویت، یعنې هر انسان یوه مورنۍ ژبه لري، یا به پښتو وایي یا دري یا بله هره ژبه؛ خو لکه پورته مو چې یادونه وکړه، دا مطلق نه، بلکې نسبي هویتونه دي. یو انسان په یو وخت کې څو ژبني هویتونه هم درلودلی شي او په دې هویت کې بدلون هم راوستلی شي، یا لکه ملي هویت چې «په یوه هېواد، دولت او ملت پورې په رسمي او قانوني توګه د یوه شخص او یا د ټولنې تړلتیا یا تعلق ته وایي.» (۳: ۱۲۷) همدارنګه، اعتقادي هویت، مذهبي هویت، تحصیلي هویت، مسلکي هویت، قومي هویت او نور د نسبي هویتونو بېلګې دي.

که په ټوله کې وګورو یو انسان د بېلابېلو هویتونو درلودونکی دی، لکه ځانګړی هویت (احمد، ناهیده...)، جنسي هویت (نارینه، ښځینه...)، کورنی هویت (شریفي، امیري...)، دیني هویت (مسلمان، هندو، عیسوي...)، مذهبي هویت (سني، شعیه...)، سیمه‌ییز هویت (دهمزنګي، شهرنوي...)، ښاري هویت (چاریکاري، کندهاري، هراتي...)، سمتي هویت (قطغني، پکتیاوال...)، قومي هویت (پښتون، تاجک، هزاره...)، ملي هویت (افغان، جرمن، روس...)قاره‌یي هویت (اروپایي، افریقایي...)، جیوپولیټیکي هویت (شرقي، غربي...)، نژادي هویت (سپین، تور...)،

طبيعي هويت (انسان) او داسې نور[1]. له دې هويتونو څخه به پر توکميز هويت په تفصيل سره وغږېږو او د ژبې او د همدې هويت تړاو به هم روښانه کړو؛ خو لومړی به توکم وپېژنو چې توکم څه دی.

**توکم (نژاد)**

له هويت سره څه نا څه اشنا شو او پر دې هم پوه شو چې توکميز هويت د هويت يو ډول دی. پر توکميز هويت باندې به نورې خبرې هم کوو، خو لومړی به پر توکم باندې وغږېږو. د توکم يا نژاد کلمه د انګلسي د (Race) کلمې انډول ده. دا کلمه انګلسي ته په شپاړسمه پېړۍ کې د فرانسوي له (rasse) څخه ورغلې ده. په لرغونو وختونو کې دا کلمه په هغې مانا نه کارېده، لکه اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې چې وکارېدله. «پخوانيو خلکو انسانان د ظاهري بڼې او کلتور پر بنسټ بېلابېلو توکمونو باندې نه وېشل.» (۹: ۷). او نه به چا انسانان له دې مخې ډلبندي کول، له دې څخه معلومېږي چې د وخت په تېرېدو د توکم يا نژاد تعريفونو هم توپير کړی.

«نژاد د دوو علومو (بيولوژي او ټولنپوهنې) له مخې څېړل کېږي. په بيولوژي کې نژادونه د انسان د جسمي ځانګړنو له مخې څېړل کېږي؛ خو د ټولنپوهنې له مخې بيا د ټولنيزو ځانګړنو له مخې ډلبندي کېږي. نژادپالنه داسې تعريفولی شو چې نژادپالنه د نژادونو پر شتون باور او خپل نژاد تر نورو لوړ ګڼلو ته وايي.» (۷: ۱۱۷) توکم يا نژاد د هغو فزيکي ځانګړنو ټولګې ته وايي چې په طبيعي ډول انسان ته ورکړل شوي وي، لکه قد، د وېښتانو ډول، د سترګو او پوستکي رنګ او داسې نور. دا فزيکي ځانګړنې انسان ته په بيولوژيکي ډول له نيکونو څخه په ميراث پاتې کېږي او په لږ و ډېر توپير همداسې له يوه نسل څخه بل ته ځي. توکميزه يا نژادي ډله بيا د انسانانو هغې ټولګې ته وايي چې د ورته فزيکي او ټولنيزو ځانګړنو درلودونکي وي.

---

[1] https://www.nunn.asia/166212/%DA%81%D8%A7%D9%86%DA%AB%DA%93%DB%8C-%A7%D9%88-%D9%85%D9%84%D9%8A-%D9%87%D9%88%D9%8A%AA/

د نژادونو د سرچينې په اړه بېلابېلې تيورۍ شته. ډېری په دې اند دي چې د نژادونو سرچينه افريقا ده. دوی وايي چې لومړيو کې انسانان په افريقا، په تېره بيا شمالي افريقا کې اوسېدل. دا مهال په نړۍ کې (Interglacial) پېر و. دا هغه پېر وي چې د ځمکې د تودوخې درجه په‌کې ډېره لوړه وي. تر دې پېر وروسته بيا کنگل پېر (Ice Age) راځي. د دوی په اند لومړنيو انسانانو له افريقا څخه د اروپا شمالي برخې ته سفر وکړ، بله ډله آسيا، په تېره بيا هند ته لاړل، له دوی څخه ځينې په هند کې پاتې شول او ځينې چين او استراليا خوا لاړل. په دې انسانو کې ځينې شکلي بدلونونه راغلل؛ خو دا بدلونونه په افريقا کې ونه ليدل شول. په نورو ځايونو کې د تودوخې د درجې له مخې فزيکي بدلونونه وليدل شول، لکه د سترگو د رنگ بدلون، د پوستکي د رنگ تتبدل، د پوزې او وېښانو په بڼه کې بدلون.

تر دې وروسته يو ځل بيا کنگل پېر راغلی او مهاجرتونه پيل شوي. دا مهاجرين چې کله له تېرو مهاجرينو سره يوځای شول، نو دلته د نژادونو ترمنځ دوستۍ وشوې او نوي نژادونه رامنځته شول. له افريقا او نورو سيمو څخه چې هر څومره مهاجرتونه شوي، نوي نژادونه يې رامنځته کړي دي. په ټوله کې هغه فکتورونه چې د نژاد پر ارتقاء يې اغېز وښنده، موسمي، هورموني او بيولوژيکي بدلونونه، مهاجرت او داسې نور دي. دې فکتورنو د انسان په بڼه کې ځينې بدلونونه راوستل او بيا د همدې بدلونونو له مخې پوهانو نژادونه ډلبندي کړي دي.

جيورج کويير د پوستکي د رنگ له مخې د نژادونو ډلبندي کړې ده. ده درې نژادونه ښودلي دي؛ تورپستي (Ethiopian)، زېړ پوستي (Mongolian)، سپين پوستي (Caucasian). بريتانوي وگړپوه الفرېډ هيډن د وېښتانو د بڼې له مخې نژادونه ډلبندي کړي او نژادونه يې درې ښودلي؛ گلگوتي ويښتانو والا نژاد (Ultrochi)، سيده وېښتانو والا نژاد (Leiotrichi) او څپه‌ييزو ويښتانو والا نژاد (Cymotrichi). ځينو پوهانو لکه گريفټ بيا د سر د اندازې له مخې نژادونه ډلبندي کړي دي او ځينو نورو بيا د ژامې او د سترگو رنگ له مخې ډلبندۍ کړي دي.

موږ د نژاد په پېژندنه کې وويل چې دا د فزيکي ځانګړنو ټولګه ده؛ خو په ټوله کې دا نژادي ځانګړنې پر دوو ډولونو وېشلی شو؛ سطحي يا بهرنۍ ځانګړنې او داخلي ځانګړنې. په بهرنيو ځانګړنو کې د سترګو رنګ، قد، وېښتان او داسې نور راځي. په داخلي ځانګړنو کې بيا د وينې ګروپ، د سترګو او پوزې د خاليګاوو اندازه، د کوپړۍ اندازه او داسې نور شامل دي.

د توکم يا نژاد په اړه مو لږ و ډېر بحث وکړ، اوس به پر دې باندې خبرې وکړو چې توکميز هويت څه ته وايي او له ژبې سره يې تړاو څه دی.

**د ژبې او توکميز يا نژادي هويت ترمنځ تړاو:**

توکميز يا نژادي هويت د انسان د ټوليز هويت يوه برخه ده. دا هويت انسان په يوې ځانګړې نژادي ډلې پسې تړي او پر دې باندې بحث کوي چې دا نژادي تړاو څرنګه د ده پر شخصي، ټولنيز، ژبني او نورو هويتونو باندې اغېز ښندي. نژادي هويت هغو ځانګړنو او باورونو ته وايي چې يو فرد يا ډله په يوه نژاد پسې تړي. هويت دې پوښتنې ته ځواب وايي چې زه څوک يم او نژادي هويت بيا دې پوښتنې ته ځواب وايي چې زما نژاد څه دی يا زه د کوم نژاد درلودونکی يم؛ نو که يو څوک د هر نژاد څښتن وي، هماغه نژاد د ده نژادي هويت دی. لنډ داسې ويلی شو چې يو توکم په څه پېژندل کېږي، هماغه يې توکميز هويت دی. مخکې موږ د نژاد په اړه خبرې وکړې او د نژاد پر ډلبندۍ هم وغږېدو او دې ته مو هم اشاره وکړه چې پوهانو د څه پر اساس يو نژاد يا نژادي ډله له بله بېله کړې ده، د نژادونو همدې توپير بېلابېل نژادي هويتونه جوړ کړي دي.

ژبه د هويت په ساتنه کې بارز نقش لري. «د ژبې هويتي بحث که لږ نور هم وغځوو، نو بايد ووايم چې دا هېڅکله نه مسخه کېږي، آن که فرد خپله ژبه هم وبايلي، مګر بيا يې هم خلک هماغه ټبر او قوم ته منسوبوي، د نمونې په توګه: که پښتو ژبه ياده کړو، نو د هند په لويه وچه کې چې پښتنو لسګونه کاله واکمني کړې او نسلونه يې هلته مېشت وو/دي، اوسمهال يې نورې هندۍ قبيلې خانان او پټانان/پټان بولي،

که څه هم مطلق اکثریت یې پښتو ژبه هېره کړې او ممکن د ګوتو په شمېر کورنۍ یې په پښتو ژبه څه نا څه خبرې وکړای شي.» (۲: ۷۵)

ژبه یوازې د اړیکې ټینګولو وسیله نه ده، کله چې یو انسان غږېږي، مخاطب ته نامستقیم د ځان، کورنۍ، خپل شخصیت، زده کړو، اصلي ټاټوبي، هویت او نورو په اړه هم ډېر څه وایي. «په عبراني بایبل کې د ژبې او هویت په اړه یوه واقعه راغلې. دا د دوو قبیلو جِلعاد (Gilead) او افرایم (Ephraim) کیسه ده (د دې قبیلو د تاریخ او نومونو په اړه اختلافات شته دي چې دلته ورته نه تم کېږو). په دیارلسمې او یوولسمې مخزېږدې پېړۍ کې افرایمیانو پر جلعادیانو باندې برید وکړ؛ خو افریمیانو ماتې وخوړه. پاتې افرایمیانو پر اردن سیند پورې وتل او هڅه یې کوله چې بېرته خپل هېواد ته وتښتي؛ خو جلعادیان ورته په لاره کې کمین وو چې افرایمیان په ګوتو ورشي او وې وژني. کله به یې چې افرایمیان ونیول او پوښتنه به یې ترې وکړه چې آیا تاسو افرایمیان یئ؛ نو دوی به منکر شو. جلعادیانو به ورته وویل چې تاسو د «شیبولیت» کلمه ووایئ؛ خو هغوی «ش» سم تلفظولی نه‌شو او «سیبولیت» به ترې وویل شو، یعنې «ش» یې پر «س» وایه. جلعادیان به پوه شول چې دا افرایمیان دي او له تېغه به یې تېر کړل.

هغه څه چې د افرایمیانو له رازه یې پرده پورته کړه، د دوی سیمه‌ییز تلفظ و. د همدې په نتیجه کې انګلیسي ژبې ته د شیبولیت (Shibboleth) کلمه ورغله. دا کلمه له آره عبراني ده چې اصلي مفهوم یې روانه چینه یا د غلې د بوټي وږی دی؛ خو په معاصر پېر کې یې انګلیسي مانا معیار یا هغه نښه ده چې یو څه پرې له بله بېلېږي. البته په انګلسي ژبه کې دا کلمه پراخه شوې او ځینې نورې ماناوې هم لري، لکه هغه کلمه یا غږ چې پردۍ ژبې والا یې ادا نه‌شي کړلی او یو بل مفهوم ترې جوړ شي، یعنې د تلفظ یا ګړدود خاص طرز. همداراز، هغه دود و رواج ته هم ویل کېږي چې یوه ځانګړې ډله پرې پېژندل کېږي.» (۱: ۱۷۱-۱۷۲)

هر انسان د يوه نژاد درلودونکی دی؛ خو نن سبا نژادونه نږه پاتې نه‌دي. د نژادونو ترمنځ خپلوي او مهاجرتونه د دې لامل شوی چې نژادونه سره ګډ شي. نژادي هويتونه هغه وخت رامنځته شول چې خلکو د فزيکي ځانګړنو له مخې انسانان سره ووېشل، د دوی د دې کار موخه دا وه چې انسانان لا ښه وپېژني؛ خو د وخت په تېرېدو نژادي هويتونو بېخي بل لوری غوره کړ. ځينو نژادي هويتونو ته داسې ځانګړنې منسوبې شوې چې هېڅ بيولوژيکي اساس يې نه درلود. د بېلګې په توګه، تورپوستو يا افريقايي-امريکايي وګړو ته لټان، خاينان، غلامان، وروسته پاتي، بدرنګ او نورو ووېل شول. له همدې نژادي تبعيضونو څخه نژادپالنه (Racism) منځته راغله او له دې اصطلاح څخه تر ډېره سياسي استفاده وشوه. «د نژادپالنې کلمه خپله تاريخي مخينه لري. دې کلمې زموږ ورځنيو خبرو ته هم لاره کړې. نژادپال اوس مازې يو ستاينوم نه دی، بلکې يو منفي مانيز بار هم پر اوږو وړي. اوس نژادپال پر نژادي تبعيض کوونکي سربېره هغه چا ته هم کارېږي چې له نژاد پرته په نورو برخو کې تبعيض کوي.» (۸: ۸۲)

د شلمې پېړۍ په پای او د يوويشتمې پېړۍ په لومړيو کې چې د جينيټيک علم پرمختګ وکړ، د نژادپالو بازار سوړ شو؛ ګنې پخوا داسې تصور موجود و چې له نژادي ځانګړنو څخه د انسانانو چلن هم معلومولی شو، حال دا چې دا خبره سمه نه ده. که تاسو د موبايل له لارې له يوه اسيايي سره غږېږئ او ليدلی مو نه وي، تاسو يې له خبرو څخه نژاد معلومولی نه‌شئ؛ خو په دې هم سترګې پټولی نه‌شو چې د نژادي ډلو خپلمنځي اړيکو کې تبعيض موجود دی. ښه بېلګه يې د سپين پوستو او تور پوستو شخړې او اختلافات دي.

دې نژادي تبعيض ژبې ته هم لاره وکړه، ځکه چې ژبه يوه ټولنيزه پديده ده او څه چې په ټولنه کې وي، هرومرو ژبې ته هم ورننوځي. «په يوه ټولپوښتنه کې کابو درې زره خلکو څخه د هغه څه په اړه پوښتنه شوې وه چې دوی ورته ډېر اندېښمن دي. له دې څخه يوه اندېښنه چې خلکو څرګنده کړې وه، ژبه وه. ځينې نورې

اندېښنې هم وي، لکه په ټولنه کې نابرابري، فساد، تعصب، زده کړو ته نه لاسرسی، اقتصادي ستونزې او داسې نور؛ خو څرګنده ده چې ژبه په دې ټولو ستونزو او اندېښنو کې ونډه لري. د خلکو د خبرو دود د دولتونو پر پالیسو هم اغېز ښندي او د نژادپالنې په څېر ستونزې او شخړې رامنځته کولای شي. دولتونه ډېری وخت له ژبې څخه د وسلې کار اخلي، کمزوري پرې ځپي او یا یې دې ته چمتوي کوي چې د دوی واکمني ومني.» (۱۰: ۲)

هر نژاد پر نژادي هویت سربېره ژبنی هویت هم لري. د نژادونو ترمنځ نااندولي د دې لامل شوې چې د یوه نژاد ژبه پر بل اغېز وښندي یا د نژادي تبعیض له مخې ټیټ نژاد والا د لوړ نژاد تقلید وکړي. په دې کې ژبنی تقلید هم راځي. همداراز، هغوی چې له نژادي تبعیض څخه کړېږي، له دې تبعیض څخه تل په خپلو لیکنو او ویناوو کې سر ټکوي. رابرټ موګابې د زمبابوې ولسمشر و، دی وایي:

«نژادپالنه (Racism) به تر هغې پورې پای ته ونه رسېږي، څو چې سپین موټرونه تور ټیرونه لري؛ نژادپالنه به تر هغې پای ته ونه رسېږي، چې خلک لا هم تور رنګ د بدمرغۍ او سپین د سولې د سمبول په توګه کاروي؛ نژادپالنه به تر هغې پای ته ونه رسېږي، چې خلک لا هم سپین کالي په ودونو او تور کالي په جنازو کې اغوندي؛ نژادپالنه به تر هغې پای ته ونه رسېږي، چې څوک خپل بیلونه په وخت ادا نه کړي، تورلیست کې اچول کېږي، نه سپین لیست کې؛ نژادپالنه به تر هغې پای ته ونه رسېږي، چې مور لومړی سپین او بیا نور کالي مینځو؛ آن د سنوکر په لوبه کې هم تاسو تر هغې لوبه ګټلی نه‌شئ؛ څو چې تور بال مو خانې ته غورځولی نه‌وي او سپین بال د مېز پر سر پاتې نه‌وي... .»[۱]

په ټولنه کې چې تبعیض موجود وي، څرګنده ده چې دا تبعیض ټولنیزو کړو وړو ته هم لاره کوي. د موګابې په څېر ځینې تور پوستي لا آن دا هم وایي چې توره تخته

۱ -http://www.indiatoday.in/india/story/robert-mugabe-zimbabawen-president-best-qoutes-10910639-2017-11-22

او سپين تباشير نژادي تبعيض دی؛ يعنې توره تخته منفعله ده او سپين تباشير فعال دی او څه يې چې په زړه وي، هغه ورباندې ليکي. په انگلسي ژبه کې د بليک ميل، بليک ليست، تورې پيسې او داسې نورې کلمې، چې منفي مانا وې لري، د دوی په اند چې د همدې نژادي تبعيض پر اساس ورننوتي دي.

په ټوله کې د ژبې او توکميز هويت د تړاو په اړه ويلی شو چې:

- هر توکم د خپلو نورو هويتونو ترڅنگ يو ژبنی هويت هم لري چې د دوی په پېژندگلوي کې بنسټيزه ونډه لري.
- ژبه د يوه توکم په هر هويت کې ځای لري، هغه که د دوی ملي، قومي، جغرافيايي، ديني هويتونه دي او که نور.
- هر توکم يو فرهنگ لري او ژبه د دې فرهنگ د انتقال يوه وسيله ده.
- په نژادي توپيرونو کې يو مهم فکټور اقليم و جغرافيه ده، د سړو او تودو سيمو د اوسېدونکو په ظاهري بڼه، د خوړو او پوښاک په انتخاب او نورو برخو کې توپير وي. دا توپيرونه ژبې ته هم لاره کوي. د سړو سيمو خلکو ژبه او وييزه زېرمه د گرمو سيمو والاوو سره توپير کوي. دوی ممکن د ځان گرمولو لپاره ډېر وسايل ولري او دې وسايلو ته په خپله ژبه کې کلمې ولري؛ خو د گرمو سيمو والا بيا د نورو مفاهيمو لپاره نورې کلمې لري.
- د بېلابېلو نژادي هويت لرونکو ترمنځ ارزښتونه هم توپير کوي او د دې ارزښتونو د بيان لپاره يوه وسيله ژبه ده.
- په هغو هېوادونو کې چې نژادي تبعيض وي، دا تبعيض يې ژبې ته هم لاره کوي، چې مخکې مو پرې خبرې وکړې.
- د يوه نژاد يا قوم ژبوژنه، په اصل کې د دوی د نژادي او قومي هويت وژنه ده، ځکه خو ويل کېږي چې «په نړۍ کې د يوه ملت او ولس له نسلوژنې وروسته بله وژنه دا ده چې ژبه يې له منځه لاړه شي، يا د کمپيوټر په اصطلاح نسلوژنه د انسانانو هارډ مرگ او ژبوژنه يې سافټ مرگ دی.» (٦: ٦)

- ډېر کله یو توکم له بل سره د توکمیز هویت پر اساس اړیکې پالي او ژبه بیا د اړیکو د پاللو او د احساساتو د تبادلې یوه مهمه وسیله ده.
- که موږ د یوه قوم توکمیز هویت معلوموو، ژبنیو موادو ته یې مراجعه کوو، ځکه همدا ژبه ده چې د انسان د هویت بېلابېلې برخې په‌کې پټې دي.
- هر توکم په خپله ژبه کې ځینې داسې کلمې، متلونه او اصطلاحات لري چې د دوی تحصیلي او توکمیز هویت ترې ښه رابرسېره کېږي.
- توکمونه مختلط شوي او په اوس وخت کې موږ نږه توکمونه پیدا کولای نه‌شو، دې مختلط کېدو د دوی پر ژبو او فرهنګ باندې هم اغېز کړی دی.
- له بېلابېلو توکمنو والاوو سره د خلکو چلن هم توپیر کوي او په دې کې ژبنی چلن هم راځي.
- ژبه د توکمونو ترمنځ اتحاد راولي.

د یوې ژبې په پېژندلو کې له توکمیز هویت او برعکس د یو توکم په پېژندلو کې د هغوی له ژبني هویت څخه ګټه اخیستل کېږي.

**پایله**

توکمیز یا نژادي هویت د انسان د ټولیز هویت یوه برخه ده. هر نژاد پر نژادي هویت سربېره ژبنی هویت هم لري. هویت دې پوښتنې ته ځواب وایي چې زه څوک یم او نژادي هویت بیا دې پوښتنې ته ځواب وایي چې زما نژاد څه دی یا زه د کوم نژاد درلودونکی یم؛ نو که یو څوک د هر نژاد څښتن وي، هماغه نژاد د ده نژادي هویت دی. د نژادونو په اړه بېلابېل نظریات دي، ځینې خلک قوم او نژاد د یو بل پر ځای کاروي؛ خو په ټوله کې نژادونه هغه فزیکي ځانګړنې دي چې له مخې یې یو انسان یا قوم له بله توپیرېږي. د توکمیز هویت په پېژندنه کې ژبه هم نقش لري. که موږ د یوه قوم توکمیز هویت معلوموو، ژبنیو موادو ته یې مراجعه کوو، ځکه همدا ژبه ده چې د انسان د هویت بېلابېلې برخې په‌کې پټې دي. همدا راز، د یوې ژبې په پېژندلو کې له توکمیز هویت څخه هم ګټه اخیستل کېږي. د شلمې پېړۍ په پای او د یوویشتمې پېړۍ په لومړیو کې چې د

جينيټيک علم پرمختګ وکړ، د نژادپالو بازار سوړ شو؛ ګنې پخوا داسې تصور موجود و چې له نژادي ځانګړنو څخه د انسانانو چلن هم معلومولی شو، حال دا چې دا خبره سمه نه ده. همدې نظريې نژادي تبعيض يا نژادپالنې ته لاره هواره کړه او دا تبعيض په ژبه کې هم راښکاره شو؛ ځکه چې ژبه يوه ټولنيزه پديده ده او څه چې په ټولنه کې وي، هرومرو ژبې ته هم ننوځي. همدا ژبه ده چې د يو نژاد فرهنګ، دودونه، ارزښتونه، د سواد کچه او ګڼ نور موارد پرې معلومولی شو.

## مأخذونه


۱ـ پاريکھ، رؤف. لسانيات کے بنيادی مباحث، سيټي بوک پواينټ : کراچی، ۲۰۲۳ز.

۲ـ تکل، خالد. په مورنۍ ژبه زده کړه او پر زده کوونکو يې اغېزې، کابل مجله (۳-۴) ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۴۰۲ل.

۳ـ ځدراڼ، محمد شريف. واحد افغان ملت د تاريخ په رڼا کې، چهاردي صنعتي مطبعه: کابل، ۱۴۰۲ل.

۴ـ خالدي، نور احمد. (ځانګړې او ملي هويت)، ژباړن: سيلان، سيالاني. د خپرېدو نېټه: ۳۱/ مئی/ ۲۰۲۰، لاسرسی:
https://www.nunn.asia/166212/%DA%81%D8%A7%D9%86%DA%AB%DA%93%DB%8C-%A7%D9%88-%D9%85%D9%84%D9%8A-%D9%87%D9%88%D9%8A%D8%AA/ اخيستنه: ۵/ ثور/ ۱۴۰۴ل

۵ـ ښکلی، اجمل. ژبه او پېژندګلوي، ورمه ژورنال (پرله‌پسې ۱۲۹مه) ګڼه، د کابل پوهنتون مطبعه: کابل، ۱۴۰۳ل.

۶ـ ښمر، ايمل. يوويشتمه پېړۍ او د ژبو پايښت، د افغانستان د خپلواکۍ د بيرته اخيستلو د سلم کال په وياړ: کابل، ۱۳۹۸ل.

۷ـ فکوهی، ناصر. تاریخ اندیشه و نظریه‌های انسان‌شناسی، نشر نی: تهران، ۱۳۸۱ل.

۸ـ موگابي، رابرټ. (Mugabe's famous speech about Racism)، د خپرېدو نېټه: ۱۸/ جون/ ۲۰۱۸، لاسرسی: https://venasnews.co.ke/2018/06/18/mugabes-famous-speech-about-racism/ اخیستنه: ۵/ ثور/ ۱۴۰۴ل.

9_ Banton, Michael. What we know about Race and Ethnicity. Berghahn Books: New York, 2018.

10_ Golsh-boza, Tanya Maria. Race and Racisms: A Critical Approach. Oxford University press: New York, 2015.

11_ H. jones, Rodney and Christiana Themistocleous. Introducing Language and Society. Cambridge University press: UK.